# فقه المبتدي

## معاملات

(د بيع ، اجارې ، شراکت ، کفالت ، وکالت او داسي نور احکام)

دريم ټوک

(۳)

مؤلف :

مولوي محمد عمر (خطابي)

www.taleemulislam.net

خپرونکې اداره :

خطابي دارالاشاعة

سبحانه وتعالی

# معاملات

# فقه المبتدي

## دریم (۳) ټوک

مؤلف :

مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکی اداره :

خطابي دار الاشاعة

کندهار افغانستان

اړیکه :

۰۷۰۳۰۵۰۷۰۰

Download from: aghalibrary.com



www.taleemulislam.net

# دکتاب پېژندنه

د کتاب نوم :      فقه المبتدي

مؤلف :      مولوي محمد عمر خطابي

خپرونکی اداره : خطابي دارالاشاعة کندهار افغانستان

د چاپ کال :      ۱۳۹۰

د چاپ وار :      لومړی چاپ

د چاپ شمېره :      ۱۱۰۰ ټوکه

د تعليم الاسلام ويب پاڼي لخوا پر ليکه کيږي:

www.taleemulislam.net

Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د نصاب په اړه څرګندوني

که څه هم عربي ژبه د ديني زده کړو د پاره تر ټولو مهمه او هم په علمي زېرمو بډايه ژبه ده ځکه قرآن او نبوي احاديث په عربي دي او همدا راز د څوارلسو پيړيو څخه د ديني علومو په هر فن او هر اړخ کي بې شمېره او ډېر ارزښتناکه کتابونه په عربي ژبه ليکل سوي او چاپ سوي دي .

خو د علم زده کړه تدريجي ده ، د عجمو هر ماشوم لکه پښتانه او داسي نور دې ته اړتيا لري چي د زده کړي په ابتدايي مرحله کي په خپله مورنۍ ژبه ديني عقايد ، احکام او مسايل ، اسلامي اخلاق او آداب ور وښوول سي ، څه مهال چي عربي ژبه هم څه ناڅه ولولي او ديني احکام او مسايل هم تر يو حده په خپله مورنۍ ژبه ورته وښوول سي وروسته بيا د عربي ژبي ارزښتناکه کتابونه ورته تدريس سي .

زما په آند د ديني مدارسو د پاره لازمه ده چي د عربيه درجو څخه مخته شپږ کلنه ابتدائيه دوره ولري ، په ابتدائيه دوره کي لاندي مضمونونه زما په آند ډېر حتمي او لازمي دي :

۱ – د قرآن کريم تلاوت ، قرائت او تجويد .

۲ – په مورنۍ ژبه عقايد ، اسلامي اخلاق او آداب ،

۳ – په مورنۍ ژبه اسلامي احکام او مسايل .

۴ – عربي ژبه په دونه اندازه چي هم ورځنۍ مکالمه په وکړای سي او هم د عربيه درجو د لوست وړتيا په پيدا کړي ، د العربية بين يديک نړيواله سلسله که پر څو متوازينو برخو ووېشل سي او د ابتدايې دورې په وروستيو دوو يا درو کلنو کي تدريس سي دا به ان شاء الله په عربي ژبه د ورځنۍ مکالمې د زده کړي د پاره پوره کفايت وکړي

۵ – د پښتو ليک ، لوست ، املاء او انشاء .

٦ – رياضي يعني حساب او هندسه .


Download from: aghalibrary.com
www.taleemulislam.net

۷ – د دې تر څنګ په ضمني ډول ځيني عربي فقهي او ادبي کتابونه د عربيه درجو د پاره د استعداد مندلو د پاره ور سره تدريس سي .
۸ – همدا راز د انګريزي ليک ، لوست او د مکالمې ښوونه هم د پام څخه و نه غورځل سي ځکه د عالمي دعوت ، د کمپوټر د زده کړي او هم د نورو هيوادونو د وګړو سره د تجارتي ، سياسي او علمي افهام او تفهيم د پاره انګريزي ژبه زښت زيات اهميت لري .
۹ – دغه ډول دري ژبي ته ، تاريخ او جغرافيې ته هم د ابتدائيه دورې په نصاب کي څه ناڅه ځای ورکول سي .
ځکه دا يو ښکاره حقيقت دی چي په ابتدائيه دوره کي موږ دوې طبقې طلباء لرو ، يوه طبقه يې هغه طلباء دي چي هغوی عربي درجې هم پسي لولي آن تر دې چي يو شمېر يې تر دورة الحديث او تخصص پوري خپل علمي سير ته ادامه ورکوي ، د دغي طبقې شمېر د فيصدۍ له مخي ډېر لږ دی خو دا لږ يې هم ډېر دي .
دوهمه طبقه هغه طلباء دي چي پر ابتدائيه دوره زده کړه پای ته رسوي د دنيا په کاروبار مشغوليږي ، د دغي طبقې شمېر د فيصدۍ له مخي ډېر زيات دی .
نو د همدې کبله د ابتدائيه دورې تعليمي نصاب بايد دا ډول ترتيب او وټاکل سي چي دواړي طبقې ځني مستفيد سي يعني و عربي درجو ته د ارتقاء کونکو طلباؤ د استعداد بنسټ او اساس هم په مضبوط سي او کوم طلباء چي په ابتدائيه دوره کي د مدرسې څخه رخصت اخلي د ژوندانه په چارو کي لګيا کيږي هغوی هم دومره څه پکښې زده کړي چي د دين او دنيا د پاره ورته اړين او ضروري وي .
په ابتدائيه دوره کي د اول صنف څخه نيولې بيا تر شپږم صنف پوري يو مهم مضمون د فقهي دی ، د فقهي د مضمون څخه يوازي د عباداتو اړخ لکه د لمانځه ، زکات ، روژې او د حج احکام مراد نه دي بلکي بشپړه فقه مو مراد ده ځکه لکه څه ډول چي د عباداتو زده کړه د هر مسلمان د پاره ضروري ده دغه ډول هر مسلمان د نکاح ، معاملاتو او داسي نورو مسايلو و زده کړي ته هم اړتيا لري ځکه د نکاح او معاملاتو څخه يو لا هم چاره نه لري .

د ابتدائیه دورې د فقهي د مضمون د پاره موږ د لومړي صنف د پاره اسلامیات د دوهم صنف د پاره هداية الاطفال ترتیب کړی دی او د دریم صنف څخه بیا تر شپږم صنف پوري مو فقه المبتدي ورته ټاکلی دی ، د فقه المبتدي لومړی ټوک چي لا مخته تصنیف او چاپ سوی دی په دریم صنف کي تدریسیږي په لومړي ټوک کي د لمانځه ، زکات ، روژې او حج احکام بیان سوي دي .
د فقه المبتدي دوهم ټوک د څلورم صنف د پاره په نظر کي نیول سوی دی ، پدې ټوک کي د نکاح اړوند تقریبا هر اړخیزه معلومات په لنډ ډول بیان سوی دی او د نکاح څخه علاوه پر نورو اړینو موضوع ګانو هم بحث سوی دی .
د فقه المبتدي دریم ټوک معاملات چي همدا اوس ستاسو په لاس کي دی د پنځم صنف د پاره په پام کي نیول سوی دی ، الله دي توفیق راکړي چي د فقه المبتدي څلورم ټوک یعني آخري ټوک یې قضاء او میراث د شپږم صنف د پاره هم تصحیح او چاپ کړو .
د فقه المبتدي څلور واړه ټوکه د ابتدائیه دورې د فقهي د مضمون داسي بنسټیز کتابونه دي چي د طلباؤ دواړي طبقې نهایي زیاته استفاده ترې کولای سي .
څکه کوم کسان چي پر ابتدائیه دوره زده کړه پای ته رسوي هغوی به پخپله مورنۍ ژبه بشپړه فقه لوستې وي هم به د لمانځه زکات ، روژې او د حج د احکامو څخه خبر وي او هم به د نکاح ، معاملاتو ، د قضاء او میراث په مسایلو تر ډېره حده خبر سوي وي .
کوم طلباء چي عربیه درجې پسي لولي نو هغوی ته به هم د فقه المبتدي په لوستلو سره د فقهي د بنسټیزو عربي تدریسي کتابونو لوستل لکه مکمله قدوري ، مکمل کنزالدقایق ، د مکملي هدایې لوستل ډېر اسانه کیږي .
الله دي وکړي چي د ابتدائیه دورې د نورو مضامینو د پاره هم د فقه المبتدي په شان کتابونه ومندل سي څو د ابتدائیه دورې د پاره داسي یو نصاب ولرو چي د مسلمان ولس د هغو غوښتونو او هیلو د پوره کولو د پاره چي د خپلو ماشومانو د راتلونکي په

هکله يې لري پوره متکفل او ضمانت کونکی وي او د طلباؤ د هر اړخيزي پوهي جواهرات پکښي نغښتي وي .

د دا ډول نصاب ځانګړ تياوي په لنډ داسي بيان کولای سو ، چي د ابتداييه دورې د پاره بايد دا ډول نصاب ترتيب سي چي هم و عربيه درجو ته د ارتقاء او پورته کېدلو د پاره د متوازينو زينو کار ورکړي ، طالب العلم د علم و چت ته په ډېره اسانتيا ځان پر پورته کړای سي او هم هغه طلباء چي درې ، څلور يا نهايي شپږ کاله درس وايي او بيا درس ځني پاتيږي د دنيا په کاروبار اخته کيږي هغوی هم د دين او دنيا د پاره اړين او ضروري معلومات پکښي حاصل کړای سي .

داسي نصاب چي په هغه کي يوازي ليک ، لوست ، پښتو ، حساب ، انګريزي ژبه ، تاريخ ، جغرافيه او مسلکي زده کړو ته اهميت ورکول سوی وي او ديني اړخ يې فلج وي ، ديني مضامينو ته يا خو بيخي ځای پکښي ورکول سوی نه وي ، يا تش په نامه د مسلمانانو د تېر ايستني د پاره په اونۍ کي يو تعليمي ساعت ځای ورکول سوی وي زموږ په اسلامي ټولنه کي نه د خلکو علمي تنده ماتولای سي او نه د زده کړي په ډګر کي د خلکو حقه غوښتونو ته جواب ويلای سي

دغه ډول هغه نصاب هم ډېر ناقص او نيمګړی دی چي ليک ، لوست ، پښتو ، حساب او د عربي او انګريزي ژبو د خبرو اترو زده کړه هيڅ ځای نه پکښي لري او د ضرب ضربا ضربوا څخه يې تعليم پيل کيږي ، اسلامي آداب او اخلاق په دري ژبه ، عقايد او احکام په عربي ورته تدريسيږي ، پداسي حال کي چي طالب العلم يې د ما اسمک ؟ او اسم شما چيست ؟ په معنا لا هم نه پوهيږي .

دا ډول نصاب نه تنها د دنيوي اړخ څخه ناقص او فلج دی بلکي د ديني اړخ څخه هم پدې لحاظ ناقص دی چي که د طالب العلم څخه زده کړه پر نيمه لار پاته سي نو دا کس بېله د ضرب ضربا ضربوا شفاهي ګردان څخه بل هيڅ شی د ځان سره نه وړي ځکه اسلامي آداب او اخلاق په دري ژبه ورته تدريس سوي دي او احکام او مسايل په عربي ژبه ورته تدريس سوي دي ، دا مضامين که څه هم مهم ، ښکلي او زړه وړونکي دي خو خبره دا ده چي وايي : يار من ترکی است من ترکی نمي دانم .

د ناقص نصاب ځيني نيمګړ تياوي د نمونې په ډول لاندي ذکرو کوو څو و اصلاح ته يې متوجه سو ، اصلاح يې دا ده چي طالبانو ته د هغوی په ژبه او د هغوی د استعداد برابر ورېغيږو ، د تدرسي کتابونو هغه فصل او باب چي طالب العلم ته يې د هغه د سن او سال لکبله بيانول مناسب نه وي يا يې فهمولای نسي او ياد طلباؤ د پاره تر هغه نور څه مهم وي هغه برخه يې هم تدريس نسي البته د کتاب نوري برخي يې تدريس سي .

تر هغه مهاله چي طالب العلم دري کتاب په لفظ ويلای نسي نو تدريس يې بې معنا دی .

د بوستان او ګلستان په پيل کي د اتابک د مدح او ستايني د کيسو لوستلو ته طلباء اړتيا نه لري د مقصودي ځای څخه بايد کتاب پيل سي

په قدوري او کنز کي ماشومانو ته د حيض او نفاس برخه تدريس نه سي همدا ډول د کتاب الاعتاق څخه هم ګام واړول سي ځکه دا ټول د غټانو طالبانو خبري دي .

په کتاب کي نغښتي د دا ډول عبارتونو :

إِنْزَالُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ مِنْ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَة معنا بيانول ډېره ادبي او محتاطانه ژبه غواړي ، بربنډ او عميق بيانول يې د ماشوم د پاره ور کار نه دی .

د مروجو منل سو کتابونو په تدريس کي پورتني اصلاحات ځکه اړين دي چي طالب العلم چي کريما بخشای بر حال ما که هستم اسير کمند هوا په لفظ لا هم صحيح تلفظ کولای نسي نو پدې صدف کي د نغښتي ملغري په معنا بيا کله پوهېدلای سي .

طالب العلم چي د خپل رسول سپېڅلی نسب ، سپېڅلې کورنۍ او سپيڅلي ملګري لا هم نه پيژني د اتابک د کيسې څخه به څه زده کړي؟ او دا پداسي حال کي چي د اتابک په کېسه د کتاب مقصودي برخه هم نيمګړي ځني پاتيږي .

طالب العلم چي هم يې عمر د لسو کلنونو په شاوخوا کي وي او هم يې تر اوسه د بيت الخلاء آداب او اخلاق لا هم زده نه وي ، مخ پر قبله قضای حاجت پوره کوي ، په ولاړي ، په عامو لارو کي ، آند تردې د خلکو د بندو دروازو مخ ته تش رګ وهي دا ډول طالب العلم د حيض او نفاس و مسايلو ته څه اړتيا لري ؟ کله يې په مقصد

پوهیږي ؟ څه ډول اخلاق به ځني زده کړي ؟ نابالغه ماشوم ته د إِنْزَالُ الْمَنِيِّ عَلَى وَجْهِ الدَّفْقِ وَالشَّهْوَةِ معنا په صراحت او تفصیل سره بیانول د بداخلاقی د پیغام څخه پرته بل څه د ماشوم و ذهن ته انتقالوي ؟ الله جل جلاله دي د استادانو په ځانګړي ډول د مدارسو د مسؤلینو په زړونو کي د وړ ، بنسټیز او مفید تعلیمي نصاب تلوسه او احساس پیدا کړي او پدې ډګر کي چي څه ډول اصلاحاتو ته اړتیا سته د هغه ډول اصلاح را وستلو توفیق دي الله ورته ورکړي .

موږ ته دي هم الله توفیق راکړي چي خپلي هڅي په دې د ویاړ وړ علمي ډګر کي ګړندۍ کړو ، د ابتدائیه دورې د پاره ښه په زړه پوري مفید او ګټور کتابونه خپلي اسلامي پښتني ټولني ته وړاندي کړو څو د خپلو اولادونو د علمي بڼ د هیلو غټې یې په ګل سي او د علمي تندي د پاره یې د کوثر د جام په شان لذیذ او تنده ماتونکي وګرځي .

و من التوفیق و به نستعین .

# فهرست


| شماره | سرلیک | مخ | شماره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د پیل خبري | ۳ | ۲٤ | د ایجاب لغوه کېدل | ۳۱ |
| ۲ | ځیني عام اصطلاحات | ۴ | ۲٥ | وکالت او وصیت | ۳۲ |
| ۳ | رکن | ٥ | ۲٦ | د عاقد اهلیت | ۳۳ |
| ٤ | شرط | ٦ | ۲۷ | اهلیت نه لرونکي | ۳۴ |
| ٥ | ایجاب او قبول | ۸ | ۲۸ | غیر مُمَیِّز کوچنی | ۳٥ |
| ٦ | ایجاب | ۸ | ۲۹ | نیمگړی اهلیت والا | ۳٦ |
| ۷ | قبول | ۸ | ۳۰ | د ښکاره گټې تړون | ۳۷ |
| ۸ | د ایجاب او قبول صیغې | ۹ | ۳۱ | د ښکاره تاوان تړون | ۳۸ |
| ۹ | زمانې | ۹ | ۳۲ | د گټې او تاوان ناڅرگند تړون | ۳۹ |
| ۱۰ | مُضَارِع | ۱۰ | ۳۳ | راشد | ۳۹ |
| ۱۱ | ماضي | ۱۱ | ۳٤ | ولي | ۴۰ |
| ۱۲ | مُضَارِع | ۱۳ | ۳٥ | د ځاني ولي مسؤلیت | ۴۲ |
| ۱۳ | ځانگړې نښې | ۱٦ | ۳٦ | تړون کونکي | ۴۳ |
| ۱٤ | امر | ۱۹ | ۳۷ | اصیل | ۴۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٥ | د نکاح تړون | ٢٠ | ٣٨ | وکيل | ۴۴ |
| ١٦ | ضمني ايجاب او قبول | ٢١ | ٣٩ | ولي | ۴۴ |
| ١٧ | اشاره او نوشته | ٢٢ | ٤٠ | فضولي | ۴۵ |
| ١٨ | تَعَاطِي | ٢٣ | ٤١ | بيع | ۴٦ |
| ١٩ | د ايجاب او قبول شرطونه | ٢٥ | ٤١ | خرڅول او رانيول | ۴٦ |
| ٢٠ | د مراد وضاحت | ٢٦ | ٤٢ | د بيع رکن | ۴٦ |
| ٢١ | مطَابَقَت | ٢٧ | ٤٣ | ايجاب او قبول | ۴٧ |
| ٢٢ | د مجلس يو والي | ٢٨ | ٤٤ | خيار قبول | ۴٨ |
| ٢٣ | د مجلس بدلون | ٣٠ | ٤٥ | د سودا لزوم | ۴٨ |
| **شماره** | سرليک | **مخ** | **شماره** | سرليک | **مخ** |
| ٤٦ | بَيْعُ التَعَاطِي | ۴٩ | **٦٩** | د مشتري د لاس عيب | ٨٥ |
| **۴٧** | ليک او قاصد | ٥٠ | ٧٠ | په مَبِيعَه کي زياتوب | ٨٦ |
| **۴٨** | اصطلاحات | ٥١ | ٧١ | مَبِيعَه له منځه تلل | ٨٦ |
| **۴٩** | د بيع شرطونه | ٥٢ | ٧٢ | مَبِيعَه لاس پر لاس کېدل | ٨٧ |
| **٥٠** | د بيع د انعقاد شرطونه | ٥٣ | ٧٣ | اقاله | ٨٨ |
| **٥١** | د بيع د صحت شرطونه | ٥٧ | ٧٤ | د اقالي ثواب | ٩٠ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۲ | د مَبِیعِ او ثمن معلومول | ۵۹ | ٧٥ | سود | ۹۱ |
| ۵۳ | عمومي قاعده | ٦۰ | ٧٦ | قَدرٰ | ۹۱ |
| ۵۴ | مَبِیعَه او ثمن څنګه معلومیږي ؟ | ٦۰ | ٧٧ | مَكِیل او مَوزُون | ۹۱ |
| ۵۵ | اصل او وصف | ٦۳ | ٧٨ | تفَاضُل | ۹۳ |
| ۵٦ | د اصل او وصف پیژندل | ٦۴ | ٧٩ | تَقَابُض | ۹۳ |
| ۵٧ | د بیع د نفاذ شرطونه | ٦٦ | ٨٠ | علت | ۹۴ |
| ۵٨ | د بیع د لازمېدلو شرطونه | ٧١ | ٨١ | د سود حكم | ۹۵ |
| ۵۹ | خِیَارات ثلاثه | ٧٢ | ٨٢ | د ربَا پیژندنه | ۹۵ |
| ٦۰ | خیار شرط | ٧۳ | ٨۳ | سودي مالونه | ۹٦ |
| ٦۱ | د خیار مده | ٧۳ | ٨٤ | د سود علت | ۹۹ |
| ٦۲ | د خیار حكم | ٧۴ | ٨٥ | د بیع ډولونه | ۱۰۲ |
| ۳ | خیار رویت | ٧٦ | ٨٦ | باطله بیع | ۱۰۵ |
| ٦۴ | د خیار رویت حق | ٧٧ | ٨٧ | د باطلي بیع حكم | ۱۰۵ |
| ٦۵ | د خیار رویت ساقطېدل | ٧٧ | ٨٨ | فاسده بیع | ۱۰٦ |
| ٦٦ | د راندہ خیار رویت | ٨۰ | ٨۹ | د فاسدي بیع حكم | ۱۱۱ |
| ٦٧ | خیار عیب | ٨۲ | ۹۰ | ممنوعه سوداوي | ۱۱۲ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ٦٨ | د عیب پېژندنه | ٨٢ | ٩١ | اِحتِکار | ١١٥ |
| شماره | سرلیک | مخ | شماره | سرلیک | مخ |
| ٩٢ | د اِحتِکار مده | ١١٦ | ١١٦ | مالي کفالت | ١۴٦ |
| ٩٤ | د مُحتَکِر د مال پلورل | ١١٧ | ١١٧ | د مالي کفالت پای | ١۴٩ |
| ٩٥ | تسعیر | ١١٨ | ١١٧ | ځاني کفالت | ١٥٠ |
| ٩٦ | د ګټې او تاوان سودا | ١١٩ | ١١٩ | د ځاني کفالت پای | ١٥١ |
| ٩٧ | مُسَاومة | ١١٩ | ١٢٠ | حواله | ١٥٣ |
| ٩٨ | وَضِیعَة | ١١٩ | ١٢١ | د حوالې رکنونه | ١٥۴ |
| ٩٩ | تَولِیَة | ١١٩ | ١٢٢ | د حوالې شرطونه | ١٥٦ |
| ١٠٠ | مُرَابَحة | ١٢٠ | ١٢٣ | د حوالې حکم | ١٥٧ |
| ١٠١ | د مُرَابَحې تفصیل | ١٢٠ | ١٢٤ | د حوالې ردېدل | ١٥٨ |
| ١٠٢ | تَولِیَةٌ | ١٢٢ | ١٢٥ | د حوالې او کفالت فرق | ١٥٩ |
| ١٠٣ | مثلي او قِیَمِيّ | ١٢۴ | ١٢٦ | سَفتَجَة | ١٦٠ |
| ١٠٤ | بیع د مبیعې په اعتبار | ١٢٦ | ١٢٧ | اصطلاحات : | ١٦١ |
| ١٠٥ | صرف | ١٢٧ | ١٢٨ | وکالت | ١٦۴ |
| ١٠٦ | د سیکې کوټه کېدل | ١٣٠ | ١٢٩ | د وکالت رکن | ١٦٥ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۷ | سلم | ۱۳۱ | ۱۳۰ | د اجورې وكالت | ۱٦۷ |
| ۱۰۸ | مِثلِيّات | ۱۳۱ | ۱۳۱ | د مُوكِّل شرطونه | ۱٦۷ |
| ۱۰۹ | د سلم شرطونه | ۱۳۳ | ۱۳۲ | مُمَيِّز كوچنى | ۱٦۹ |
| ۱۱۰ | عمومي قاعده | ۱۳٦ | ۱۳۳ | د وكيل شرطونه | ۱۷۰ |
| ۱۱۱ | تر قبض وړاندې تصرف | ۱۳۷ | ۱۳٤ | د مُوكَّل بِهِ شرطونه | ۱۷۱ |
| ۱۱۲ | استصناع | ۱۳۸ | ۱۳٥ | د وكالت ډولونه | ۱۷۴ |
| ۱۱۳ | د استصناع شرطونه | ۱۳۹ | ۱۳٦ | عام وكالت | ۱۷۴ |
| ۱۱٤ | كفالت | ۱۴۳ | ۱۳۷ | خاص وكالت | ۱۷۵ |
| ۱۱٥ | د كفالت ډولونه | ۱۴٦ | ۱۳۸ | د وكيل تَخَلُّف | ۱۷۷ |

| شماره | سرليک | مخ | شماره | سرليک | مخ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳۹ | د خرڅولو وكيل | ۱۷۸ | ۱٦۳ | مضاربت | ۲۱۰ |
| ۱٤۰ | د رانيولو وكيل | ۱۸۰ | ۱٦٤ | اصطلاحات: | ۲۱۱ |
| ۱٤۱ | ګټور تَخَلُّف | ۱۸۱ | ۱٦٥ | د مُضَارَبَت ډولونه | ۲۱۲ |
| ۱٤۲ | د وكيل تړونونه | ۱۸۲ | ۱٦٦ | د تړون كونكو شرطونه | ۲۱۳ |
| ۱٤۳ | د تړون مسؤليتونه | ۱۸۳ | ۱٦۷ | د راس المال شرطونه | ۲۱۳ |
| ۱٤٤ | د وكيل وكيل | ۱۸۴ | ۱٦۸ | د ګټې شرطونه | ۲۱٥ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤٥ | د وکالت پای ته رسېدل | ۱۸٦ | ١٦٩ | د فاسد مُضَارَبَت حکمونه | ۲۱۷ |
| ١٤٦ | د وکیل معزولول | ۱۸۷ | ١٧٠ | د صحیح مُضَارَبَت احکام | ۲۱۸ |
| ١٤٧ | شَرِکَهٔ | ۱۸۹ | ١٧١ | د مُضَارِب د لاس حالت | ۲۱۸ |
| ١٤٨ | شَرِکَهٔ الاملاک | ۱۹۰ | ١٧٢ | د مُضَارِب تصرفات | ۲۲۰ |
| ١٤٩ | اصطلاحات : | ۱۹۱ | ١٧٣ | اجازه غوښتونکي تصرفات | ۲۲۳ |
| ١٥٠ | د املاکي شراکت حکم | ۱۹۲ | ١٧٤ | مُقَید مُضَارَبَت | ۲۲۸ |
| ١٥١ | شَرِکة العُقُود | ۱۹۳ | ١٧٥ | د مُضَارِب حقوق | ۲۳۰ |
| ١٥٢ | د شَرِکَهٔ العُقُودِ ډولونه | ۱۹۵ | ١٧٦ | د نفقې خرڅ | ۲۳۰ |
| ١٥٣ | شَرِکَهٔ المُفَاوَضَة | ۱۹٦ | ١٧٧ | د ګټې حق | ۲۳۲ |
| ١٥٤ | د مفاوضې حکم | ۱۹۷ | ١٨٧ | رهن | ۲۳۴ |
| ١٥٥ | شَرِکَهٔ العَنَان | ۱۹۸ | ١٧٩ | د رهن تړون | ۲۳۷ |
| ١٥٦ | تاوان | ۱۹۹ | ١٨٠ | د رهن حکمونه | ۲۳۹ |
| ١٥٧ | ګټه | ۱۹۹ | ١٨١ | د رهن ضمان | ۲۳۹ |
| ١٥٨ | تصرفات | ۲۰۰ | ١٨٢ | رهن امانت غوندي دی | ۲۴۱ |
| ١٥٩ | تحفه او قرض | ۲۰۵ | ١٨٣ | د رهن ساتنه | ۲۴۲ |
| ١٦٠ | د تړون حقوق | ۲۰۵ | ١٨٤ | د رهن پالنه | ۲۴۳ |
| ١٦١ | شَرِکَهٔ الوُجُوهِ | ۲۰٦ | ١٨٥ | د رهن پیدا وار | ۲۴۴ |

| شماره | سرلیک | مخ | شماره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ١٦٢ | شَرِکَۃُ الْاَعمَالِ | ۲۰۸ | ۱۸۶ | دریم ګړی | ۲۴۵ |
| ١٨٧ | د رهن تاوان | ۲۴۶ | ٢١٠ | د شفعي حق له منځه تلل | ۲۶۹ |
| ١٨٨ | د رهن خرڅول | ۲۴۷ | ٢١١ | تر شفعي تېرېدل | ۲۷۰ |
| ١٨٩ | د رهن د پاره وکیل ټاکل | ۲۴۷ | ٢١٢ | اجاره | ۲۷۰ |
| ١٩٠ | د رَاهِن مړینه | ۲۴۸ | ٢١٣ | اصطلاحات: | ۲۷۲ |
| ١٩١ | بیع الوفاء | ۲۴۹ | ٢١٤ | منفعت او اجوره | ۲۷۳ |
| ١٩٢ | د علماوو اختلاف | ۲۵۰ | ٢١٥ | د منفعت معلومېدل | ۲۷۴ |
| ١٩٣ | بیع الوفاء څه ته وایي؟ | ۲۵۱ | ٢١٦ | په کار د منفعت معلومول | ۲۷۴ |
| ١٩٤ | د بیع الوفاء نه صحیح کېدل | ۲۵۱ | ٢١٧ | په مده د منفعت معلومول | ۲۷۵ |
| ١٩٥ | د بیع الوفاء احکام | ۲۵۳ | ٢١٨ | کرایه کښې | ۲۷۷ |
| ١٩٦ | شُفْعَه | ۲۵۵ | ٢١٩ | د مُستَأجَر استعمالونکی | ۲۷۷ |
| ١٩٧ | د شُفعَې حق | ۲۵۶ | ٢٢٠ | د اجارې پر ځمکه آبادي | ۲۷۹ |
| ١٩٧ | اول مستحق | ۲۵۶ | ٢٢١ | بار او سپرلۍ | ۲۸۰ |
| ۱۹۸ | دوهم مستحق | ۲۵۷ | ۲۲۲ | د ترون مخالفت | ۲۸۲ |
| ۱۹۹ | دریم مستحق | ۲۵۹ | ۲۲۳ | اجیر | ۲۸۴ |
| ۲۰۰ | د شفعي وېش | ۲۵۹ | ۲۲۴ | اجیر خاص | ۲۸۴ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰۱ | د شفعي طلب | ٢٦١ | ۲۲۵ | د اجير خاص ضمان | ۲۸۵ |
| ۲۰۲ | طلب مُوَاثَبَه | ٢٦٢ | ۲۲۶ | اجير مشترک | ۲۸۶ |
| ۲۰۳ | طلب اِشهَاد | ٢٦٣ | ۲۲۷ | د اجير مشترک ضمان | ۲۸۷ |
| ۲۰۴ | طلب خصومت | ٢٦٥ | ۲۲۸ | د خاص او مشترک اجير فرق | ۲۸۹ |
| ۲۰۵ | د قضا مجلس | ٢٦٦ | ۲۲۹ | د اجورې استحقاق | ۲۹۰ |
| ۲۰۶ | په نرخ کي اختلاف | ٢٦٧ | ۲۳۰ | تفريعات | ۲۹۲ |
| ۲۰۷ | مالچه او تخفيف | ٢٦٨ | ۲۳۱ | پر ګناه اجوره اخيستل | ۲۹۳ |
| ۲۰۸ | خيار | ٢٦٩ | ۲۳۲ | پر طاعت اجوره اخيستل | ۲۹۴ |
| ۲۰۹ | د شفعي حق خرڅول | ٢٦٩ | ۲۳۳ | د اجير د کار څخه مزد | ۲۹۵ |
| شماره | سرليک | مخ | شماره | سرليک | مخ |
| ۲۳۴ | کرايې د ځای ترميم | ۲۹۶ | ۲۵۱ | د وليانو ترتيب | ۳۱۱ |
| ۲۳۵ | د ايجارې وپای ته رسيدل | ۲۹۷ | ۲۵۲ | د ولي تصرف | ۳۱۲ |
| ۲۳۶ | د فسخ عذرونه | ۲۹۸ | ۲۵۳ | د ولي سودا | ۳۱۳ |
| ۲۳۷ | د مُستَأجِر عذر | ۲۹۹ | ۲۵۴ | د ولي اجاره | ۳۱۴ |
| ۲۳۸ | د مُؤجِر عذر | ۳۰۰ | ۲۵۵ | د ولي نفقه | ۳۱۴ |
| ۲۳۹ | مُزَارَعَة | ۳۰۱ | ۲۵۶ | د ولي اجازه | ۳۱۵ |
| ۲۴۰ | د مزارعې رکن | ۳۰۲ | ۲۵۷ | د کوچني طلاق | ۳۱۵ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۴۱ | د کښت حاصلات | ۳۰۲ | ۲۵۸ | د کوچني اقرار | ۳۱۵ |
| ۲۴۲ | د کښتگرۍ حالات | ۳۰۴ | ۲۵۹ | د کوچني کارونه | ۳۱٦ |
| ۲۴۳ | د فاسد تړون حکم | ۳۰۵ | ۲٦۰ | ليونی | ۳۱٦ |
| ۲۴۴ | باغواني | ۳۰۵ | ۲٦۱ | مَعتُوه | ۳۱۸ |
| ۲۴۵ | مُغَارَسَة | ۳۰٦ | ۲٦۲ | سَفِيه | ۳۱۹ |
| ۲۴٦ | حَجر | ۳۰۷ | ۲٦۳ | د سَفِيه بنديز | ۳۱۹ |
| ۲۴۷ | د حَجر اسباب | ۳۰۸ | ۲٦۴ | مُغَفَّل | ۳۲۱ |
| ۲۴۸ | د بلوغ نښې او عمر | ۳۰۸ | ۲٦۵ | نااهل کسان | ۳۲۲ |
| ۲۴۹ | مُمَيِّز او نا مُمَيِّز | ۳۰۹ | ۲٦٦ | د مَديُون بنديز | ۳۲۳ |
| ۲۵۰ | د مُمَيِّز تړونونه | ۳۱۰ | ۲٦۷ | مُفلِس | ۳۲۵ |


د تعليم الاسلام ويب پاڼې لخوا :

www.taleemulislam.net

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ اللهِ رَبِ الْعَالَمِيْنَ وَ الصَلوةُ و السَلامُ عَلى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ وَ بَعْدُ :

د فقه المبتدي په اول ټوک کي مو عبادات يعني د لمانځه ، زکات ، روژې او د حج احکام په لنډ ډول ولوستل او د فقه المبتدي په دوهم ټوک کي مو د نکاح اړوند او ځيني نور احکام ولوستل .

د فقه المبتدي په دريم ټوک کي چي همدا اوس ستاسي په لاس کي دی د بيعي ، وکالت ، کفالت شراکت ، مضاربت ، شفعي ، اجارې او د يو لړ نورو معاملاتو احکام بيانيږي .

ښکاره خبره ده چي دا ټول هغه معاملات دي چي انسان په خپل ورځني ژوند کي اړتيا ورته لري ، ځکه انسان په خټه او طبيعت کي مدني دی ، د نورو انسانانو سره ګډ ژوند ته اړتيا لري يو کس لا هم د دې توان نه لري ، چي د ژوندانه ټولي اړتياوي لکه خواړه ، جامې ، درمل ، هستوګن ځای او داسي نور دي پخپله په يوازي سر ځان ته تيار او برابر کړای سي .

بلکي هر انسان انساني ټولني ته اړتيا لري ، تر څو د ژوندانه اړتياوي ځني پخپل لاس ځان ته تياري کړي او ځيني نوري بيا د خپل منځي معاملاتو لکه بيعي ، اجارې ، عاريت او داسي نورو تړونو د لاري پوره کړي .

د دغو معاملاتو شرعي حيثيت پيژندل او هم يې د شرعي اصولو مطابق انجامول د هر مسلمان وجيبه ده ، نو ځکه د فقه المبتدي د دريم ټوک يعني د معاملاتو لوستل هم د لومړي او دوهم ټوک په شان د عامه خلکو او مبتدي طالبانو د پاره ډېر مهم او ګټور دی .

و الله ولي التوفيق .

# د پيل خبري

د انسانانو خپل منځي معاملات لکه رانيول او خرڅول شرعاً هغه وخت معتبر بلل کيږي چي د هغوي په خوښه او اراده انجام ومومي .

ځکه يو شی د يوه د ملکيت څخه د بل و ملکيت ته په پيسو يا مفت هغه وخت نقليږي چي مالکان يې په خپله خوښه او اراده وکړي .

دغه ډول د يوه د شي څخه بل څوک په پيسو يا په وړيا ډول هغه وخت جائزه ګڼه اخيستلای سي چي دوی په خپله خوښه د همدې ډول کولو اراده وکړي .

خوښي او اراده د زړه کار دی ، د خلکو په زړونو يو الله خبر دی ، نو ځکه د معامله کونکو هغه وينا يا کار چي همدا خوښي او اراده ښکاره کوي ، د هري معاملې د صحت د پاره مدار بلل کيږي .

دا ډول ويناوي د فقهي په اصطلاح کي د ايجاب او قبول په نامه ياديږي .

د دې څرګندونو څخه جوته سوه چي ايجاب او قبول د هري معاملې رکن دی ، د انسانانو خپل

منځي معاملې ببله ایجاب او قبول څخه کېدلای نسي ، نو د هر څه وړاندي پر ایجاب او قبول رڼغیړو ، څو را ته معلومه سي چي ایجاب او قبول په کومو صیغو صحیح کیږي او د چا ایجاب او قبول ته اعتبار ورکول کیږي .

## ځیني عام اصطلاحات

عَقْدُ : عَقْد تړون ته وایي ، تَعَاقُد بیا یو د بل سره تړون کولو ته وایې .

عَاقِدْ : عَاقِد تړونکي ته وایي ، عَاقِدَانِ او عَاقِدَیْنِ یې تثنیه ده ، دغه دول مُتَعَاقِدَیْن او مُتَعَاقِدَانِ هم ورته وایي .

مَعْقُود عَلَیْه : مَعْقُود عَلَیْه هغه شي ته وایي چي تړون باندي کیږي .

اِنْعِقَادُ: د تړون وکېدلو ته اِنْعِقَاد وایي ، تړون چي وسي نو هغه ته وایي تړون مُنْعَقِد سو .

د مثال په ډول : که زید پر بکر موټر خرڅوي زید او بکر عَاقِدَیْن یا مُتَعَاقِدَیْن بلل کیږي ، موټر

مَعْقُود عَلَيْه بلل کيږي ، د دوی دوو تر منځ دې ټرون ته عَقْد او تَعَاقُد وايي .

څه مهال چي د دوی دوو تر منځ سودا وسي ، هغه ته د بيع اِنْعِقَاد وايي يعني د زيد او بکر ترمنځ د بيع ټرون مُنْعَقِد سو .

## رُکْنُ

رُکْنُ د شي هغي برخي يا اجزاؤ ته وايي چي دا شی د هغه څخه جوړ سوی وي او بېله هغه څخه موجود کېدلای نسي .

البته د شيانو موجوديت فرق لري ، د ځينو شيانو موجوديت حسي وي ، وجود يې محسوس کېدلای سي ، لکه سکينجبين چي عسل او سرکه يې دا ډول اجزاء دي چي بېله هغو څخه اصلي سکينجبين جوړېدلای نسي ، عسل او سرکه چي سره ګډ سي ، اصلي سکينجبين ور څخه جوړيږي .

د ځينو شيانو موجوديت بيا معنوي وي ، که په شريعت کي اعتبار ورکول سي موجود ګڼل

کیږي ، که په شریعت کي اعتبار ور نه کول سي بیا غیر موجود بلل کیږي .

لکه لمونځ چي قرائت ، قیامه ، رکوع او سجده یې د ارکانو څخه دي ، د لمانځه د ارکانو څخه که یو رکن پاته سي ، که څه هم یې نور ارکان پر ځای سي بیا هم په شریعت کي اعتبار نه ورکول کیږي او داسي ګڼل کیږي لکه هیڅ چي موجود سوی نه وي .

نو کوم معاملات چي ایجاب او قبول یې رکن ګڼل کیږي ، که بېله ایجاب او قبول څخه یې خلک انجام کړي ، په شریعت کي هغه ته اعتبار نه ورکول کیږي .

## شرط

شرط هغه ته وایي چي د یو شي وجود پر هغه موقوف وي خو خپله دا شی د هغه څخه جوړ نه وي ، لکه اودس او د عورت پټول چي د لمانځه د شرطونو څخه دي .

د رکن او شرط ترمنځ فرق دادی چې رکن د شي په ذات کې داخل وي يعني د شي داسې جزء او برخه وي چې ببله هغه څخه شی موجود کېدلای نه سي .

شرط د شي د ذات څخه وتلی وي يعني د شي جزء نه وي خو د شي صحت پر هغه موقوف وي .

که څوک بې اودسه لمونځ وکړي يا ببله رکوع څخه لمونځ ادا کړي ، لمونځ يې نه صحيح کيږي ځکه اودس او رکوع دواړه د لمانځه د فرضونو څخه دي .

البته اوداسه ته د لمانځه شرط ويل کيږي او رکوع ته د لمانځه رکن ويل کيږي ، ځکه اودس د لمانځه څخه وتلی دی ، ځان ته جلا عمل دی ، رکوع بيا د لمانځه په دننه کي ادا کيږي ، د لمانځه يوه برخه ده .

## ایجاب او قبول

مخ کې مو ولوستل چې ایجاب او قبول د هر تړون او معاملې رکن بلل کیږي ، ځکه معامله د مُتَعَاقِدَیْنو ترمنځ د هغوی په خوښي او ارده په وجود راځي او ایجاب او قبول د دوی د همدې خوښي او ارادې اظهار او څرګندونه کوي .

## ایجاب

په مُتَعَاقِدَیْنو کې چې هر یو اول د تړون د انجامولو د پاره د خپلې خوښي او ارادې اظهار او څرګندونه وکړي د هغه دې وینا او قول ته ایجاب وایي .

## قبول

په مُتَعَاقِدَیْنو کې چې هر یو تر هغه بل وروسته د خپلې خوښي او ارادې اظهار او څرګندونه په هماغه مجلس کې وکړي د هغه دې قول او وینا ته قبول وایي .

## د ایجاب او قبول صيغې

ایجاب او قبول په هغو صيغو صحيح کيږي چي په هغو د مُتَعَاقِدَيْنو د همدا اوس کړي د ترون کولو خوښي او اراده ښکاره کيږي .

هغه الفاظ او صيغې چي همدا اوس کړی د ترون کولو خوښي او اراده نه ځني ښکاريږي ، بلکي د پوښتني په ډول وي ، یا په راتلونکي زمانه کي د ترون وعده ځني فهمول کيږي په هغو ایجاب او قبول نه صحيح کيږي .

## زمانې

سودا کول ، اجاره کول ، نکاح ترل او نور ټول معاملات چي خلک يې کوي افعال یعني کارونه دي ، هر کار په یوه زمانه کي کيږي .

یو کار چي په تېره زمانه کي سوی وي هغه ته د ماضي صيغه راځي او چي اوس کيږي هغه ته د حال صيغه راځي او چي په راتلونکې زمانه کي کيږي هغه ته د اسْتِقْبَال صيغه راځي .

زمانې که څه هم درې دي ، ماضي ، حال او اسْتِقْبَال خو صيغې يې دوې دي ، يوه د ماضي صيغه ده ، بله د مُضَارِع صيغه ده .

په تېره زمانه کي چي يو کار سوی وي هغه ته د ماضي صيغه استعماليږي ، يو کار چي همدا اوس ګړی کيږي ، يا وروسته په راتلونکې زمانه کي کيږي هغو دواړو ته د مُضَارِع صيغه کارول کيږي ، د مُضَارِع صيغه د حال او اسْتِقْبَال دواړو د پاره په مشترک ډول استعماليږي .

## مُضَارِع

د مُضَارِع په صيغه ايجاب او قبول نه صحيح کيږي ، ځکه مُضَارِع د حال او اسْتِقْبَال تر منځ مشترکه او ګډه صيغه ده ، د مُضَارِع صيغه که په ايجاب او قبول کي استعمال سي ، د هغه څخه نه معلوميږي چي دوی همدا اوس ګړی تړون کوي او که په راتلونکې زمانه کي د تړون کولو وعده کوي .

همدا ډول د امر صيغې هم د اسْتِقْبَال په معنا دي

په هغو هم ایجاب او قبول نه صحیح کیږي .

نو د ایجاب او قبول د پاره یوازي یوه صیغه د ماضي پاتیږي ، چي په هغه بېله نیت او نبني څخه د هر تړون ایجاب او قبول صحیح کیږي .

خو که د مُضَارِع صیغه د حال په نیت په ایجاب یا قبول کي استعمال سي یا پر مُضَارِع د حال ځانګړي توري داخل سي یا بله قرینه او نبنه وجود ولري ، چي د هغه څخه معلومیږي چي مُضَارِع د حال په معنا کارول کیږي هلته بیا د مُضَارِع په صیغه هم ایجاب او قبول صحیح کیږي .

## ماضي

ماضي تیري زماني ته وایي ، یو کار چي په تېر وخت کي سوی وي هغه ته د ماضي صیغه راځي ، د ماضي صیغې که څه هم د اِخبار د پاره دي ، خو په ایجاب او قبول کي د انشاء معنا ورکوي .

د مثال په ډول : بِعْتُ او اِشْتَرَیْتُ دواړي د

ماضي صيغې دي ، كه چا په تېر وخت كي يو شی خرڅ كړی وي يا يې رانيولی وي ، د همدې سودا په هكله خبر د ماضي په صيغو وركوي ، داسي وايي : بِعْتُ ، ما خرڅ كړی .

اِشْتَرَيْتُ ، ما رانيوی .

و دغه ته د ماضي د اخبار معنا وايي .

كه رانيونكي او خرڅونكي مخكي سودا نه وي كړې ، بلكي همدا اوس سودا كوي ، د سودا د اِنعِقَاد د پاره بِعْتُ او اِشْتَرَيْتُ استعمال كړي ، نو دلته د همدې صيغو څخه د ماضي معنا نه اخيستل كيږي ، ځكه د دوی تر منځ مخكي سودا نه ده سوې ، بلكي همدا اوس په همدې صيغو سودا كوي ، دغه ته د ماضي د صيغو د انشاء معنا وايي .

مطلب دا چي د بيع ، نكاح او داسي نورو معاملاتو په ايجاب او قبول كي چي د ماضي صيغې استعماليږي د هغو څخه مراد انشاء اخيستل كيږي .

# مُضَارِع

د بيع ايجاب او قبول د مُضَارِع په صيغو نه صحيح کيږي ، ځکه چي مُضَارِع د حال او اسْتِقْبَال دواړو د پاره راځي ، که په ايجاب او قبول کي د مُضَارِع صيغه استعمال سي د هغه څخه نه معلوميږي ، چي دوی دم ګړی سودا کوي او که يو و بل ته په راتلونکې زمانه کي د سودا وعده ورکوي .

يادونه : د پښتو د صرفو په عامو کتابونو کي د حال او اسْتِقْبَال د پاره ځانګړي ځانګړي صيغې ليکل سوي دي .

موږ هم د تَمْهِيْدُ الصَرفِ په خاتمه کي د حال او اسْتِقْبَال د پاره بېل بېل ګردانونه ليکلي دي ، خو که څوک په دقت متوجه سي ، هغه صيغې چي د پښتو ژب پوهان يې د حال په نامه يادوي هغه کټ مټ د عربي د مُضَارِع د صيغو په شان دي هم د حال د پاره او هم د اسْتِقْبَال د پاره استعمال کيږي .

مثلاً : رانیسم ، رانیسې ، رانیسي په پښتو کي د حال د صیغو په نامه یادیږي ، په داسي حال کي چي دا صیغې د اسْتِقْبَال د پاره هم استعمالیږي .

په دې ډول :

زه اوس کتاب رانیسم .

زه سبا کتاب رانیسم .

په دې جملو کي د رانیسم صیغه هم د حال د پاره او هم د اسْتِقْبَال د پاره استعمال سوې ده او استعمال یې هم پر ځای او صحیح دی .

د پښتو د حال صیغه - رانیسم - د عربي د مُضَارِع د صیغې - اَشْتَرِيْ - په شان ده ، هم د حال او هم د اسْتِقْبَال د پاره استعمالیږي لکه :

اَشْتَرِيْ الْكِتَابَ الْانَ . (حال)

اَشْتَرِيْ الْكِتَابَ غَدًا . (اسْتِقْبَال)

د پښتو حال که د عربي د مُضَارِع په شان د حال او اسْتِقْبَال ترمنځ مشترک نه وای ، نو بیا یې د

اسْتِقْبَال په معنا استعمالول داسې غلط وو لکه په ماضي کې يې استعمالول مثلاً :

زه پرون کتاب رانيسم ، غلطه جمله ده ، ځکه پرون تېره ورځ ده ، د حال صيغه د ماضي د پاره نه استعمالېږي .

د دې مثالونو څخه ښکاره سوه چې د پښتو په اصطلاح کې چې کومې صيغې د حال په نامه يادېږي ، هغه کټ مټ د عربي د مُضَارِع په شان ، د حال او اسْتِقْبَال تر منځ مشترکې صيغې دي .

ځکه نو د پښتو د حال په صيغو د بيع ، نکاح او داسې نورو معاملاتو ايجاب او قبول هغه وخت صحيح کېږي چې د حال په نيت استعمال سي ، يا بله داسې نښه وجود ولري چې په هغه وفهمول سي ، چې د همدې صيغې څخه حال مراد دی .

ځکه دا صيغې که څه هم د حال د صيغو په نامه يادېږي خو عمومًا د حال او اسْتِقْبَال تر منځ په مشترک ډول استعمال لري .

# ځانګړي نښني

د مُضَارِع پر صيغه ځني توري داخليږي ، چي هغه د مُضَارِع صيغه د حال پاره يا د اسْتِقْبَال د پاره ځانګړې کوي .

په عربي کي سين او سَوْفَ د اسْتِقْبَال توري دي دغه توري که پر مُضَارِع داخل سي بيا د مُضَارِع د حال په معنا نه استعماليږي بلکي يوازي د اسْتِقْبَال د پاره استعماليږي .

مثلاً : يَذهَبُ ، دی ځي .

د مُضَارِع صيغه ده ، اوس تګ کوونکي ته هم او په راتلونکې زمانه کي تګ کونکي ته هم د يَذهَبُ صيغه راتللای سي .

خو که د اسْتِقْبَال حرف پر داخل سي لکه سَيَذهَبُ يا سَوفَ يَذهَبُ ، بيا د اوس تګ کونکي د پاره دا صيغه نه سي استعمال کېدلای ، ځکه په دې تورو د مُضَارِع صيغه د اسْتِقْبَال د پاره ځانګړې کيږي .

په پښتو کي - به - د اسْتِقْبَال توری دی ، دغه توری که د مُضَارِع پر صیغه داخل سي بیا هغه یوازي د اسْتِقْبَال د پاره استعمال کیږي .

مثلاً : دریږم ، د پښتو په اصطلاح د حال صیغه ده ، خو د عربي اصطلاح مطابق د مُضَارِع صیغه ده ، ځکه هم د حال او هم د اسْتِقْبَال د پاره استعمالیږي ، پر دغه صیغه که د اسْتِقْبَال توری - به - داخل سي لکه : زه به دریږم ، نو بیا - دریږم - یوازي د اسْتِقْبَال د پاره استعمال کیږي ، ځکه په پښتو کي - به - د عربي د - سین او سوف - په شان د اسْتِقْبَال حرف دی .

لهذا پر فعل مُضَارِع که د اسْتِقْبَال حرف داخل سي په هغه مطلقا ایجاب او قبول نه صحیح کیږي او که د اسْتِقْبَال توري باندي داخل نه سي نو بیا هغه وخت ایجاب او قبول په صحیح کیږي چي د حال په نیت استعمال سي .

دغه ډول كه د مُضَارِع سره بل داسي لفظ يو ځای سي چي هغه د مُضَارِع د حال پر معنا دلالت كوي هلته هم د مُضَارِع په صيغه ايجاب او قبول صحيح كيږي .

مثلا : اَبِيعُ مِنکَ هذَا الآنَ بِاَلفِ دِرهَمٍ .

ژباړه : زه دا شی اوس پر تا په زر درهمه خرڅوم .

پدې جملو كي - اَبِيعُ - او — خرڅوم - كه څه هم دواړي د مُضَارِع صيغې دي ، هم د حال او هم د اسْتِقْبَال د پاره استعمال كېدلای سي خو دلته د - اَلاَنَ - او د - اوس - لفظونه د — اَبِيْعُ - او د - خرڅوم - د حال پر معنا دلالت كوي ، ځكه نو په دا ډول حالت كي ايجاب او قبول په صحيح كيږي .

لنډه دا چي د ټولو معاملاتو ايجاب او قبول په داسي صيغو او لفظونو صحيح كيږي چي د هغو الفاظو او صيغو څخه په غوڅ ډول همدا اوس کړی د ترون كولو معنا فهمول كيږي .

کومي صيغې چي د هغو څخه په غوښ ډول همدا اوس ګړی د ترون کولو معنا نه فهمول کيږي بلکي د تړون وعده هم ځني فهمول کيږي ، په هغو بيا ايجاب او قبول نه صحيح کيږي .

## امر

بېله نکاح څخه د نورو معاملاتو ايجاب او قبول د امر په صيغو هم نه صحيح کيږي .

مثلاً : رانيونکی ووايي : دا شی په لس زره افغانيو را باندي خر څ کړه .

يا خرڅونکی ووايي: دا شی په لس زره افغانيو راڅخه رانيسه .

د رانيونکي او خرڅونکي دغه ډول وينا ايجاب نه بلل کيږي ، که هغه بل نفر د دې امر قبول وکړي ، ورته ووايي : په لس زره ستا سو ، سودا نه لازميږي ، بلکي د وروستي کس وينا چي وايي : په لس زره ستا سو ، ايجاب شمېرل کيږي ، که امر کونکی يې په غبرګون کي قبول وکړي هلته بيا سودا لازميږي .

ځکه د امر صیغې یو خو د اسْتِقْبَال د پاره دي ، بل دا چي بل نفر په سودا امر کول توکَیْل دی ، په بیع کي یو نفر شرعًا هم خرڅونکی او هم رانیونکی نسي کېدلای .

مثلاً : که زید بکر ته د یو شي د رانیولو وکالت ورکړي ، بکر په یوازي سره خپل شی پر خپل مُوَکَّل چي دلته زید دی ، نه سي خرڅولای .

## د نکاح تړون

د نکاح تړون د امر په صیغه هم کېدلای سي ، که زید بکر ته د شاهدانو په حضور کي ووایي : ستا پلانکۍ لور ما ته په نکاح راکړه .

بکر ورته ووایي : ما په نکاح درکړې ده ، دلته که څه هم یو اړخ ته د امر صیغه استعمال سوې ده ، بیا یې هم تر منځ نکاح تړل کیږي .

ځکه چي په پورتني مثال کي بکر د زید په امر د هغه وکَیْل وګرځېدی ، نو د بکر وینا د ایجاب او قبول پر ځای دریږي ، په نکاح کي یو نفر هم د ښځي او هم د نارینه لخوا وکالت کولای سي .

ځکه په نکاح کي د وکَيْل حیثیت د ترجمان په شان دی ، د نکاح د تړون حقوق لکه د ولور او د ښځي د سپارلو مسؤلیت و وکَيْل ته نه راجع کیږي .

## ضمني ايجاب او قبول

د امر ځيني داسي لفظونه سته چي هغه که په ايجاب او قبول کي استعمال سي نو تړون په مُنْعَقِد کیږي لکه : واخله یا پیسې یي راکړه

مثلاً : رانيونکی ووايي : دا شی په لس زره افغانیو اوس در څخه رانیسم .

خرڅونکی ورته ووايي : وا يې خله یا پیسې یي راکړه .

د امر د دا ډول صيغو سره ضمني ايجاب یا قبول فرضیږي ځکه د رانيونکي د ايجاب وروسته چي خرڅونکی هغه د شي په اخيستلو یا د پیسو په ورکولو امر کړي دا دې معنا ورکوي چي ما دا شی درباندي خرڅ کړی دی وا يې خله یا پیسې يې راکړه .

یعني دا د امر داسي لفظونه دي چي اِقْتِضَاءً پر ایجاب یا قبول دلالت کوي .

## اشاره او نوشته

مخکي مو ولوستل چي هر تړون د مُتَعَاقِدَيْنو په خوښي او اراده مُنْعَقِد کیږي ، لکه څرنګه چي مُتَعَاقِدَيْن د خپلي موافقې اظهار په وینا کولای سي دغه ډول په ځینو وختونو کي مُتَعَاقِدَيْن خپله موافقه د وینا پر ځای په اشاره یا نوشته هم ښکاره کولای سي ، یعني نوشته او اشاره یې د ژبني ایجاب او قبول پرځای دریږي .

لهذا د ګونګي ایجاب او قبول په اشاره صحیح کیږي ، خو پدې شرط چي اشاره یې د موافقې پوره څرګندونکې وی او بل دا چي په لیکنه سره د خپلي خوښي او ارادې د ښکاره کولو څخه عاجزه وي .

که ګونګي خط لیکلای سوای نو بیا به ایجاب او قبول په لیکنه کوي ، ځکه نوشته تر اشارې مراد او مطلب ښه واضح کوي .

دغه ډول په نوشته هم ایجاب کېدلای سي مثلاً : خرڅونکی غائب نفر ته په خط کي ولیکي : ما پلانکی شی پر تا باندي په دونه خرڅ کړی دی هغه ته چي خط ورسیږي او د لوستلو په وخت کي یې قبول کړي نو د سودا تړون یې تر منځ مُنْعَقِد کیږي .

## تَعَاطِي

هر هغه شی چي خلک یې سودا په راکړه ورکړه کوي یعني رانیونکی او خرڅونکی د سودا په وخت کي یو و بل ته څه نه وایي ، بلکي یو پیسې ورکوي ، هغه بل شی ورکوي ، دا ډول سودا هم صحیح کیږي ، دا راکړه ورکړه د ایجاب او قبول پر ځای دریږي .

د مثال په ډول یو شی ځان ته ټاکلی نرخ ولري یا د خرڅولو نرخ پر لیکل سوی وي ، رانیونکی هغه د دوکاندار څخه را واخلي او هغونه پیسې یې ورکړي چي پر لیکل سوي وي یا ورته ټاکل سوي وي .

خو دوکاندار او رانیونکی یو و بل ته په خوله هیڅ ونه وایي ، د دوی دغه بېله وینا راکړه ورکړه د ایجاب او قبول پر ځای درېږي او پدې کار يې د سودا تړون تر منځ مُنْعَقِد کېږي .

ځکه د دوی دا عمل د دوی د خوښي او ارادې څرګندونه کوي ، نو همدا راکړه ورکړه يې د ژبني ایجاب او قبول پر ځای درېږي ، دغي سودا ته د فقهي اصطلاح له مخي بیع تعاطي وایي .

اصطلاحات

مُجِيْبٌ : د ایجاب کوونکي ته مُجِيْبٌ وایي

قَابِلٌ : قبول کونکي ته قَابِلٌ وایي .

## د ایجاب او قبول شرطونه

مخکي مو ولوستل چي ایجاب او قبول د ماضي په صيغو صحیح کېږي او دغه ډول د حال په ځانګړو صيغو هم صحیح کېږي .

دغه ډول مُضَارِع که د حال په نیت استعمال سي

يا د حال نښه ورسره وي په هغه هم ايجاب او قبول صحيح کيږي .

د دې علاوه دا يې هم شرطونه دي :

دايجاب او قبول مراد به واضح وي .
قبول به د ايجاب سره موافق وي .
د ايجاب او قبول مجلس به يو وي .

## د مراد وضاحت

د ايجاب او قبول د پاره يو شرط د مراد وضاحت دی ، د هر تړون د پاره چي کوم لفظ کارول کيږي د هغه مراد او مقصد به مُتَعَاقِدَيْنو ته واضح او څرګند وي .

مثلاً : د بيع په تړون کي بايد دا ډول الفاظ وکارول سي چي مُتَعَاقِدَيْن په وپوهيږي چي دوی د بيع ايجاب او قبول سره کوي .

د اجارې په ايجاب او قبول کي بايد دا ډول الفاظ استعمال سي چي د هغو څخه مُتَعَاقِدَيْن د اجارې تړون وفهموي .

يو عقد او تړون لا هم ځان ته ځانګړي الفاظ نه لري چي د هغو پرته دي په نورو لفظونه نه صحيح کيږي ، بلکي په هره ژبه کي چي د هر عقد او تړون د پاره کوم لفظونه استعماليږي په هغو ايجاب او قبول صحيح کيږي .

د بېلګي په ډول د عربي د بيع او شِرَاء پرځای په پښتو کي ځيني پښتانه خرڅول او رانيول کاروي او ځيني بيا پلورل او پيرودل کاروي .

پر دې برسېره ځيني نور لفظونه هم سته چي د هغو څخه د رانيولو او خرڅولو معنا فهمول کيږي ، په هغو هم ايجاب او قبول صحيح کيږي البته دا ضروري ده چي مُتَعَاقِدَيْن به يې په مراد او معنا پوهيږي .

# مُطَابَقَت

د ایجاب او قبول د صحت د پاره بل شرط مُطَابَقَت دی ، د مُطَابَقَت څخه مقصد دا دی چي قبول به د ایجاب مطابق وي .

مثلاً : زید بکر ته ووایي : دا موټر په دوو لکو افغانیو ستا دی ، بکر ورته وایي : په یو سل پنځوسو زرو افغانیو زما قبول دی ، یا بکر د زید بل موټر ته اشاره وکړي ورته ووایي : دغه موټر مي په دوو لکو افغانیو قبول دی ، پدې دواړو صورتو کي بیع نه مُنْعَقِد کیږي ، ځکه چي قبول د ایجاب مطابق نه دی .

ولي مُجِیْبٌ په دوو لکو افغانیو ایجاب وکړ خو قابل یې په یو لک او پنځوسو زرو افغانیو قبول وکړی .

مُجِیْبٌ د یوه موټر ایجاب وکړی ، قَابِل د بل موټر قبول وکړی ، نو د ایجاب او قبول د نه مُطَابَقَت لکبله یې سودا نه صحیح کیږي .

## د مجلس یووالي

د ایجاب او قبول د صحت د پاره بل شرط د ایجاب او قبول د مجلس یووالی دی ، بېله وصیت وکالت او وصي ټاکلو څخه په نورو ټولو تړونو کي په هغه قبول تړون مُنْعَقِد کیږي چي د ایجاب په مجلس کي وسي .

د ایجاب وروسته که په هماغه مجلس کي قبول وسي نو تړون مُنْعَقِد کیږي خو که د ایجاب وروسته مجلس بدل سي ، وروسته بیا قابل قبول وکړي نو هغه ته اعتبار نه ورکول کیږي .

مثلاً : زید بکر ته ووایي : دا ساعت په زر افغانۍ ستا دی .

د زید دا وینا ایجاب سو ، که بکر په همدغه مجلس کي قبول وکړي د سودا تړون یې تر منځ مُنْعَقِد کیږي .

که د ایجاب وروسته خپله زید یا بکر د همدې ځای څخه ولاړ سي یا پر همدغه ځای ناست وي خو بل بحث شروع کړي یا په بل کار اخته سي نو مجلس

بدل سو، ددې وروسته که بکر ووايي : زما قبول دی ، و دا قبول ته اعتبار نه ورکول کيږي .

ځکه چي ايجاب او قبول به په يوه مجلس کي وي که مجلس بدل سي ايجاب لغوه کيږي .

هغه تړون چي څوک يې د غائب سره د ليک او قاصد په ذريعه مُنْعَقِد کوي ، د هغه د قبول د پاره د ليک لوستلو او د قاصد د خبر رسولو مجلس معتبر دی .

د بېلګي په ډول : زيد بکر ته ووايي : ما خپله پلانکۍ مځکه پر خالد په دونه خرڅه کړې ده بکره ! ورسه خالد خبر کړه .

بکر چي خالد ته هر وخت د زيد د سودا پيغام ورسوي ، په هماغه مجلس کي که خالد قبول وکړي نو سودا لازميږي ، خو که مجلس بدل سي وروسته يې قبول نه صحيح کيږي .

دغه ډول د ليک په سودا کي که د ليک د لوستلو په مهال قبول وکړل سي سودا مُنْعَقِده کيږي .

ځکه چي د قاصد او ليک په ذريعه چي هر تړون کيږي د هغه د پاره د خط لوستلو او د قاصد د خبر رسولو مجلس د عقد مجلس بلل کيږي .

## د مجلس بدلون

د مجلس بدلون د ځای په بدلولو هم راځي او پر هماغه ځای باندي د بل کار يا نورو خبرو اترو په شروع کولو هم راځي .

که تر ايجاب وروسته چي قبول لا نه وي سوی ، د مُتَعَاقِدَيْنو څخه يو يا دواړه خپل د ناستي ځای يا د ولاړي ځای بدل کړي يا په هماغه ځای کي ناست يا ولاړ وي خو د تړون څخه پرته نوري خبري اتري پيل کړي ، يا په بل کار باندي لګيا سي دا ټول د مجلس بدلون بلل کيږي ، مخکنی ايجاب په لغو کيږي .

## د ايجاب لغوه کېدل

لکه څرنګه چي ايجاب د مجلس په بدلېدلو لغوه کيږي دغه ډول که مُجِيْب د قَابِل د قبول څخه وړاندي د ايجاب څخه رجوع او اعراض وکړي

يعني خپله خبره بيرته واخلي يا ولاړسي مجلس بدل کړي هلته هم ايجاب لغوه کيږي .

د مُجِيْب د رجوع او اِعْرَاض وروسته د قَابِل و قبول ته اعتبار نه ورکول کيږي .

دغه ډول که قَابِل ايجاب رد کړي يا اعراض ور څخه وکړي يعني بل بحث شروع کړي يا د مجلس څخه ولاړ يا رهي سي نو تر دې وروسته يي هم قبول نه صحيح کيږي .

ځکه د قَابِل په اِعْرَاض او ردولو سره هم ايجاب لغوه کيږي .

## وکالت او وصيت

د وکالت ، وصيت او وصي ټاکني د تړونو د ايجاب او قبول د پاره د مجلس يووالي شرط نه دي .

لهذا څوک چي چا ته د يو کار وکالت ورکوي يا يې پس له مرګه د خپل وړو او کوچنيو اولادنو د پاره وصي او سرپرست ټاکي ، يا د خپل مال د

دريمي يا تر دريمي څخه په لږ مقدار کي وصيت ورته کوي دا هم ټول تړونونه دي ، هغه بل چي يي قبول وکړي بيا مُنْعَقِد کيږي .

خو د دغو درو تړونو د قبول د پاره د ايجاب مجلس شرط نه دی .

ځکه په وصيت کي د مُجِيْب د مرګ وروسته قبول معتبر دی ، هغه هم پداسي حالت کي چي مُجِيْب د خپل وصيت څخه رجوع کړې نه وي .

وصي هم د وصي ټاکونکي تر مرګ وروسته وصي ګرځي ، نو ځکه د هغه د مرګ وروسته يې قبول هم صحيح کيږي .

وکالت هم غائب ته ورکول کېدلای سي او هم حاضر ته ورکول کېدلای سي .

که حاضر نفر ته وکالت ورکړل سي ، هغه په جواب کي هيڅ و نه وايي او تر مجلس وروسته هغه کار وکړي همدا کړنه يې د مخکني ايجاب قبول بلل کيږي .

## د عاقد اهليت

هر تړون كه څه هم په ايجاب او قبول مُنْعَقِد كيږي خو د هر چا ايجاب او قبول ته اعتبار نه وركول كيږي ، بلكي د هغه عاقد ايجاب او قبول ته اعتبار وركول كيږي كوم چي د تړون اهليت او وړتيا ولري :

تړون كوونكي پر درو ډلو وېشل كيږي :

پوره اهليت والا.
نيمګړی اهليت والا.
اهليت نه لرونكي .

هغه كسان چي پوره او كامل اهليت لري هغوی هر ډول تړون كولای سي .

هغه كسان چي د نيمګړي او ناقص اهليت څښتنان دي د هغوي ځيني تړونونه ځای پر ځای صحيح كيږي ، ځيني يې د ولي پر اجازه موقوفه كيږي او ځيني نور يې بيا بيخي لغوه او باطليږي

هغه کسان چي بيخي اهليت نه لري د هغوی هر نوع تړون نه صحيح کيږي .

## اهليت نه لرونکي

هغه څوک چي عقل او تمييز نه لري هغه د هيڅ نوع تړون وړتيا او اهليت نه لري لکه ليونی او غير مُمَيِّز کوچنی .

## غير مُمَيِّز کوچنی

غير مُمَيِّز کوچنی و هغه ماشوم ته وايي چي د ښو او بدو تر منځ فرق او تمييز نه سي کولای او نه د تړون د الفاظو په معنا او مقصد پوهيږي .

يو کوچنی چي د دوکاندار څخه هم شی واخلي او هم ورته ژاړي بيرته خپلي پيسي ځني غواړي دا غير مُمَيِّز بلل کيږي ځکه د سودا په معنا نه پوهيږي .

ليوني او غير مُمَيِّز کوچنی چي د هري معاملې د پاره ايجاب يا قبول وکړي په هغه يې تړون نه مُنْعَقِد کيږي .

ځکه نو د لیوني او غیر مُمَیِّز کوچني بیع ، وکالت ، اجاره ، عاریت ، نکاح ، طلاق ، هبه او داسي نور معاملات نه صحیح کیږي .

## نیمګړی اهلیت والا

مَعْتُوهْ او مُمَیِّز کوچنی په نیمګړي او ناقص اهلیت والا کي شمېرل کیږي .

مَعْتُوهْ : مَعْتُوهْ هغه چاته وایي چي د عقلي ضعف لکبله یې په حافظه او فهم کي داسي کمزورتیا پیدا سي چي کارونه یې بې تدبیره او خبري یې ګډي وډي سي .

کله د علاقلانو په ډول خبري کوي او کله بیا د لیونیانو په شان ږغیږي ، پرتي او چټي خبري کوي[1] .

د معتوه او لیوني ترمنځ فرق دادی چي لیونی وهل او ټکول کوي ، ښکنځل ، پوچ او رد وایي

---

[1] المُمَيِّز : هو الذي اذا كلم بشى من مقاصد العقلاء فهمه واحسن الجواب عنه و دور التمييز يبدء عموما بعد سن السابعة ويستمر الي البلوغ عاقلا.

مَعْتُوهْ وهل او تړکول نکوي او نه ښکنځل او پوچ رد وايي .

مُمَيِّز کوچنی : کوچنی که په سودا پوهېدی يعني دا ورته معلومېده چي شی د پيسو په بدل کي رانيول کيږي ، هغه ته مُمَيِّز کوچنی وايي .

د مُمَيِّز کوچني او معتوه تړونونه او تصرفات درې ډوله دي :

د ښکاره ګټي تړون .
د ښکاره تاوان تړون .
د ګټي او تاوان احتمال لرونکی تړون .

## د ښکاره ګټي تړون

په ښکاره ډول د ګټي تړون هغه ته وايي چي په هغه يو شی مفت ، بېله عوضه د مُمَيِّز کوچني او معتوه په ملکيت کي راځي لکه د وصيت کوونکي څخه وصيت قبلول يعني يو څوک د خپل ميراث د دريمي څخه څه مقدار د ده د پاره وټاکي او دی يې ځني قبول کړي .

دغه ډول د تحفې او صدقې ورکونکي څخه د تحفې او صدقې قبلول یا د پور په ادا کولو کې د کفیل ضمانت قبلول .

دا ټول د کوچني او معتوه د پاره په ښکاره ډول ګټمن تړونونه دي ، نو ځکه د مَعْتُوهْ او مُمَیِّز کوچني دغه راز تړون او تصرف ځای پرځای صحیح او نافذیږي .

## د ښکاره تاوان تړون

په ښکاره ډول د تاوان تړون هغه ته وایي چې یو شی د مُمَیِّز کوچني او مَعْتُوهْ د ملکیت څخه مفت په وځي ، لکه خپلي ښځي ته طلاق ورکول یا خپل مال بل ته په تحفه ، خیرات یا قرض ورکول او یا هم د بل د پور ضمانت کول .

د مُمَیِّز کوچني او مَعْتُوهْ دغه ډول تړونونه او تصرفات چې په ښکاره ډول یي په تاوان وي لغو او باطل بلل کیږي ، د ولي په اجازه لا هم نه صحیح کیږي .

## د ګټي او تاوان ناڅرګند تړون

رانيول او خرڅول ، خپل شی په کرايه ورکول ، د بل څخه يو شی په کرايه اخيستل ، د ځان د پاره نکاح تړل ، باغواني او بزګري نيول ، مضاربت او شراکت کول ټول داسي تړونونه دي چي د ګټي او تاوان حالت يې ناڅرګند دی ، يعني د ګټي اميد هم پکښي کېدلای سي او د تاوان بېره هم پکښي سته ، نو ځکه د مُمَيِّز کوچني او مَعْتُوهْ دا ډول تړونونه د ولي پر اجازه موقوفه کيږي ، که ولي اجازه ورکړه هغه مخکني تړون ته يې اعتبار ور کول کيږي او که هغه اجازه ور نه کړه ، کړی تړون يې باطل او لغو کيږي .

## راشد

په عقل او بلوغ يو څوک د پوره اهليت څښتن ګرځي ، عاقل او بالغ ته راشد وايي ، د راشد هر تړون ځای پر ځای صحيح کيږي .

# ولي

ليونى او غير مُمَيِّز كوچنى د عقل او تمييز نه درلودلو لكبله هيڅ نوع تړون نسي كولاى او نه يې تړون ته اعتبار وركول كيږي ، بلكي شرعا د دوى د ځان او د مال سرپرستي د بل چا پر غاړه اچول كيږي و دغي سرپرستي ته وَلاَيَت وايي .

همدا ډول د نيمګړي اهليت والا يعني د معتوه او مُمَيِّز كوچني د سرپرستي مسوليت هم د بل پر غاړه اچول كيږي .

اهليت نه لرونكى او نيمګړى اهليت والا دواړه د قاصر په نامه ياديږي ، د قاصر سر پرست د ولي په نامه ياديږي .

ولايت پر دوه ډوله دى :

(١) اَلْوِلاَيَهُ عَلَي النفسِ . ځاني سرپرستي
(٢) اَلْوِلاَيَهُ عَلَي المَالِ . مالي سرپرستي

څوک چې د بل ځاني سرپرستي پر غاړه لري هغه ته اَلْوَلِيُ عَلَي النَفْسِ وايي ، څوک چې د بل د مال سر پرستي پر غاړه لري هغه ته اَلْوَلِيُ عَلَي المَالِ وايي .

د قاصر ځاني سرپرستي يعني اَلْولَايَهُ عَلَي النفسِ خپلوانو ته د خپلوۍ په لاندي ترتيب ورکول کيږي :

زوى ګلوي .
پلار ګلوي .
ورورګلوي .
اکا ګلوي .

د قاصر يعني د ليوني او د ليونۍ ښځي ځاني

سرپرست اول نارينه اولاد زامن دي بيا د زامنو زامن دي .

که نارينه اولاد يې نه درلودل بيا يې پلار ولي دى ، که پلار يې نه درلودى ، بيا يې وروڼه ورپسې وريرونه ، بيا يې د وريرو زامن سرپرستي پر غاړه لري .

که وړونه او وربېرونه یې هم نه درلودل بیا یې اکا ګان او ورپسې یې د اکا زامن سرپرستي پر غاړه لري .

په سکه او ناسکه وړونو او اکا ګانو کې سکني تر ناسکه مخته دي .

پورتنیو خپلوانو ته یعني د پلار د خوا نارینه دوستانو ته عَصَبَة وایي ، که قاصر عَصبَه نه درلودل بیا یې مور سرپرستي پر غاړه لري ، د مور وروسته یې نور ذوي الارحام یعني د مور د خوا دوستان پخپل ترتیب سره سرپرستي پر غاړه لري .

## د ځاني ولي مسؤلیت

د قاصر یعني لېوني ، معتوه او کوچني د جسماني ودي ، د ښووني او روزني ، د صحي او اخلاقي او د واده او نکاح مسؤلیتونه د ځاني سرپرست پر غاړه دي .

قاصر که ناروغ سو ولي به یې د مریضي علاج کوي ، ولي به و قاصر ته ښه ادب او اخلاق ورښوي ، په مدرسه کي به یې د تعلیم د پاره شاملوي ، د واده غم به یې خوري .

البته که قاصر نجلۍ وي نو بیا یې ولي حق نه لري چي د نرو سره ګډ ځای تعلیم یا ښځینه کسب په زده کړي .

## تړون کونکي

تړو ن کونکو ته مُتَعَاقِدَیْن وایي ، تړون کونکي څلور ډوله دي.

(۱) اصیل (۲) وکَیْل (۳) ولي (٤) فضولي .

## اصیل

اصیل هغه عاقد ته وایي چي تړون د خپل ځان د پاره کوي مثلاً : خپل شی پر بل چا خرڅوي ، یا یې په کرایه ورکوي ، یا د خپل ځان د پاره نکاح تړي .

## وکَیْل

وکَیْل هغه چاته وايي چي بل څوک د ترون دنده وروسپاري او دی بیا د هغه په نمائندګي د هغه د پاره ترون کوي .

مثال : زید بکر ته وکالت ورکړی چي د خالد موټر ورته رانیسي ، بکر همداسي وکړه د خالد سره يې د هماغه موټر سودا وکړه ، پدې ترون کي خالد اصیل بلل کیږي ځکه خپل موټر يې خرڅ کړی او بکر بیا وکَیْل بلل کیږي ځکه موټر يې د زید د پاره د هغه په وکالت رانیاوه .

## ولي

ولي یا سرپرست هغه چا ته وايي چي شرعاً د بل نائب او استازی ټاکل سوی وي .

وکَیْل او ولي دواړه د بل استازي او نائبان دي خو د دوی دوو تر منځ فرق دادی چي وکَیْل ته څوک خپل کار په خپل اختیار سپاري او ولي ته بیا د بل د کار سرپرستي شرعا حواله کیږي .

لیونی او غیر مُمَیِّز کوچنی هیڅ نوع تړون نسي کولای ځکه چي د تړون اهلیت او وړتیا نه لري

## فضولي

فضولي هغه چا ته وایي چي د بل چا د پاره تړون کوي خو د هغه لخوا نه وکالت ورکول سوی وي او نه یې شرعا ولي وي بلکي پر خپل سر د بل د پاره تړون کوي .

مثال : زید پر خپل سر د خالد د پاره بکر ته مرکه وکړه ، بکر یې مرکه ومنله خپله نابالغه لور یې و خالد ته ورکړه خو د نکاح ایجاب او قبول یې د زید سره د شاهدانو په حضور کي وکړی ، پدې تړون کي بکر ولي دی ځکه خپله نابالغه لور یې خالد ته په نکاح ورکړه او زید بیا فضولي دی ځکه پر خپل سر یې د خالد د پاره د نکاح تړون وکړی .

# بيع

## خرڅول او رانيول

د بيع تعريف[۲] : په خپله خوښه مال په مال بدلولو ته بيع وايي .

اصطلاحات

بَيْعُ : بيع پيرودلو يعني رانيولو ته وايي .

اِشْتِرَاءُ : اشتراء پلورلو يعني خرڅولو ته وايي .

بايع : بايع خرڅونکي ته وايي.

مُشْتَرِي : مشتري رانيونکي ته وايي .

## د بيع رکن

ايجاب او قبول د بيع رکن دي او بېله ايجاب او قبول څخه بيع نه مُنْعَقِد کيږي .

[۲] البيع مبادلة المال بالمال بالتراضي او هو مبادلة شي مرغوب فيه بمثله علي وجه مفيد مخصوص اي بايجاب او تعاط وخرج بقيد مفيد مالا يفيد کبيع درهم بدرهم وبقيد مرغوب فيه غيرالمرغوب : مثل الميتة والدم والتراب

# ایجاب او قبول

په بایع او مشتري کي چي هر يو اول په سودا شروع کوي د هغه قول او وينا ته ايجاب وايي او د هغه بل وينا ته چي سودا ورسره صحيح کوي قبول وايي .

د ایجاب او قبول صیغه : ایجاب او قبول شرعا د ماضي په صيغو سره کيږي ، البته ماضي په ایجاب او قبول کي د انشاء په معنا کارول کيږي

مثلاً : بایع ووايي: دا شی ما پر تا باندي په يولک افغانیو خرڅ کړی دی .

مشتري ورته ووايي : دا شی ما په يو لک افغانیو در څخه رانیولی دی .

ایجاب او قبول د حال په ځانګړو صیغو هم صحیح کيږي ، همدا ډول د مُضَارِع صیغه که د حال په نیت استعمال سي يا بله نښه ورسره وي چي هغه د مُضَارِع د حال پر معنا دلالت کوي په هغه هم ایجاب او قبول صحیح کيږي .

# خيارقبول

په بايع او مشتري کي چي هر يو ايجاب وکړي هغه بل يې په هماغه مجلس کي د قبلولو يا ردولو اختيار لري ، دغه ډول مُجِيْب هم د قبول څخه وړاندي د خپل ايجاب څخه رجوع کولاى سي و دغه اختيار ته خيار قبول وايي .

تر ايجاب وروسته چي قبول لا نه وي سوى که د بايع او مشتري څخه هر يو د مجلس څخه ولاړ سي ايجاب باطليږي .

دغه ډول د مجلس په بدلېدلو يعني د سودا څخه پرته د بل بحث په شروع کېدلو هم ايجاب باطليږي .

ايجاب چي باطل سي وروسته يې قبول نه صحيح کيږي .

## د سودا لزوم

تر ایجاب او قبول وروسته سودا لازمیږي ، سودا چي لازمه سي ، بیا نه رانیونکی او نه هم خرڅونکی د سودا د فسخ کولو اختیار لري ، بلکي مشتري به بایع ته پیسې ورکوي او بایع به مشتري ته شی تسلیموي .

لیکن د خیار عیب ، خیار رویت او خیار شرط لکبله خیار لرونکی سودا فسخ کولای سي .

## بَیْعُ التَعَاطِي

تعاطي راکړي ورکړي ته وایي ، بیع په تعاطي یعني بېله وینا څخه محض په راکړه ورکړه هم صحیح کیږي .

د مثال په ډول یو سړی نانوای ته د یوې ډوډۍ پیسې ورکړي او هغه په عوض کي یوه ډوډۍ ورکړي ، خو په خوله هیڅ هم سره و نه وایي ، د دوی دغه راکړه ورکړه د ایجاب او قبول پر ځای دریږي ، سودا یې ترمنځ په مُنْعَقِده کیږي ،

دغه ډول سودا ته د عربي په اصطلاح بيع تعاطي وايي .

## ليک او قاصد

د ليک او قاصد په ذريعه هم سودا کېدلای سي .

مثلاً : زيد بکر ته په خط کي وليکي : ما خپل پلانکی شی په لسو لکو افغانيو پر تا خرڅ کړی دی .

يا د يوه نفر يعني قاصد په ذريعه پيغام ورولېږي چي ما خپل پلانکی شی په لسو لکو افغانيو پر تا خرڅ کړی دی .

د ليک او قاصد په ذريعه چي زيد د سودا پيغام بکر ته ولېږي دا د بيع ايجاب سو ، بکر ته چي ليک ورسيږي ، يا قاصد پيغام ور ورسوي ، که په هماغه مجلس کي چي خط پکښي لولي يا قاصد پيغام ور رسوي قبول وکړي ، بيع يې ترمنځ مُنْعَقِد کيږي .

که بکر د قاصد د پیغام رسولو په مجلس کي یا د لیک د لوستلو په مجلس کي قبول و نه کړي ، د زید ایجاب لغو کیږي ، بکر یې تر مجلس وروسته قبول نسي کولای .

اصطلاحات

مَبِیْعَةُ : مَبِیْعَه هغه شي ته وایي چي بایع یې پر مشتري خرڅوي .

ثَمَنُ : د بایع او مشتري ترمنځ د مَبِیعِې تاکل سوی نرخ د ثمن په نامه یادیږي .

قیمت : د مَبِیعِې عام بازاري نرخ چي هرڅونه وي هغه د مَبِیعِې د قیمت په نامه یادیږي .

مثلاً : زید نوی چینایي بایسکل په پنځه ویشت سوه افغانیو رانیسي ، خو دغه ډول بایسکل په بازار کي عام دوکانداران په درې زره افغانۍ خرڅوي .

په دې مثال کي بايسکل مَبِيعَه ده ، پنځه ويشت سوه افغانۍ د مَبِيعِې ثمن دی او درې زره افغانۍ د مَبِيعِې قيمت دی .

## د بيع شرطونه

بيع څلور ډوله شرطونه لري :

( ١ ) د اِنعِقَاد شرطونه .

( ٢ ) د صحت شرطونه .

( ٣ ) د نِفَاذ شرطونه .

( ٤ ) د لزوم شرطونه .

د بيع د انعقاد شرطونه که پرځای نسي سودا باطليږي .

د بيع د صحت شرطونه که پر ځای نسي نو بيع فاسديږي .

د بيع د نفاذ شرطونه که پرځای نسي بيعه موقوفه کيږي .

د بیع د لزوم شرطونه که پرځای نسي په تړون کي د فسخ کولو یا صحیح کولو اختیار راځي .

د دا څلورو ډولونو شرطونو په پایله کي د بیع اته قسمونه لاس ته راځي ، البته څلور یې د څلورو په مقابل کي په دې ډول راځي .

١ بیع به یا مُنْعَقِده وي یا به باطله وي .

٢ بیع به یا صحیح وي یا به فاسده وي .

٣ بیع به یا نافذه وي یا به موقوفه وي .

٤ بیع به یا لازمه وي یا به غیر لازمه وي .

## د بیع د انعقاد شرطونه

د بیع د انعقاد شرطونه هغو شرطونو ته وایي چي ببله هغو څخه د بیع تړون په وجود نه سي را تللای او نه هم اعتبار ورکول کیږي ، بلکي تړون یي باطل او لغو بلل کیږي .

د بیع د انعقاد شرطونه ځني عاقد یعني تړون کونکي ته راجع کیږي .

ځيني يې د عقد يعني تړون سره ارتباط پيدا کوي او ځيني بيا د تړون په ځای پوري اړه لري او ځيني نور بيا په مَعْقُود عَلَيْه اړه لري .

د بيع د انعقاد هغه شرطونه چي تړون کونکي ته راجع کيږي دا دي :

لومړی : عاقد به د عقل او تمييز څښتن وي ، نو ځکه د ليوني او غير مُمَيِّز کوچني سودا باطله بلل کيږي .

دوهم : عاقد به څو تنه وي ، لهذا يو نفر په يوه وخت کي بايع او مشتري نسي ګرځېدلای ، بلکي د سودا د پاره لږ تر لږه دوه تنه يو بايع او بل مشتري ضروري دي .

د انعقاد هغه شرط چي د عقد سره تړاو لري يو دی ، هغه دا چي قبول به د ايجاب موافق وي ، که قبول د ايجاب موافق نه وي نو تړون نه مُنْعَقِد کيږي .

د انعقاد هغه شرط چي ځای ته راجع کيږي هم يو دی ، هغه دا چي د ايجاب او قبول مجلس

يعني ځای به يو وي ، که ايجاب په يوه مجلس کي وسي او قبول بيا په مجلس کي وسي نو بيع نه مُنْعَقِده کيږي .

د بيع د انعقاد هغه شرط چي مَعْقُود عَلَيْه يعني مَبِيعِ ته راجع کيږي څلور دي :

لومړی : مَبِيعَه به د سودا په وخت کي وجود لري ، يو شی چي معدوم وي او هيڅ وجود و نه لري ، د هغه بيع باطله ده هيڅ نه مُنْعَقِد کيږي .

د مثال په ډول که څوک د درختي مېوه د راشنه کېدو مخته خرڅه کړي نو بيع يې باطله ده ځکه هغه تر اوسه وجود نه لري او تر دې وروسته راپيدا کيږي .

البته د سلم او استصناع معامله په دې حکم کي نه راځي .

دوهم : مَبِيعَه به په شريعت کي د استفادې وړ مال وي ، کوم شی چي هغه ته مال ويل کېدلای نسي لکه حر انسان ، مردار حيوان ، وينه يا د شريعت له مخي د استفادې وړ شی نه وي لکه

شراب او خنزير ، د داسي شيانو سودا د مسلمان د پاره باطله ده او سودا يې نه مُنْعَقِده کيږي .

دريم : مَبِيعَه به څښتن لري ، د داسي شي خرڅول باطل دي چي هغه د هيچا په ملکيت کي داخل نه وي ، لکه د هوا مرغان ، دښتي واښه يا د ځلکو په مځکو کي خپله راشنه سوي واښه ، ځکه دا ډول شيان مُبَاح دي او مالک نه لري ، د هوا د مرغانو هغه مهال څوک څښتن ګرځي چي وې نيسي ، خپله راشنه کېدونکي واښه هغه مهال د چا ملکيت ګرځي چي وې رېبي .

څلورم : مَبِيعَه به د تړون په مهال مقدور تسليم وي يعني داسي شی به وي چي د ورتسليمولو واک پر ودرلودل سي ، د هوا مرغه که د نيولو وروسته د چا د لاس څخه والوځي ، د هغه خرڅول باطل دي ، بيع يې نه مُنْعَقِده کيږي .

دغسي مرغه که څه هم د سړي په ملکيت کي داخل دی ، خو پر تسليمي باندي يې د واک نه درلودلو لکبله بيع باطليږي .

## د بيع د صحت شرطونه

د بيع د صحت شرطونه هغو شرطونو ته وايي چي د تړون آثار پر هغو مرتب کيږي يعني مَبِيعَه د بايع د ملکيت څخه وځي او د مشتري په ملکيت کي داخليږي ، که د بيع د صحت شرطونه پر ځای نسي نو سودا شرعا فاسديږي .

بيع هغه مهال صحيح بلل کيږي چي سودا د شپږو راتلونکو عيبونو څخه خالي وي :

لومړی : په سودا کي به جهالت نه وي ، په کومه سودا کي چي د مَبِيعِې ثمن يا جنس يا نوع يا مقدار دا ډول نامعلوم پاتي وي چي د خرڅونکي او رانيونکي تر منځ نه حل کېدونکې نزاع او شخړه رامنځ ته کوي هغه سودا فاسديږي .

دوهم : په سودا کي به اِکرَاه نه وي نو ځکه د جبر او زور سودا فاسده ده .

دريم : په بيع کي به توقيت نه وي ، که څوک د موقت وخت د پاره لکه مياشت يا کال شی خرڅ کړي نو بيع يې فاسده ده او نه صحيح کيږي .

څلورم : د مَبِيعِې په وصف کي به غرر نه وي يعني مَبِيعَه به د داسي صفت په شرط نه خرڅوي چي په هغه کي تېروتنه راځي ، د بېلګي په ډول که څوک غوا خرڅه کړي خو پدې شرط چي دونه کَيْلو شيدې کوي دا بيع فاسده ده ، ځکه بيان سوی مقدار شيدې حتمي نه دي بلکي کله کمي هم پکښي راځي .

پنځم : په سودا کي به ضرر نه وي ، د مثال په ډول که څوک د پوښلي خوني د چت ګاډر خرڅ کړي سودا يې فاسده ده ، ځکه پدې سودا کي بايع ته ضرر رسيږي ځکه ګاډر د خوني د نړولو پرته نسي ورتسليم کولای .

شپږم : په بيع کي به فاسد شرط نه وي ، فاسد شرط هغه شرط ته وايي چي په هغه کي د بايع يا مشتري ګټه وي او د خلکو عرف هم داسي نه وي ، د مثال په ډول که څوک موټر پدې شرط خرڅ کړي چي تر يوې مياشتي به بايع د هغه څخه کار اخلي يا کور خرڅ کړي خو پدې شرط

چي تر يو ټاکلي ميعاد به د بيع وروسته هم پکښي اوسيږي نو دا بيع فاسده ده .

## د مَبِيعِ او ثمن معلومول

مخکي مو ولوستل چي صحيح بيع هغه ده چي په هغه کي جهالت ، اِکراه ، توقيت ، د وصف غرر ضرر او فاسد شرط نه وي ځکه که د همدغو عيبونو څخه يو عيب پکښي ومندل سي نو بيع فاسده کيږي .

د جهالت د له منځه وړلو د پاره د مَبِيعِ او ثمن معلومول ضروري دي ، ځکه د مَبِيعِ يا ثمن نه معلومول د تسليمي په وخت کي د بايع او مشتري ترمنځ د اختلاف سبب ګرځي .

که مَبِيعَه معلومه نسي ډېر ځله به داسي پيښيږي چي بايع به بيکاره شی ورکوي خو مشتري به ښه شی ځني غواړي .

که ثمن معلوم نسي بايع به ډېري پيسې ځني غواړي خو مشتري به لږ پيسې ورکوي .

# عمومي قاعده

هره هغه نامعلومه سودا چي په آخر کي د بايع او مشتري ترمنځ د نه حل کېدونکي جګړې او اختلاف سبب ګرځي هغه سودا شرعًا فاسده بلل کيږي .

مثلاً : د پور په سودا کي که د پيسو د ورکړې مده او نېټه و نه ټاکل سي نو دا سودا فاسده ده ، ځکه د پور ميعاد نه ټاکل د بايع او مشتري ترمنځ د نزاع او اختلاف لامل ګرځي .

بايع به يوه هفته وروسته د پيسو طلب ځني کوي خو مشتري به ورته وايي يوه مياشت وروسته يې درکوم .

## مَبِيعَه او ثمن څنګه معلوميږي ؟

مَبِيعَه او ثمن د جنس ، نوع او مقدار په بيانولو معلوميږي .

مثلاً : که د يوه من سېلا ورجو سودا په دوو سوو افغانيو وکړل سي سودا صحيح ده ، ځکه چي هم

د ثمن جنس او مقدار چي دوه سوه افغانۍ دي معلوم دي او هم د مَبِيعِ مقدار چي يو من دي او هم يې جنس او نوع چي سپلا ورجه ده معلوم دي .

په سودا کي چي مَبِيعَه او ثمن معلوم وي نو د بايع او مشتري تر منځ ستونزه نه را منځ ته کيږي .

که يو څوک يو من ورجي په دوو سوو افغانيو رانيسي ، خو دا چي څه ډول ورجي دي هغه بيان نه کړي نو دا سودا فاسده ده ، ځکه چي د مَبِيعِ ډول او نوع نامعلوم دی ، د نوعي نامعلومتيا د نه حل کېدونکي نزاع او اختلاف لامل ګرځي ، ځکه مشتري به مثلا سپلا ورجي ځني غواړي خو بايع به پنډي ورجي ورکوي .

اشاره : و مَبِيعِ او ثمن ته که اشاره وکړل سي که څه هم يې مقدار او صفت بيان نه کړي بيا هم سودا صحيح کيږي ، ځکه په اشاره شی دا ډول تعيين کيږي چي د تسليمۍ په وخت کي يې په

مقدار او صفت کي د بايع او مشتري ترمنځ اختلاف نه راځي .

که په بيع کي د ثمن مقدار يعني مبلغ معلوم کړل سي ليکن صفت يې يعني افغانۍ ، تومن يا کلداري بيان نه کړل سي ، دلته بيا د دې مبلغ څخه رواجي سکه مراد اخيستل کيږي .

په هره سکه چي خلکو سودا کول هغه سکه مراد ځني اخيستل کيږي .

که په يو ځای کي څو سکو رواج درلودی ، هلته که څوک د پيسو صفت بيان نه کړي مثلا په دوو زرو يو شی پر بل خرڅ کړي ، دلته بيا د پيسو څخه هغه سکه مراد اخيستل کيږي چي په هغه زياته راکړه ورکړه کيږي .

# اصل او وصف

د مَبِيعِې په اصل کي که زياتوب راسي يعني تر بيان سوي مقدار زيات سي هغه زياتوب يې په بايع پوري اړه لري .

د مَبِيعِې په اصل کي که کمي راسي بيا مشتري اختيار لري ، سودا هم فسخ کولای سي او د کم سوي مقدار په اندازه پيسې هم ځني کمولای سي

همدغه ډول که د ثمن په اصل کي زياتوب راسي هغه زياتي سوي پيسې يې په مشتري اړه لري او که ثمن کم سي مشتري به يې ورته پوره کوي .

د مَبِيعِې په وصف کي که زياتوب راسي يعني ښه وخيږي هغه په مشتري پوري اړه لري ، بايع مَبِيعَه د وصف د ښه والي لکبله نه را ګرځولای سي او نه يي نرخ پر زياتولای سي .

که د مَبِيعِې په وصف کي کمي راسي يعني بيکاره وخيږي هلته بيا مشتري اختيار لري که په هغه مخکني نرخ يې قبلوي او که سودا فسخ

کوي ، خو مشتري داسي نه سي کولای چي د بایع د خوښی پرته مَبِیعَه را وګرځوي او د وصف د کمي لکبله تر ټاکلي نرخ کمي پیسې ورته ورکړي .

## د اصل او وصف پېژندل

د اصل او وصف د زیاتوب او کمی حکم مو وپېژندی خو دا چي کوم شی د مَبِیعِې او ثمن اصل بلل کیږي او کوم شی یې وصف بلل کیږي پدې اړه په لنډ ډول ویلای سو :

هر شی چي په کمېدلو یا پرېکېدلو خرابیږي او په قیمت کي یې تفاوت راځي ، د هغه شي زیاتېدل یا کمېدل د وصف زیاتوب او کمي بلل کیږي .

د لونګی اوږدواله د لونګی په وصف کي شمېرل کیږي ، ځکه د لونګی څخه که نیم متر غیچي سي خرابیږي ، بیا په نیم قیمت لا هم نه خرڅیږي .

هر شی چي په پرېکېدلو او کمېدلونه خرابيږي ، د هغه زياتېدل او کمېدل د اصل زياتوب او کمي بلل کيږي .

د غنمو زياتېدل يا کمېدل د غنمو د اصل زياتوب او کمي بلل کيږي ځکه که سل منه غنم في من پنځوس افغانۍ قيمت ولري ، که د سلو منو څخه پنځه منه غنم کم سي نو بيا هم پاته غنم نه په خرابيږي او د هغو من هم په پنځوس افغانيو خرڅيږي .

د وصف مثال : که څوک يوه لونګۍ په زر افغانيو رانيسي ، پدې شرط چي پنځه ګزه به وي که لونګۍ تر پنځه ګزه کمه سي نو مشتري اختيار لري ، سودا فسخ کوي او که په هغه زر افغانۍ يي قبلوي .

که همدا لونګۍ بيا تر پنځه ګزه اوږده وخيږي زياتوب يې په مشتري اړه لري ، بايع يې د اوږدوالي لکبله قيمت نسي پر زياتولای بلکي هماغه زر افغانۍ د مشتري څخه اخيستلای سي

ځکه د مَبِيعِ په وصف کې که زياتوب راسي هغه په مشتري اړه لري .

د اصل مثال : څوک چي د غنمو يوه رشه په پنځه زره افغانۍ رانيسي پدې شرط چي يو خروار ده .

که رشه يو خروار او پنځه منه سوه تر خروار اضافه پنځه منه غنم د بايع دي ، که تر خروار کمه سوه مثلاً : نوي منه سوه بيا مشتري اختيار لري ، که نوي منه د نوي منو په نرخ يعني په څلور زره او پنځه سوه افغانۍ قبلوي او که سودا فسخ کوي .

## د بيع د نفاذ شرطونه

د بيعې د اتو قسمونو څخه مو د مُنْعَقِده بيع ، باطلي بيع ، صحيح بيع ، فاسدي بيع شرطونه په تيرو درسونو کي ولوستل ، دلته د بيع د نفاذ شرطونه بيانوو څو نافذه بيع او موقوفه بيع وپيژنو .

نافذه بيع هغې بيع ته وايي چي د تړون څخه

وروسته ځای پر ځای اعتبار ورکول کیږي .

د بیع د نفاذ دوه شرطونه دي :

لومړی : ملکیت یا ولایت .

دوهم : د تړون کونکي څخه پرته بل څوک په مَعْقُود عَلَيْه کي حق نه درلودل .

د ملکیت څخه مراد دا دی چي کوم شی چي څوک یې خرڅوي ، که هغه د ده خپل ځاني شی وي نو دی به یې دا ډول مالک وي چي په هغه کي هر ډول تصرف وکولای سي ، د تصرف په وړاندي یې شرعي مانع لکه لیونتوب ، باوله توب یا وړکتوب نه وي ، د داسي ملکیت څښتن که خپل شی خرڅ کړي نو بیع یې نافذیږي .

د ولایت څخه مراد دا دی چي څوک د بل په شي کي د تصرف کولو واک او اختیار ولري ، دا واک که د شي د څښتن لخوا څخه ورکول سوی وي لکه وکَيْل چي د خپل مُوَکَّل په مال کي د وکالت پر اساس تصرف کوي او یا د شارع لخوا څخه ورکول سوی وي لکه د قاصر یعني د

ليوني او كوچني ولي يا يې د پلار او نيكه وصي چي د قاصر په مال كي تصرف كوي .

وكَيْل چي د وكالت پر بنسټ د مُوَكَّل مال خرڅ كړي بيع يې نافذيږي ، دغه ډول ولي چي د قاصر مال د شرعي ولايت پر اساس خرڅ كړي د هغه بيع هم نافذيږي .

د بيع د نفاذ د پاره د ملكيت يا ولايت د شرط پايله دا ده ، چي هغه بيع نافذيږي چي عاقد يې يا خو خپله مالک وي يا يې د مالک وكَيْل يا ولي وي .

كه فضولي د بل شی خرڅ كړي ، د هغه سودا د مالک پر اجازه موقوفه كيږي ، كه مالک يې اجازه وركړه نو هغه مخكنی تړون يې صحيح كيږي ، كه مالک يې سودا رد كړه نو د فضولي تړون لغو كيږي .

د نافذي بيع د پاره دوهم شرط دا دی ، چي د عقد د محل يعني د مَعْقُودعَلَيْه سره به د بل حق تړاو نلري ، كه د مَعْقُود عَلَيْه سره د بل حق تړاو

درلودی بیا یې بیع د حق د څښتن پر اجازه موقوفه کیږي .

د مَعْقُود عَلَيْه سره د بل د حق تړاو درې ډولونه لري .

لومړی : دا چي د مَعْقُود عَلَيْه په ذات کي بل حق ولري ، د مثال په ډول که څوک د بل مال خرڅ کړي سودا یې نه نافذیږي بلکي د بیع تړون یې د مالک پر اجازه موقوفه کیږي ، ځکه خپله مَعْقُود عَلَيْه د بل ملکیت او حق دی .

دغه ډول که د مرګي په ناروغۍ اخته ناروغ د خپل مال د دریمي برخي څخه زیات وصیت وکړي ، تر دریمي اضافي وصیت یې د وارثانو پر اجازه موقوفه کیږي ځکه تر دریمي اضافه چي کوم مال دی د هغه سره د وارثانو حق تړاو لري نو ځکه یې تړون د هغوی پر اجازه موقوفه کیږي .

دوهم : دا چي د مَعْقُود عَلَيْه د مالیت سره د بل حق تړاو ولري البته خپله په مَعْقُود عَلَيْه کي یې

حق نه وي ، د مثال په ډول يو مديون چي پر هغه بنديز نه وي لګول سوی نو د داسي مديون هغه تصرفات چي دائنين يې په متضرر کيږي د هغوی پر اجازه موقوفه کيږي ، ځکه چي هغوی د مديون د مال په ماليت کي حق لري خو که مديون دونه نور مال پيدا کړی چي د پوروړو پورونه په ادا کېدلای سوای نو بيا يې تصرف نافذيږي .

دريم : دا چي د تړون صلاحيت او واک د بل چا حق وي که څه هم خپله په مَعْقُود عَلَيْه کي يې بل حق و نه لري ، د داسي شيانو تړون د هغه چا پر اجازه موقوفه کيږي چي هغه يې د تصرف واک او صلاحيت لري

د مثال په ډول نيمګړی اهليت والا کوم چي د وړکتوب لکبله شرعا بنديز پر لګول سوی وي لکه مُمَيِّز ماشوم که خپل شی خرڅ کړي د سودا تړون يې د ولي پر اجازه موقوفه کيږي ، ځکه د تړون واک يې د ولي سره دی که هغه اجازه

ورکړه بيا يې سودا نافذيږي .

## د بيع د لازمېدلو شرطونه

د بيعې د اتو قسمونو څخه مو شپږ قسمونه د هغو د شرطونو په رڼا کي وپېژندل اوس لازمه بيع او غير لازمه بيع درپېژنو .

د بيع او اجارې تړون هغه مهال لازميږي چي د مُتَعَاقِدَيْنو څخه يو لا هم په تړون کي داسي خيار و نه لري چي لکبله يې تړون فسخ کولای سي .

دا ډول خيار کله د تړون کونکي لخوا ځان ته ثابتيږي مثلا بايع يا مشتري پدې شرط سودا وکړي چي تر ټاکلي ميعاد پوري که يې خوښه نه سوه نو سودا فسخ کولای سي .

کله بيا د شريعت لخوا يوه ته د فسخ کولو اختيار ورکول کيږي لکه د خيار عيب لکبله د سودا فسخ کول نو ځکه د بايع او مشتري ترمنځ چي ايجاب او قبول پداسي حال کي وسي چي يو لا هم خيار و نلري نو بيع لازميږي .

بیع چي لازمه سي بیا نه بایع او نه مشتري د پښیمانۍ حق لري بلکي مشتري به بایع ته ثمن ورکوي ، بایع به مشتري ته مَبِیعَه تسلیموي لیکن د خیار له کبله یې سودا فسخ کېدلای سي .

## خِیَارات ثلاثه

خِیَار معنا اختیارول ، خیارات ثلاثه هغو درو اختیاراتو ته وایي چي د فقهي په کتابونو کي په مستقل بابونو کي ذکر کیږي .

په بایع او مشتري کي چي هر یو خیار ولري هغه کولای سي چي د خیار په مده کي دننه سودا صحیح کړي یا یې فسخ کړي .

دغه خیارات ثلاثه یو د خیار شرط په نامه یادیږي ، دوهم یې د خیار رویت په نامه یادیږي او دریم یې د خیار عیب په نامه یادیږي .

## خیار شرط

بایع یا مشتري چي سودا په دې شرط وکړي چي تر فلاني وخت پوري که مي مشوره نه سول

ببرته د سودا فسخ کولو حق لرم دغه ته خيار شرط وايي .

بايع او مشتري هر يو په خيار شرط سودا کولای سي .

## د خيارمده

د ابو حنيفه رحمه الله په آند د خيار شرط اوږده مده درې ورځې ده ، په بايع او مشتري کي هر يو کولای سي چي تر درو ورځو پوري يا تر درو ورځو د کمي مدې په خيار سودا وکړي خو تر درو ورځو څخه يې د زياتي مدې د پاره د خيار شرط سودا نه صحيح کيږي .

ابويوسف او محمد رحمهما الله تعالي وايي : د خيار شرط نهايي مده که وټاکل سي نو بيا تر هر څو ورځو پوري په خيار سودا کولای سي يعني د يوې ورځي په خيار هم سودا کولای سي او د هفتې او مياشتي په خيار يې هم کولای سي .

# د خيار حکم

د خيار په سودا کي که خيار د بايع وو مَبِيعَه د بايع د ملکيت څخه نه وځي ، بلکي د خيار په مده کي دننه که څه هم يې مشتري ته تسليم کړي بيا هم د بايع ملکيت بلل کيږي .

که مَبِيعَه د مشتري په لاس کي د بايع د خيار په مده کي ضايع سي تاوان به يې د بازار د نرخ په حساب بايع ته ورکوي ، که څه هم د بازار نرخ يې د ثمن څخه کم يا زيات وي .

مخکي مو لوستي دي چي بايع او مشتري چي په کوم نرخ سودا وکړي هغه ته د مَبِيعِې ثمن وايي او د بازار نرخ ته يې چي هر څو وي د مَبِيعِې قيمت وايي .

کله د مَبِيعِې ثمن او د بازار قيمت يو شان وي خو کله بيا يو د بل څخه څه تفاوت پيدا کوي .

د خيار په سودا کي که خيار د مشتري وو ، مَبِيعَه د بايع د ملکيت څخه وځي .

د خیار په مده کې دننه که مَبِیعَه د مشتري په لاس کې ضایع سي ، تاوان به یې د ثمن له مخې بایع ته ورکوي .

که مَبِیعَه د مشتري په لاس کې معیوبه او خرابه سي د مشتري خیار لغوه کیږي ، بیا مشتري نسي کولای چې سودا فسخ کړي ، بلکې په هر څو چې یې سودا کړې وي هغونه پیسې به بایع ته ورکوي .

په بایع او مشتري کې چې هر یو خیار ولري هغه د خیار په مده کې دننه کولای سي چې سودا فسخ کړي او یا یې صحیح کړي .

بایع او مشتري که د خیار په سودا کې سودا فسخ کول نو هغه بل نفر باید حاضر وي ، د هغه بل په غیاب کې سودا نه سي فسخ کولای لیکن که سودا یې لازمول بیا د هغه بل نفر حضور شرط نه دی .

# خیار رویت

په سودا کې دوهم خیار چې په هغه سودا فسخ کېدلای سي خیار رویت دی .

په خیار رویت یوازې مشتري سودا فسخ کولای سي ځکه بایع خیار رویت نه لري .

که بایع خپل داسې شی خرڅ کړي چې خپله یې نه وي لیدلی ، مثلاً په میراث کې موټر په ونډه کې ورته ورسیږي او د لیدلو تر مخه یې خرڅ کړی ، دلته بایع نسي کولای چې په خیار رویت سودا فسخ کړي تر څو موټر د مشتري څخه را وګرځوي .

که مشتري داسې شی رانیسي چې هغه یې نه وي لیدلی مثلاً : داسې بایسکل رانیسي چې نه د سودا په وخت کې حاضر وي او نه یې د سودا مخته لیدلی وي ، دلته بیا مشتري خیار رویت لري ، څه وخت چې بایسکل ووینې ، که یې خوښ نه وو نو د خیار رویت په اساس سودا فسخ کولای سي ، دغه خیار ته خیار رویت وایي

## د خيار رويت حق

مشتري د خيار رويت حق يوازي په هغه سودا کي لري چي مَبِيعَه يې ليدلې نه وي .

که مشتري د سودا په وخت کي مَبِيعَه وويني د خيار رويت حق يې ساقط کيږي .

دغه ډول که د سودا تر مخه يې مَبِيعَه ليدلې وي او د سودا پر مهال پر هغه حالت پاتي وي په څه حالت کي چي يې مخته ليدلې وه هلته هم مشتري د خيار رويت حق نلري ، يعني په خيار رويت سودا نسي فسخ کولای .

## د خيار رويت ساقطېدل

مشتري د خيار رويت حق په هغه سودا کي لري چي مَبِيعَه يي ليدلې نه وي ، که د سودا په وخت کي مَبِيعَه ووينې نو د خيار رويت حق يې ساقط کيږي .

دا چي هر شی ښه او بد او مختلف ډولونه لري نو د مَبِيعِې هغه ليدنه معتبره ده ، چي په هغه د شي نوعيت او څرنګوالی معلوميږي .

د شيانو نوعيت او څرنګوالی په بېلابيلو طريقو معلوميږي ، د ځينو شيانو ښه والی او بد والی محض په ليدلو معلوميږي ، د ځينو دا په بويولو معلوميږي ، د ځينو دا په څکلو معلوميږي ، د ځينو دا په لمس کولو معلوميږي ، نو ځکه د شيانو رويت او ليدنه بېل بېل ډولونه لري .

د مثال په ډول د عطرو ښه او بد په بويولو معلوميږي ، که څوک عطر رانيسي ، صرف په ليدلو يې خيار رويت نه ساقطيږي بلکي په بويولو يې خيار رويت ساقطيږي ، که څوک

عطر بوی کړي او بيا يې رانيسي نو خيار رويت نه لري .

د شلومبو ښې او بدي په څکلو معلوميږي ، که څوک شلومبې رانيسي که څه هم يې ويني بيا هم خيار رويت لري ، خو که خوند يې وڅکي او تر څکلو وروسته سودا وکړي نو بيا سودا په خيار رويت نسي فسخ کولای .

د غنمو او دې ته ورته شيانو ښه او بد د سمپل په ليدلو معلوميږي ، لهذا د رشې د سربېرنو غنمو په ليدلو خيار رويت ساقطيږي که څه هم يې د رشې لاندې غنم ليدلي نه وي .

همدا ډول که څوک تاني ټوکر رانيسي د تان سربېرن ول ته په لاس ور وړلو او کتلو يې خيار رويت ساقط کيږي .

ليکن که ټوکر ګلداره يا خامکي وي او لاندې ولونه يې د سربېرنو ولونو څخه فرق ولري هلته بيا د اول ول په کتلو خيار رويت نه ساقطيږي ترڅو چې لاندې ولونه يې ليدلي نه وي .

هغه حیوانان چي د غوښو د پاره رانیول کیږي د هغو خیار رویت و مخ او ملا ته په کتلو ساقط کیږي ، ځکه د حیوان چاغښت او ډنګرتیا په مخ او ملا معلومیږي .

خو کوم حیوانان چي د شیدو یا سپرلۍ د پاره رانیول کیږي لکه غوا یا آس ، د هغو خیار رویت بیا که غوا وه په لوشلو ساقطیږي او که آس وو په سپربدلو ساقط کیږي .

## د ړانده خیار رویت

ړوند هم د بینا په شان خیار رویت لري خو د ړانده خیار رویت په لاندي ډول ساقطیږي : هغه شی چي په بویولو یې ښه او بد معلومیږي لکه عطر د هغه خیار رویت یې په بویولو ساقط کیږي .

هغه شی چي ښه او بد یې په څکلو معلومیږي لکه شلومبې د هغه شي خیار رویت یې په څکلو ساقط کیږي .

هغه شی چي په لاس ور وړلو او ليدلو يې ښه او بد معلوميږي لکه ګلداره رنګه ټوکر ، د هغه خيار رويت يې هغه وخت ساقط کيږي چي ټوکر په لاس وګوري او هم يې بل څوک رنګ او ګل ورته بيان کړي .

ړوند که سرای يا کوټهٔ رانيسي نو خيار رويت يې هغه وخت ساقط کيږي چي د سرای يا کوټهٔ ساحه ، د آباديو تعداد ، د تعمير جوړښت او د موادو په هکله يې معلومات ورکړل سي .

که څوک دوه شيان يو ځايي سودا کړي ، په دغو دوو شيانو کي يې يو مخکي ليدلی وي او بل يې ليدلی نه وي ، هغه چي ليدلي يې نه دی د هغه د ليدلو په وخت کي د دواړو شيانو سودا په خيار رويت فسخ کولای سي .

که څوک داسي شی رانيسي چي مخکي يې ليدلی وي خو د سودا په وخت کي حاضر نه وي ، څه مهال چي وې ويني ، که پر مخکني حالت پاته وو د خيار رويت حق نه لري او که په مخکني

حالت کي يې تغيير راغلی وو يعني هغه ډول نه وو لکه څنګه چي ده مخکي ليدلی وو بيا په خيار رويت سودا فسخ کولای سي .

د خيار رويت حق وارثانو ته نه پاتيږي ، که څوک ناليدلی شی رانيسي خو د ليدلو څخه يې مخته وفات سي ، وارثان يې په خيار رويت دا سودا نه سي فسخ کولای .

## خيار عيب

په بيع کي دريم خيار کوم چي په هغه مشتري سودا فسخ کولای سي خيار عيب دی .

## د عيب پېژندنه

خيار عيب په هغه عيب ثابتيږي چي د هغه له کبله د مَبِيعِې په قيمت کي کمي راځي .

په مَبِيعَه کي دا ډول عيب چي لکبله يې په قيمت کي کمي نه راځي پر عيب نه شمېرل کيږي .

البته دا د تجارانو په اصطلاح او عادت پوري

اړه لري چي په کوم عيب يې پروا کوي او په کوم عيب يې پروا نه کوي .

ځکه ځيني شيان داسي دي چي په هغو کي معمولي داغ لا هم عيب بلل کيږي او د شي قيمت په کميږي خو ځيني نور بيا دا ډول شيان هم سته چي ډېر عيب يې لا هم څوک پر عيب نه ګڼي او نه د مَبِيعِې پر قيمت اثر اچوي .

د مَبِيعِې په هغه عيب مشتري سودا فسخ کولای سي چي هغه مشتري نه ليدلی وي او نه په خبر وي .

د مَبِيعِې په هغه عيب مشتري سودا نه سي فسخ کولای کوم چي د سودا په وخت کي يې ليدلی وي يا په خبر وي ، ځکه په هغه دی راضي سوی دی .

دغه ډول که بايع د عيب څخه ځان بري کړي مثلاً : مشتري ته ووايي : دغه شی که ښه دی او که بد دی ، په دونه يې درباندي خرڅوم ، هر

عیب چي پکښي وي ، هغه په ما اړه نه لري ، مشتري که د بایع برائت قبول کړ سودا يې وکړه نو بیا يې په خیار عیب نسي فسخ کولای .

په خیار عیب کي مشتري اختیار لري ، سودا فسخ کوي او که په مخکني ټاکل سوي قیمت يې قبلوي ، خو داسي نه سي کولاي چي مَبِیعَه را وګرځوي او د عیب تاوان يې څني واخلي .

د مثال په ډول یو څوک بایسکل په درې زره افغانۍ رانیسي ، د سودا وروسته د بایسکله په عیب خبر سي مثلاً د بایسکله میل اکسیجن سوی وي ، دلته مشتري په دوو شیانو کي اختیار لري یو دا چي سودا فسخ کړي ، خپلي درې زره افغانۍ د بایع څخه واخلي او یا په هماغه درې زره افغانۍ يې قبول کړي .

خو مشتري داسي نسی کولای چي بایسکل را وګرځوي او د میل د ماتوالي لکبله د درو زرو افغانیو څخه یو مقدار په تاوان کي څني راوګرځوي .

## د مشتري د لاس عيب

كه مَبِيعَه د مشتري په لاس كي معيوبه سي ، وروسته بل داسي عيب هم ورته ښكاره سي چي هغه لا مخته د بايع په لاس كي پكښي پيدا سوی وو ، دلته مشتري د بايع د رضايت پرته سودا نه سي فسخ كولای ، خو د هغه عيب تاوان ځني اخيستلای سي كوم چي د بايع په لاس كي ورته رسېدلی وو .

مثال : كه زيد د بكر څخه په درې زره افغانيو بايسكل رانيسي او دوښاخه يې ځني ماته سي ، د دوښاخي د ماتېدلو وروسته ويني چي د بايسكله ميل لا مخكي د بكر په لاس كي اكسيجن سوی وي ، د ميل په اكسيجن د سودا په وخت كي نه زيد خبر وو او نه يې ليدلی وو .

دلته زيد حق لري چي د بكر څخه د ميل تاوان واخلي البته سودا بيا نسي فسخ كولای ، ځكه بايع يعني بكر تاواني كيږي .

خو که بایع یعني بکر پخپله خوښه که څه هم د بایسکله دوښاخه د زید څخه ماته سوې ده سودا فسخ کوله نو سودا فسخ کولای سي .

## په مَبِیعَه کي زیاتوب

که مشتري پر مَبِیعَه پیسې خرڅي کړي یا داسي کار پر وکړي چي د مَبِیعِې ارزښت او قیمت په زیاتیږي ، وروسته د مَبِیعِې په عیب خبر سي چي هغه د بایع په لاس ورته رسېدلی وي ، دلته هم مشتري حق لري چي د بایع څخه د عیب تاوان واخلي .

پدې صورت کي بایع نه سي کولای چي مشتري ته ووایي : تاوان یې نه درکوم ببېرته زما شی را کړه ، ځکه د فسخ په صورت کي مشتري تاواني کیږي .

## مَبِیعَه له منځه تلل

څوک چي خوراکي شی رانیسي او وې خوري وروسته یې عیب ورته څرګند سي ، ابوحنیفه

رحمه الله وايي : مشتري يې د بايع څخه د تاوان اخيستلو حق نلري .

ابويوسف او محمد رحمهما الله تعالي وايي : مشتري حق لري چي د بايع څخه يې د عيب تاوان واخلي .

مثلاً : يو څوک دوا رانيسي وې خوري وروسته ورته معلومه سی چي دا اول نمبر دوا نه وه کوم چي ده رانيوله ، بلکي دوهم نمبر دوا يې ورکړې وه نو د امام صاحب په آند مشتري د تاوان اخيستلو حق نه لري .

ياران وايي : مشتري د تاوان اخيستلو حق لري ، د اول نمبر او د دوهم نمبر دواو تر منځ چي په قيمت کي څونه تفاوت وي هغونه پيسې به بايع و مشتري ته په تاوان کي ورکوي .

## مَبِيعَه لاس پر لاس کېدل

څوک چي عيب لرونکی شی رانيسي ، خو په عيب يې خبر نه وي ، پر بل چا يې پسي خرڅ کړي .

که دوهم مشتري په خيار عيب دا شی بيرته اول مشتري ته رد کړی ، که اول مشتري په خپله خوښه شی ځني قبول کړی ، دی يې بيا خپل بايع ته نسي رد کولای ، خو که د اول مشتري سره يې سودا د قاضي په حکم فسخ کړې وه بيا اول مشتري حق لري چي مَبِيعَه خپل بايع ته په خيار عيب رد کړي .

## اقاله

د لازمي سوي سودا فسخ کولو ته اقاله وايي ، په بايع او مشتري کي چي هر يو اقاله کوي يعني پخپله خوښه سودا فسخ کوي نو يو و بل ته به هغونه پيسې بيرته ورکوي په څونه پيسو چي يې سودا سره کړې وي .

مثلاً : زید پر بکر په درې لکه افغانۍ موټر خرڅ کړي ، وروسته زید د خپلي اړتیا لکبله د موټر پر خرڅولو پښېماني څرګنده کړي ، بکر ته ووایي : اقاله را سره وکړه یعني سودا را سره فسخ کړه .

که بکر د زید غوښتنه او عذر ومانه ، پخپله خوښه یې اقاله وکړه ، نو زید به د بکر درې لکه افغانۍ بیرته ورکوي څو خپل موټر بیرته واخلي

که بکر یعني مشتري اقاله پدې شرط وکړه چي تر درو لکو افغانیو به څه زیاتي پیسې ورکوي ، بیا هم اقاله صحیح ده ، خو د بکر شرط نه منل کیږي ، زید به فقط درې لکه افغانۍ بیرته ورکوي .

که بکر یعني مشتري پښېماني څرګنده کړه ، د زید څخه یې غوښتنه وکړه چي موټر بیرته په اقاله ځني قبول کړي ، که زید اقاله ورسره کوله

نو د مشتري درې لکه افغانۍ به بیرته ورکوي .

که زید اقاله وکړه خو پدې شرط چې تر درې لکه افغانۍ به کمې پیسې بیرته بکر ته ورکوي ، دلته هم اقاله صحیح ده خو په څونه پیسو چې یې موټر پر خرڅ کړی دی هغونه پیسې به بیرته مشتري یعني بکر ته ورکوي ، ځکه په بایع او مشتري کې چې هر یو اقاله کوي نو اقاله یې د اول ثمن په مقدار کیږي .

اقاله لکه څرنګه چې په ټوله مَبِیعَه کې کېدلای سي دغه ډول د مَبِیعِې یوه برخه هم په اقاله ردېدلای سي .

مثلاً : سړی د برېښنا مزی سل متره بنډل رانیسي ، د مزي اویا متره کار کړي او دیرش متره یې پالتو ورته پاتې سي ، که د پاته دېرشو مترو اقاله وغواړي نو هم کېدلای سي .

## د اقالې ثواب

په بایع او مشتري کي چي هر یو پر سودا پښېمانه سي او د اقالې غوښتنه وکړي هغه بل ته پکار ده چي سودا ورسره فسخ کړي ، ځکه اقاله ډېر ثواب لري ، رسول الله فرمایلي[۳] دي : که څوک د مسلمان سره اقاله وکړي ، الله به د هغه تر لغزشونو ور تېر سي .

[۳] عن أبي هريرة ، قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : « من أقال مسلما ، أقال الله عثرته (١) » « هذا حديث صحيح على شرط الشيخين ولم يخرجاه » ( المستدرک علي الحيحين )

## سود

سود ته په عربي ربا وايي ، د سود د پیژندنې لپاره د لاندي اصطلاحاتو پیژندل ضروري دي .

## قَدْر

قَدْر د شي اندازې ته وايي يعني دا چي يو شی د بل شي برابر وي ، خو دلته د قَدْر څخه مراد د شیانو د اندازې معلومولو شرعي معيار دی ، په تاله خرڅېدونکي شیان په قدر کي يو بلل کیږي ځکه د اندازې معلومولو معيار يې وزن دی ، په پیمانه خرڅېدونکي شیان په قدر کي يو دي ځکه د اندازې معلومولو معيار يې کَیل دی .

## مَکِیل او مَوْزُون

مَکَیْل هغه شي ته وايي چي په پیمانه خرڅیږي د کَیْل معنا پیمانه کول .

نن زمانه کي پطرول په مَکِیلي شیانو کي شمېرل کیږي ځکه چي په لېټر خرڅیږي .

مَوزُون هغه شي ته وايي چي په تاله خرڅیږي د وزن معنا تلل .

ورجي مَوْزُوني دي ځکه چي په کيلو او من کښ خرڅيږي .

غنم ، وربشي ، مالګه او خرما که څه هم نن ورځ په وزن او تاله خرڅيږي خو بيا هم شرعًا مَوْزُوني نه بلل کيږي بلکي د تل د پاره د مَکِيلي شيانو حکم لري .

ځکه چي دا څلور واړه شيان رسول الله ﷺ مَکِيلي بللي دي ، او د رسول الله ﷺ په زمانه کي په صاع يعني په پيمانه خرڅېدل .

سره زر او سپين زر رسول الله صلي الله عليه و سلم مَوْزُوني بللي دي ، نو د تل د پاره شرعًا مَوْزُوني بلل کيږي او اوس هم په وزن او تاله خرڅيږي .

د پورته شپږو شيانو څخه ماسيوا بل هر شی د خلکو په اصطلاح او رواج پوري اړه لري .

کوم شيان چي د رواج له مخي په تاله خرڅيږي هغه د وزني شيانو حکم لري او کوم شيان چي د خلکو د عادت له مخي په پيمانه خرڅيږي هغه د مَکِيلي شيانو حکم لري .

عَدَدي : عَدَدي هغو شيانو ته وايي چي په دانه ګي خرڅيږي لکه کتاب او قلم .

## تفَاضُل

تفَاضُل يو د بل څخه زياتوب ته وايي .

دلته د تفاضل څخه مراد يو شی د هغه څخه په زيات مقدار خرڅولو ته وايي .

مثلاً : يو من په دوه منه خرڅول ، يا يو لېټر په دوه ليټره خرڅول ، يا زر افغانۍ په دوو زرو افغانيو خرڅول د تفاضل سودا بلل کيږي .

نَسَاء : نَسَاء د نون په زور ويل کيږي ، نَسَاء ځنډولو ته وايي خو دلته د نَسَاء څخه مراد د پور سودا ده .

## تَقَابُض

تقَابُض يو د بل څخه اخيستلو ته وايي خو دلته لاس په لاس سودا کولو ته وايي .

جَنس : جَنس ذاتي يووالي ته وايي .

مثلاً : غنم ځان ته جنس دي ، وربشي ځان ته جنس دي او خرما بيا ځان ته جنس دی .

هر جنس ځان ته مختلف انواع یعني بېل بېل ډولونه لري .

## علت

په فقه کي علت هغه شي ته وايي چي د هغه له کبله پر یو شي د جایز یا ناجایز حکم کیږي .

د مثال په ډول : نبي ﷺ فرمایلي[٤] دي : څوک چي هوږه یا پیاز وخوري نو هغه دي زموږ مسجد ته نه را نږدې کیږي .

د دې حکم علت فقهاء کرام بد بویي بولي ځکه د هوږي او پیازو په خوړلو خوله بد بویه کیږي .

دا چي په مسجد کي ګڼ شمېر لمونځ کونکي راغونډیږي نو د چا چي د خولې بد بوی ولاړیږي انسانان لا څه کوې بلکي ملایکي لا هم د هغه د خولې د بد بوی څخه په تکلیفیږي ، نو ځکه یې زجري حکم ورته کړی دی چي دا کس دي زموږ مسجد ته نه رانږدې کیږي .

نو په همدې اساس په هرو خواړو کي چي د بد بویي علت ومندل سي لکه نصوار او ګندنه هغه

---

٤ أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا زَعَمَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ أَكَلَ ثُومًا أَوْ بَصَلًا فَلْيَعْتَزِلْنَا أَوْ لِيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا ( البخاري )

هم د هوږې او پیازو په شان حکم لري یعني خوړل یې ناسم کار دی .

خو که د بد بويي علت یې له منځه ولاړ سي مثلا هوږه په خواړو کي پخه سي او په پخېدلو یې بد بوی ورک سي بیا یې خوړل پروا نه لري ، ځکه چي د کراهیت علت یې له منځه ولاړی .

## د سود حکم

ربَا یعني سود په قطعي ډول حرام دی ، ځکه د الله جل جلاله ارشاد دی : ... وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا...(۲۷۵ البقرة )

ژباړه : الله بیع جایز کړې ده او سود یې حرام کړی دی .

## د ربَا پېژندنه

ربا په لغت کي زیاتوب ته وایي ، یو شی چي زیات سي هغه ته وایي : رَبَا یعني زیات سو .

په شریعت کي ربا هغي سودا ته وایي[۵] چي په شرعي معیار یعني وزن یا کَیْل پدې شرط

---

[۵] تعريف الربا عند الاحناف : فَضْلٌ خَالٍ عَنْ عِوَضٍ بِمِعْيَارٍ شَرْعِيٍّ مَشْرُوطٍ لأِحَدِ الْمُتَعَاقِدَيْن فِي الْمُعَاوَضَةِ . ( الموسوعة الفقهية )

انجامیږي چي یوه تړون کونکي ته به ببڵه عوض څخه زاید شی پکښي ورکول کیږي .

## سودي مالونه

سودي مالونه هغو مالونو ته وایي چي د خپل جنس په مقابل کي به سر په سر او لاس په لاس خرڅیږي ، یو د بل څخه یې زیاتوب هم سود دی او یو یې نقد بل یې پور هم سود دی .

نبي کریم ﷺ شپږ سودي مالونه بیان کړي دي او حکم یې کړی دی چي دا مالونه د خپل جنس په مقابل کي سر په سر او لاس په لاس خرڅوئ .

رَسُولُ اللَّهِ ﷺ فرمایلي دي :

سره زر په سرو زرو ، سپین زر په سپینو زرو غنم په غنمو ، وربشي په وربشو ، خرما په خرما ، مالګه په مالګه سر په سر برابر ، لاس په لاس خرڅیږي ، خو څه مهال چي دا شیان ببڵ ببڵ ډولونه سي بیا څه ډول چي مو زړه وغواړي هغسي یې خرڅوئ خو چي لاس په لاس وي[6] ( مسلم )

---

[6] قال رسول الله صلي الله عليه و سلم : الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الْأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ ( رواه مسلم عن عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ )

تشريح : په پورتني حديث کي رسول الله ﷺ شپږ سودي مالونه ذکر کړي دي ، دغه شپږ شيان که هر شی د خپل جنس په مقابل کي پلورل کېدی د جواز د پاره يې دوه شرطونه دي ، يو دا چي په مقدار کي به دواړه برابر وي ، بل دا چي سودا به لاس په لاس وي .

د بېلګي په ډول : څوک د سرو زرو اميل دوکاندار ته ورکوي او په عوض کي يې د سرو زرو بل اميل ځني رانيسي ، دغه دوه اميلونه که څه هم يو د بل سره په جوړښت کي فرق ولري يعني يو ښه جوړ سوی وي نوی ډيزاين وي ، بل بيا زوړ ډيزاين وي ، د دغي سودا د روايښت د پاره نبي کريم ﷺ دوه شرطونه بيان کړي دي ، په دغو دوو شرطونو کي که يو شرط لا هم پر ځای نه سي بيا دا د سود په سودا کي شمېرل کيږي او حرامه ده .

دا دوه شرطونه دادي : يو خو به مِثْلاً بِمِثْل وي يعني دواړه به په مقدار کي برابر او سر په سر وي .

که يو اميل سل ګرامه وو هغه بل اميل به هم سل ګرامه وي ، که هغه بل تر سل ګرامه کم وو بيا

به يې په نورو سرو زرو وزن برابروي يا به د اضافي وزن په عوض کي پيسې ورکوي .

که داسي و نکړي تفاضل په کښي راځي ، يو تر بل زياتيږي ، د سودي مالونو تفاضل حرام او سود دی .

د سودي مالونو په سودا کي دوهم شرط يَدًا بِيَدٍ به وي يعني لاس په لاس د نقدو سودا به وي ، دواړه به په هماغه د سودا په مجلس کي يو و بل ته اميل تسليموي .

که يو اميل اوس ور تسليم کړي او هغه بل يې

وروسته ورته راوړي دا هم په سودي سودا کي شمېرل کيږي .

همدا ډول سپين زر په سپينو زرو ، غنم په غنمو وربشي په اوربشو ، خرما په خرما ، مالګه په مالګي خرخول به هم سر په سر او هم به لاس په لاس وي .

که تفاضل پکښي راسي ، يو يې زيات بل يې کم وي ، يا نَساء يعني پور پکښي راسي يو يې نقد او بل يې پور وي نو زياتوب او پور يې سود بلل کيږي او سود په قطعي ډول حرام دی .

## د سود علت

الله عَزَّوَجَلَّ په قران کريم کي په لنډ ډول د سود حرمت بيان کړی دی ، نبي کريم ﷺ د سودي مالونو شپږ توکي راته ښودلي دي .

مجتهدينو لکه امام ابوحنيفه ، امام مالک ، امام شافعي او امام احمد حنبل رَحِمَهُمُ اللهُ هر يوه په خپل هاند او اجتهاد د همدې شپږو شيانو د تفاضل او نَساء د حرام والي علت څېړلی دی .

ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ د سود علت جنس او قدر بولي . ځکه چي په دغو شپږو شيانو کي سره زر او سپين زر مَوْزُوني دي په تاله خرڅيږي ، پاته څلور يې مَکِيلي دي ، د رسول الله په زمانه کي په پيمانه پلورل کېدله .

دغه شپږ شيان که هر يو د خپل جنس په مقابل کي پلورل کېدی نو يو د بل څخه يې زياتوب او هم يې د پور سودا رسول الله ﷺ منع کړې ده او که يو جنس د بل جنس سره تبادله کېده هلته يې تفاضل جايز خو پور يې منع کړی دی ، د دې څخه دا جوتيږي چي هم جنسي او هم قدري تفاضل او پور دواړه حراموي او يوازي هم

قدري يا يوازي هم جنسي د نَساء يعني د پور پلور حراموي .

د شيانو خپل منځي ذاتي يووالي ته جنس وايي ، مثلاً غنم د غنمو هم جنس دي ، سره زر د سرو زرو هم جنس دي .

قدر كَيْل او وزن ته وايي ، په پيمانه خرڅېدونكي شيان لكه غنم او وربشي يو د بل هم قدره دي ، ځكه د اندازې په وصف كي مشترک دي ، دواړه مَكِيلي دي او په كَيْل پلورل كيږي .

سره زر او سپين زر هم قدره دي ځكه د اندازې په وصف كي مشترک دي ، دواړه مَوْزُوني دي ځكه په وزن خرڅيږي .

دا چي جنس او قدر د سود علت دی نو هرهغه شی چي هغه په تاله خرڅيږي كه په خپل هم جنس پلورل كېدی بايد سر په سر او لاس په لاس خرڅ سي .

همدا ډول هرهغه شی چي هغه په پيمانه خرڅيږي كه په خپل هم جنس پلورل كېدی بايد سر په سر او لاس په لاس وپلورل سي .

كه يو مَكِيلي جنس لكه غنم په بل مَكِيلي جنس

لکه وربشي پلورل کېدل هلته که د يوه د پيمانې مقدار زيات د بل دا کم وي نو پروا نه کوي خو سودا به يې لاس په لاس وي .

يوه صاع غنم په دوو صاعو وربشي خرڅول جايز دي البته لاس په لاس به وي ، ځکه نَساء يعني يو نقد بل يې پور حرام دی .

دغه ډول هرهغه شی چي هغه په تاله خرڅيږي که په خپل هم جنس پلورل کېدی بايد سر په سر او لاس په لاس وپلورل سي .

که يو مَوْزُوني جنس لکه سره زر په بل مَوْزُوني جنس لکه سپين زر پلورل کېدی هلته که د يوه وزن زيات د بل دا کم وي نو پروا نه کوي خو سودا به يې لاس په لاس وي .

سره او سپين زر که څه هم بېل بېل جنسونه دي خو دا چي د قدر په صفت کي يو دي يعني دواړه په تاله خرڅيږي ، که يو د بل سره تبادله کېدله سودا به يې لاس په لاس وي .

# د بيع ډولونه

بيع د حکم په اعتبار څلور ډوله ده :

نافذه بيع ، موقوفه بيع ، فاسده بيع ، باطله بيع

نافذه بيع هغي سودا ته وايي چي ځای پر ځای سودا صحيح او لازمه سي .

موقوفه بيع هغي سودا ته وايي چي ځای پرځای لازمه نه سي بلکي د بل په اجازه پوري اړه ولري .

فاسده بيع هغي سودا ته وايي چي په شرعي طريقه و نه کړله سي ، بايع او مشتري ته په کار وي چي سودا فسخ کړي ، خو بيا هم که يو د بل څخه مال تسليم کړي د هغه مالکان ګرځي .

باطله بيع هغي سودا ته وايي چي په هغه کي مَبِيعَه مال نه وي ، په باطله بيع کي په تسليمۍ سره لا هم بايع او مشتري د مبيعي او ثمن مالک نه ګرځي ، ځکه د بيع د رکن د نشته والي لکبله بيع د اصل څخه صحيح نه ده .

اصطلاحات :

د بيع د مخكنيو ډولونو د تفصيلي بيان څخه وړاندي د راتلونكو اصطلاحاتو پېژندل ضروري دي .

مال : مال هغه شي ته وايي چي د انسان طبيعت هغه ته ميلان كوي او د ضرورت د وخت د پاره ساتل كېدلاى سي .

منفعت : منفعت هغه شي ته وايي چي طبيعت ميلان ورته كوي خو د بل وخت د پاره ساتل كېدلاى نه سي .

مثلاً : سراى مال دى خو په سراى كي اوسېدل د سراى منفعت بلل كيږي ، ځكه چي د نن ورځي هستوګنه يې سبا ته نسي ساتل كېدلاى .

ماليت : د يو شي ماليت د ټولو خلكو يا د يو شمېر خلكو په تمول يعني مال ګرځولو ثابت كيږي .

هغه شى چي هيڅوک يې هم په كار نه لري هغه ته مال نه ويل كيږي .

مال مُتَقَوِّم : مال مُتَقَوِّم هغه مال ته وايي چي د هغه څخه استفاده او ګټه اخيستل په شريعت كي جايز وي .

مثلاً : خنزير مال بلل کیږي ، ځکه چي کفارو ته داسي قدر لري لکه موږ ته چي پسه قدر لري ، لیکن د مسلمان په حق کي مُتَقَوِّم مال نه دی ، ځکه د خنزير څخه استفاده او ګټه اخیستل د مسلمانانو د پاره ناجایزه ده .

دغنمو فقط یوه دانه مال نه بلل کیږي ، ځکه د غنمو یوه دانه څوک په کار نلري ، لیکن مُتَقَوِّم شی بلل کیږي ، ځکه د غنمو د یوې داني څخه هم که څوک استفاده کوي په شریعت کي جواز ورته لري .

## باطله بیع

د بیع په تعریف کي مو ولوستل چي مال په مال بدلولو ته بیع وایي ، مال مو هم وپېژندی چي مال هغه شي ته وایي چي د خلکو طبیعت هغه ته لېوالتیا ولري او د اړتیا د وخت د پاره ساتل کېدلای سي .

د مردار سوي حیوان یا د وینو سودا باطله ده ، ځکه مردار سوی حیوان او وینه مالونه نه دي او مال په غیر مال پلورلو ته بیع نه وایي .

## د باطلي بيع حکم

باطله بيع د اصل او ريښې څخه نه صحيح کيږي مثلاً : که څوک پر بل چا وينه يا مردار سوی حيوان خرڅ کړي نو هغه پيسې چي بايع يې د مشتري څخه د وينو يا مردار سوي حيوان په تبادله کي اخلي هغه د بايع ملکيت نه ګرځي او نه په هغه کي د تصرف حق لري بلکي د پخوا په شان د مشتري دي .

## فاسده بيع

په غير شرعي طريقه سودا کول بيع فاسدوي ، د فاسدي بيع مختلف صورتونه دي .

اول : تر نامعلومه وخته د پور سودا کول .

د پور سودا ته په عربي بيع اجل وايي ، د پور په سودا کي د پيسو ميعاد او نېټه معلومول ضروري دي .

د پور سودا په قسطو هم کېدلای سي ، د پور په سودا کي که د پيسو ورکولو ميعاد و نه ټاکل سي نو بيع فاسديږي .

دوهم : داسي شی خرڅول چي هغه د چا په ملکيت کي نه وي ، يا يې تسليمول د بايع په واک کي نه وي .

مثلاً : د اوبو ماهيان او د هوا مرغان تر نيولو او ښکارولو دمخه خرڅول .

د هوا مرغان او د اوبو ماهيان مُبَاح دي يعني د هيچا په ملکيت کي نه دي ، هرڅوک چي يې ونيسي هغه يې مالک ګرځي .

همدا ډول د هغو مرغانو خرڅول هم فاسد دي چي تر نيولو وروسته ځني په هوا سي ، ځکه هغه که څه هم د بايع ملکيت بلل کيږي خو بايع يې پر تسليمولو قدرت نه لري .

دريم : داسي شی خرڅول چي په تسليمولو يې بايع ته ضرر رسيږي مثلاً : د خوني د چت ګاډر خرڅول يا د لونګی څخه يو متر ټوټه خرڅول .

د داسي شيانو پر تسليمولو که څه هم بايع قدرت لري خو بيا يې هم سودا فاسده ده ، ځکه چي د ګاډر په تسليمولو کي به بايع د خوني چت نړوي او د لونګی څخه د يوه متر ټوټې په پرې کولو پاته لونګی خرابيږي ، پدې صورتونو کي بايع ته

ضرر رسیږي نو ځکه يې سودا فاسده ده .

لیکن که بایع چټ ونړوي یا لونګی پرې کړي سودا صحیح کیږي ، بیا یې مشتري د فسخ کولو حق نه لري .

ځلورم : مَبِیعَه د داسي وصف په شرط خرڅول چي هغه د غرر یعني دوکه یز او تېرایستونکی وصف وي مثلا غوا پدې شرط خرڅه کړي چي پر وخت دونه شیدې کوي ځکه پر وخت ټاکلی مقدار شیدې کول یو احتمالي وصف دی نو ځکه یې سودا هم فاسده ده .

پنځم : داسي مال رانیول چي هغه مُتَقَوِّم نه وي یعني د هغه څخه هر ډول استفاده کول شرعاً ناجایزه وي .

شراب او خنزیر غیر مُتَقَوِّم مالونه دي ، شراب او خنزیر که په پیسو رانیول سي ، سودا یې باطله ده ځکه پدې سودا کي پیسه مَبِیعَه نسي ګرځېدلای .

که د شرابو یا خنزیر سودا د سلعې په تبادله کي وسي هلته بیا سودا فاسدیږي ، ځکه دلته بیا سِلْعَه مَبِیعَه ګرځول کیږي او د سودا مقصودي

شی هم مَبِیعَه ده شراب یا خنزیر د هغه ثمن ګڼل کیږي ، په سودا کي ثمن مقصودي نه دی .

شپږم : په سودا کي داسي شرط ایښول چي هغه د بیع د غوښتونو څخه نه وي خو د بایع یا مشتري په ګټه وي مثلاً : بایع سرای پدې شرط خرڅ کړي چي یوه میاشت به نور بایع په کښي اوسیږي وروسته له هغه به یې مشتري ته تسلیم کوي یا سرای پدې شرط پر خرڅ کړي چي مشتري به بایع ته یو مقدار پیسې هم په پور ورکوي .

په دغه ډول شرطونو سودا فاسدیږي ځکه چي بیع د دا ډول شرطونو تقاضا او غوښتنه نکوي .

دغه ډول که مشتري مثلاً ټوکر پدې شرط رانیسي چي بایع به د هغه څخه کالي ور رغوي یا شپشتي پدې شرط رانیسي چي بایع به یې ور ریبي .

په داسي شرطونو هم سودا فاسدیږي ، ځکه بیع د دا ډول شرطونو تقاضا نکوي او پدې شرطونو کي بیا د مشتري ګټه ده .

نبي علیه‌السلام د بیع او شرط څخه منع کړې ده ځکه

نو پورته سوداوي فاسدي دي .

ليکن که په بيع کي داسي شرط کښېښنول سي چي هغه د خلکو عام معمول وي نو بيا د تعامل لکبله بيع او شرط دواړه جايز بلل کيږي .

دغه ډول هغه شرط چي په هغه سره د ثمن يا د مبيعي صفت ځرګنديږي هم جواز لري ، ځکه د مَبِيعِې او ثمن صفات چي هر څونه واضح کيږي په هغونه اندازه يې د تسليمي په وخت د اختلاف احتمال ورکيږي .

مثلا : سودا پدې شرط وکړي چي ثمن به غټي پيسې وي يا ثمن به مُؤَجَّل يعني تر معلوم وخت په پور وي يا مَبِيعَه رانيسي پدې شرط چي د فلاني وطن جوړ او توليد به وي په دا ډول شرطونو بيع نه فاسديږي .

ځيني شرطونه داسي هم سته چي په هغو سودا نه فاسديږي خو شرط پخپله باطليږي او اعتبار نه ورکول کيږي مثلاً : که څوک موټر پدې شرط خرڅ کړي چي مشتري به يې نه خرڅوي دغه شرط لره هيڅ اعتبار نه ورکول کيږي .

اوم : نامعلوم شی خرڅول هم بيع فاسدوي مثلاً :

که څوک د څو ټوکرانو له منځ څخه یو نامعلوم ټوکر خرڅ کړي دلته هم سودا فاسدیږي ، ځکه دا ډول سودا د اختلاف او نزاع سبب ګرځي .

په ټوکرانو کي ښه او بد سته ، مشتري به ښه ټوکر ځني غواړي خو بایع به بیکاره ټوکر ورکوي .

دغه ډول هر هغه شی چي په خپل منځ کي یو د بل څخه تفاوت لري لکه غوایي ، پسونه او داسي نور ، لیکن که د څو ټوکرانو څخه یو ټوکر خرڅ کړي او د هغه په تعیین او معلوملو کي مشتري ته اختیار ورکړي بیا یي سودا صحیح ده .

## د فاسدي بیع حکم

په فاسده سودا کي که مشتري د بایع په اجازه مَبِیعَه واخلي ، مشتري یې مالک ګرځي ، خو پر مشتري یې د قبضولو د ورځي قیمت یعني د بازار نرخ لازمیږي .

په فاسده بیع کي بایع او مشتري دواړه شرعاً حق لري چي سودا فسخ کړي .

په فاسده سودا کي که مشتري د بایع په اجازه مَبِیعَه واخلي او وروسته په مَبِیعَه کي نه

بېلېدونکی زیاتوب راسي بیا یې بایع د فسخ کولو حق نه لري مثلاً : په فاسده سودا کي ټوکر رانیول سي او مشتري د هغه څخه کالي جوړ کړي یا رنګ ورکړي .

که په فاسده سودا کي مَبِیعَه د مشتري په لاس کي په آسماني آفت خرابه سي یا خپله د مشتري څخه خرابه سي بیا بایع حق لري چي د مَبِیعِې سره د نقصان تاوان هم د مشتري څخه واخلي .

## ممنوعه سوداوي

نبي کریم ﷺ راتلونکي سوداوي منع کړي دي :

اول : نَجَش : د بل د تېرایستني د پاره د بایع څخه په ګران قیمت د شي غوښتلو ته نَجَش وایي

د مثال په ډول د بایع ملګری د مشتري په مخ کي د مَبِیعِې قیمت وپوښتي او په ګران قیمت یې ځني وغواړي خو د رانیولو اراده یې نلري بلکي مشتري په تېرباسي ، مشتري ته ځان داسي ښکاره کوي لکه دی چي هم د دې شي رانیونکی دی تر څو هغه تیر باسي ، هغه ته داسي فکر پیدا کړي چي د بایع قیمت مناسب دی ځکه نو بل رانیونکی هم لري .

دوهم : السَوم علي سَوم غيره : د بل په سودا کي ور ولېدلو ته سوم علي سوم غيره وايي .

که بايع او مشتري د شي پر قيمت موافقې ته ورسيږي خو فقط د سودا ايجاب او قبول ته خبره پاتي وي نو بل کس ته په دې سودا کي ور ولېدل يا بالادوې پر وهل ناجايز کار دی .

البته که د بايع او مشتري تر منځ ايجاب او قبول وسي هلته بيا سودا لازميږي ، بل يې په بالادوي لا هم نسي ځني ګرځولای .

د يادوني وړ ده د ليلام سودا جايزه ده ، د ليلام سودا په سوم علي سوم غيره کي نه راځي ، د ليلام سودا ته په عربي بَيْعُ مَنْ يَزِيدُ وايي .

د ليلام په سودا کي که څه هم مشتريان يو پر بل قيمت زياتوي بيا هم جايزه ده ځکه چي نبي عليه‌السلام د ليلام سودا کړي ده ، بل دا چي په ليلام کي بايع د اولو مشتريانو په نرخ شی نه ورکوي او نه په راضي دی ، بلکي د هغه چا په نرخ شی خرڅوي چي د هغه نرخ تر ټولو لوړ وي .

دريم : تَلَقِّي الْجَلَبِ : يو ښار ته چي د بل ځای څخه شيان راځي هغه ته جَلَب وايي ، تَلَقِّي الْجَلَبِ

دې ته وايي چي په ښار کي ګراني وي ، خلک خوراکي موادو ته اړتیا ولري ، ښار ته چي د خوراکي موادو قافله راځي ، د هغې مخي ته یو څوک ور ووځي ، هلته ټول مواد ځني رانیسي ، پخپل لاس کي يې انحصار کړي بیا يې پر ښاریانو په ګران قیمت خرڅوي .

ځکه په تَلَقِّي الْجَلَبِ نورو مسلمانانو ته ضرر رسیږي .

خو که د ښار خلکو ته يې ضرر نه رسېدي بیا پروا نه لري .

څلورم : بَيْعُ الْحَاضِرِ لِلْبَادِي : بَيْعُ الْحَاضِرِ لِلْبَادِي دې ته وايي چي ښاري سړی قافلې والا ته ووايي شیان دي ماته راکړه ، زه يې په ګران قیمت درخرڅوم ځکه ستا څخه په ارزانه قیمت د لاسه وځي یا دا چي د ښار خلک موادو ته اړتیا ولري خو دوکانداران يې پرښاریانو نه خرڅوي بلکي پر اطرافیانو يې په ګران قیمت خرڅوي .

داسي سودا د عامو خلکو د ضرر او زیان لکبله منع سوې ده ، خو که نورو ته يې زیان او ضرر نه رسېده بیا پروا نه کوي .

پنځم : د جمعې په ورځ تر زوال وروسته چې د جمعې آذان ناري سي نو د جمعې د آذان څخه نيولې بيا د جمعې د لمانځه د ادا کولو تر مهاله سودا کول هم مکروه ده ، ځکه د جمعې د لمانځه د اول اذان څخه به خلک رانيول او خرڅول پرېږدي د لمانځه د پاره به تياري نيسي .

## اِحتِکَار

اِحتِکَار په لغت کي د ګراني په انتظار د يو شي راګرځولو ته وايي .

مُحتَکِر هغه چا ته وايي چي د ګراني د پاره خوراکي توکي د بازار څخه راګرځوي .

په شريعت کي اِحتِکَار دې ته وايي چي څوک اَقوَات يعني د انسانانو او حيوانانو د پايښت خوراکې مواد لکه غنم ، وربشي ، پوړې ، شپيشتي او داسي نور د ګرانۍ په انتظار راګرځوي .

اِحتِکَار هغه وخت حرام دی چي د موادو تنګي وي او خلکو ته يې ضرر رسيږي ، که په يو ښار کي د خوراکې توکو پراخي وه او په اِحتِکَار خلکو ته زيان نه رسېدی هلته بيا پروا نه کوي .

دغه ډول که څوک د خپلې مځکې غله او حاصل د ګرانۍ د پاره ساتي دا هم په اِحتِکَار کي نه راځي ځکه دا يې خپل حق دی .

دغه رنګه که څوک د بل هيواد يا بل ښار څخه د انسانانو او حيوانانو د پايښت خوراکي توکي لکه غنم ، وربشي ، پړوړ او شپشتي واردوي او بيا د ګرانۍ په اميد راګرځوي دا هم په اِحتِکَار کي نه راځي ، ځکه چي رسول الله ﷺ د خوراکي توکو واردونکی مرزوق بللی دی يعني الله يې په رزق کي برکت پيدا کوي او اِحتِکَار کونکی يې ملعون بللی دی[۷] .

د ابوحنيفه رحمة الله عليه په آند اِحتِکَار يوازي په هغو شيانو کي منع دی چي هغه د انسانانو او حيوانانو قوت وي يعني په ورځني ژوند کي اړتيا ورته لري او په پايي البته د قوت څخه ماسيوا نور شيان که څوک د ګرانۍ د پاره د بازار څخه ټولوي په هغه کي اِحتِکَار نه راځي .

د ابويوسف رحمة الله عليه په آند د هر شي په تنګۍ که خلکو ته زيان او ضرر رسېدی د هغه اِحتِکَار

---

[۷] عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَالِبُ مَرْزُوقٌ وَالْمُحْتَكِرُ مَلْعُونٌ ( ابن ماجه )

حرام دی ، که څه هم ټوکران یا سره او سپین زر وي .

## د اِحتِکَار مده

د لږ مدې د پاره د یو شي را ګرځول په اِحتِکَار کي نه راځي ، ځکه د لږ مدې په راګرځولو یې خلک نه متضرر او زیانمن کیږي ، بلکي په ډېره مده را ګرځولو یې خلکو ته زیان رسیږي .

ډېره مده څوک میاشت ګڼي او څوک یې بیا څلویښت ورځي ګڼي ، ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي[٨] دي : که څوک خوراکه څلویښت شپې راوګرځوي هغه په حقیقت کي د الله څخه بېزار دی او الله د هغه څخه بېزار دی .

## د مُحتَکِر د مال پلورل

د تنګۍ او اړتیا په مهال کي به قاضي مُحتَکِر ته امر کوي تر څو هغه د خپل ځان او عیال څخه پالتو خوراکه په بازار کي وپلوري ، که دوهم ځل یې بیا قاضي ته شکایت وسو او اِحتِکَار ته یې ادامه ورکول د قاضي لخوا دي وعظ او هم تهدید ورته ورکړه سي .

[٨] مَنْ احْتَكَرَ طَعَامًا أَرْبَعِينَ لَيْلَةً فَقَدْ بَرِئَ مِنْ اللَّهِ وَبَرِئَ اللَّهُ مِنْه

که بیا یې هم اِحتِکَار کاوه ، بیا دي یې قاضي بندي او زجر کړي او په زور دي مالونه په خرڅ کړي او که خپله یې نه خرڅول نو قاضي دي یې د ورځې په نرخ وپلوري .

## تسعير

تسعیر د نرخ ټاکلو ته وايي ، سلطان او آمر ته نه ښايي چې د خلکو مالونو ته نرخ وټاکي ، ځکه خلک د خپلو شیانو مالکان دي ، دا د خلکو حق دی چې په څومره قیمت خپل شی خرڅوي او په څومره یې بیا نه پلوري .

رسول الله ﷺ هم فرمایلي دي[۹] : تاسو د خلکو مالونو ته نرخ ما ټاکئ ، ځکه چې الله نرخ ایښونکی ، تنګي جوړونکی ، پراخي راوستونکی او رزق ورکونکی دی .

البته که د مالونو څښتنانو د شیانو د ارزښت څخه نرخونه ډېر زیات جګول او عامه خلکو ته یې ضرر رسېدی هلته بیا حاکم د عامه خلکو څخه د ضرر د مخنیوي د پاره د ژوندانه اړینو شیانو ته د فکر او نظر د څښتنانو په مشوره نرخ ټاکلای

---

۹ لَا تُسَعِّرُوا فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّازِق

سي .

خو د مالونو مالکان به په ټاکل سوي نرخ پلورلو ته نه اړ باسي ، بلکي پلورنکي به تر ټاکل سوي نرخ څخه په ګران قیمت د پلورلو څخه د عامه خلکو د مصلحت لکبله منع کوي .

## د ګټې او تاوان سودا

بیع د ګټې او تاوان په اعتبار هم څلور ډوله ده : مُسَاوَمه ، وَضِیعَه ، تَوْلِیَةٌ ، مُرَابَحَةُ .

## مُسَاومة

مساومه هغي سودا ته وایي چي په هغه کي د ګټې او تاوان یادونه و نه کړل سي ، بلکي په هر څو چي د بایع او مشتري موافقه سول سودا سره وکړي .

## وَضِیعَة

وضیعه هغي سودا ته وایي چي په هغه کي شی تر خپل سر کم یعني په معلوم مقدار تاوان خرڅ کړل سي .

## تَولِيه

تَوْلِيَةٌ هغي سودا ته وايي چي په هغه کي شی په خپل سر خرڅ کړل سي .

## مُرَابَحة

مُرَابَحَةُ هغي سودا ته وايي چي په هغه کي شی په معلوم مقدار ګټه خرڅ کړل سي .

### د مُرَابَحې تفصيل

يو شی تر خپل سر اضافه په معلوم مقدار ګټه خرڅول مُرَابَحَةُ بلل کيږي .

مثلاً : يو سړی يو شی په يو لک افغانۍ رانيسي مشتري ته ووايي : دا شی ما په يو لک افغانۍ رانيولی دی خو زه يې پر تا په لس زره افغانۍ ګټه خرڅوم يا مشتري يې په لس زره افغانۍ ګټه ځني وغواړي .

دغي سودا ته د مرابحې سودا وايي ، د مرابحې سودا د تَوْلِيَةٌ او وضيعې په شان امانتي سودا ده

ځکه چي مشتري يې د بايع په قول او اعتماد رانيسي .

د مرابحې په سودا کي بايد د مَبِيعِې د رانيولو قيمت او هم د ګټې مقدار معلوم کړل سي .

که د مَبِيعِې د رانيولو قيمت او د ګټې مقدار د سودا په مجلس کي معلوم نه کړل سي نو سودا يې نه صحيح کيږي ، ځکه ثمن يې مجهول يعني نامعلوم پاتيږي .

که څوک شی را نيسي او پر هغه داسي مصرف وکړي چي د مَبِيعِې قيمت په زياتيږي مثلاً : ساده ټوکر رانيسي او خامک پر وکړي يا په صحرا کي غنم رانيسي ښار ته يې په کرايه را نقل کړي

داسي خرڅونه د مرابحې په سودا کي د شي پر قيمت وليږي .

دغه ډول شی چي پر هغه داسي خرڅ راغلی وي چي د شي په ارزښت کي زياتوب راولي که څوک په مُرَابَحَةُ پلوري مشتري ته به داسي نه وايي چي ما په دونه رانيولي دی ، بلکي داسي به

ورته وايي چې ما ته په دونه تمام دی يا په دونه را ته پرېوتی دی .

د مرابحې په سودا کې که بايع خيانت وکړي مشتري ته د شي د رانيولو په قيمت کې يا يې د تمامېدلو په مبلغ کې درواغ ووايي او وروسته مشتري په خبر سي چې بايع خيانت ورسره کړی دی ، د شي قيمت يې زيات ورته ويلی دی نو د خيانت تر اثبات وروسته د مشتري اختيار دی که سودا فسخ کوي او که په هغه فيصله سوي قيمت يې ځني قبلوي البته دا د ابو حنيفه رحمة الله عليه او محمد رحمة الله عليه قول دی .

ابويوسف رحمة الله عليه وايي : هر څونه خيانت چې يې ورسره کړی وي هغوني پيسې يې د ثمن څخه ځني کمولای سي .

د بايع خيانت يا د بايع په اقرار ثابتيږي يا د شاهدانو په شهادت ثابتيږي يا د خيانت پر نه کولو د قاضي په مخ کې د قسم اخيستلوڅخه په انکار کولو ثابت کيږي .

# تَوْلِيَةٌ

يو شی په خپل سر يا په څونه چي تمام سوی وي خرڅول تَوْلِيَةٌ بلل کيږي مثلاً : بايع مشتري ته وايي : دا شی ما په دونه رانيولی دی يا ماته په دوني تمام سوی دی ، په هماغه خپل سر يې درکوم يا په څونه چي را ته تمام سوی دی په هغونه يې درباندي خرڅوم ، نه تاوان پر کوم او نه ګټه درباندي کوم .

د توليې په سودا کي هر هغه مصرف چي د يو شي په قيمت کي زياتوب راولي د شي پر اصلي قيمت اضافه کيږي ، خو د سودا په وخت کي به ورته وايي په دونه را ته تمام سوی دی يا په دونه راته پرېِ وتي دی .

د توليې سودا هم د امانتي سوداوو د جملې څخه ده ، که بايع خيانت پکښي وکړي ، ده چي په څوني رانيولی وي يا ده ته چي په څونه پرېِ وتی وي تر هغه زيات نرخ مشتري ته وايي او مشتري وروسته په خبر سي ، د ابوحنيفه او

ابویوسف رحمهما الله تعالی په وینا په هغه اندازه پیسې یې د ثمن څخه کمولای سي څونه چي یې تر خپل سر زیاتي ورته ویلي دي .

امام محمد وایي : مشتري اختیار لري که سودا یې فسخ کول هم کولای سي او که یې په هغه طی سوي قیمت قبلول هم اختیار لري .

تَوْلِیَةٌ لکه څنګه چي په ټوله مَبِیعَه کي کېدلای سي دغه ډول د مَبِیعِې په یوه برخه کي هم کېدلای سي .

د مَبِیعِې په یوه برخه کي تَوْلِیَةٌ کول اشتراک یعني شراکت دی ، ځکه څوک چي مثلا د مَبِیعِې نیمه برخه په تَوْلِیَةٌ پر بل چا خرڅوي نو دی هغه د ځان سره په نیمه مَبِیعَه کي شریک کوي .

## مثلي او قِیَمِيّ

مُرَابَحَةُ او تَوْلِیَةٌ په هغه شي کي کېدلای سي چي هغه په مثلي ثمن رانیول سوی وي .

رواجي سيکې ، مَکِيلي او مَوْزُوني شيان لکه غنم بوره په مثلي شيانو کي راځي .

قِيَمِيّ شی هغه ته وايي چي د هغه د جنس هر عدد ځان ته په بېل بېل قيمت خرڅيږي لکه غواوي يا مستعمل موټران چي هر عدد يې ځان ته بېل بېل ارزښت لري .

يو شی که په قِيَمِيّ ثمن رانيول سي د هغه سودا په مُرَابَحَةُ او تَوْلِيَةٌ نه صحيح کيږي ، ځکه د رانيولو سر يې نه معلوميږي .

مثلا : که څوک موټر په بل موټر مالچه کړي ، دا موټر په مُرَابَحَةُ او تَوْلِيَةٌ نسي خرڅېدلای ، ځکه ثمن يې هم موټر دی او موټر قِيَمِيّ دی ، خو که څوک بيا موټر مثلا : په پنځو خروارو غنمو رانيسي دا موټر په مُرَابَحَةُ او تَوْلِيَةٌ خرڅولای سي ، ځکه ثمن يې مثلي دی ، د رانيولو سر يې معلوم دی ، که په تَوْلِيَةٌ يې خرڅاوه د مشتري څخه به پنځه خرواره غنم اخلي ، که په مُرَابَحَةُ يې خرڅاوه په څونه ګټه

چې يې سودا کړې ده هغوني غنم به تر پنځو خروارو اضافه ځني اخلي .

وضيعه د توليې په شان ده او مساومه تفصيل نه غواړي .

## بيع د مبيعې په اعتبار

بيع د مَبِيعِې په اعتبار هم پر څلور ډوله ده .

مُطْلَق ، مُقَايَضَه ، صرف ، سلم .

مُطْلَق بيع عادي سودا ته وايي کوم چې په عام ډول يې خلک کوي ، بايع سِلعَه ورکوي، مشتري يې په عوض کې پيسې ورکوي ، سِلْعَه د خرڅلاو شي او سامان ته وايي .

مُقَايَضَه هغې سودا ته وايي چې بايع او مشتري دواړه يو د بل سره په سِلْعَه سودا وکړي ، د مقايضې سودا ته په پښتو مالچه وايي .

صَرف صرافي ته وايي ، يعني يوه سکه په بله سکه تبادله کول ، دغه ډول زر په زرو يا پيسو خرڅول هم شرعًا صرافي بلل کيږي .

سلم هغي سودا ته وايي چي ثمن يعني پيسې اوس ورکوي او مَبِيعَه وروسته په ټاکل سوې مده کي ور تسليم کوي .

مخکي مو ولوستل چي بيع د مَبِيعِې په اعتبار پر څلور ډوله دي : مطلق بيع ، مُقَايَضَه ، صَرف او سَلَم .

مطلق بيع تفصيل نه غواړي ځکه چي مطلق بيع همدا عادي سوداو ته وايي ، بايع سِلْعَه ورکوي سِلْعَه د خرڅلاو شي ته وايي او مشتري يې په عوض کي پيسې ورکوي .

مُقَايَضَه هغي سودا ته وايي چي بايع او مشتري دواړه يو د بل سره په سِلْعَه سودا وکړي ، د مقايضې سودا ته په پښتو مالچه وايي ، مُقَايَضَه هم تفصيل ته اړتيا نه لري .

لهذا په راتلونکو دوو فصلونو کي د صرف او سلم تفصيلي بيان درته وړاندي کوو .

# صرف

صرف صرافي ته وايي ، په شريعت كي صرف هغي سودا ته وايي چي عوضونه يې د ثمن د جملې څخه وي يعني سره زر يا سپين زر وي .

د سود په فصل كي مو ولوستل چي سودي مالونه كه هر يو د خپل جنس سره تبادله كېدی لاس په لاس او سر په سر به وي .

همدا ډول د سود د حرمت علت مو هم وپېژندی چي جنس او قدر دي .

د همدې علت لكبله تفاضل او نَسَاء يعني يو د بل څخه يې زياتوب او پور دواړه حراميږي بلكي سر په سر او لاس په لاس به خرڅيږي .

كه د جنس او مقدار څخه يې يو صفت وو او بل صفت يې نه وو مثلا : يو مَكِيلي شی په بل مَكِيلي شي لكه غنم په وربشو پلورل كېدله يا يو مَوْزُوني شی په بل مَوْزُوني شي لكه سره زر په

سپينو زرو خرڅېدل بيا يې تفاضل جايز دی ليکن پور يې ناجايز دی .

همدا ډول که غير مَکِيلي او غير مَوْزُوني شی د خپل همجنس په مقابل کي خرڅېدی هلته هم تفاضل جايز دی او پور يې ناجايز دی ځکه د سود د علت د يوه صفت د شتون لکبله يې يوازي نَسَاء حراميږي .

مروجه سکې لکه افغانۍ ، تومن او کلداري د سرو او سپينو زرو حکم لري ، لکه څنګه چي سره زر په سرو زرو خرڅول يا سپين زر په سپينو زرو خرڅول بايد سر په سر او لاس په لاس وي د دغو سيکو تبادله هم بايد د خپل جنس په مقابل کي سر په سر او لاس په لاس وي .

که سره زر په سپينو زرو خرڅېدل بيا يې يو د بل څخه په مقدار کي زياتوب جايز دی ليکن پور يي نا جايز دی يعني سودا به په نقدو لاس په لاس وي .

دغه ډول مروجه سکې لکه افغانۍ په افغانۍ خرڅول هم باید سر په سر او لاس په لاس وي . د پور سودا او یو د بل څخه یې زیاتوب سود بلل کیږي .

یوه سکه په بله سکه لکه افغانۍ په کلدارو خرڅول باید لاس په لاس په نقدو خرڅه سي ، د پور سودا یې ناجایزه ده البته تفاضل یعني په قیمت او مقدار کي یې یو د بل څخه زیاتوب او کمي جایز ده .

که د سرو او سپینو زرو سره کوټ ګډ وه ، که کوټ یې تر زرو کم وه یا د زرو سره برابر وه نو هغه ټول د زرو حکم لري او که کوټ یې پر زرو زیات وه بیا د زرو حکم نه لري .

## د سیکې کوټه کېدل

که څوک یو شی په فلسو یعني مروجه پیسو رانیسي ، خو د پیسو تر ورکولو دمخه سکه کوټه او ناچله سي د ابوحنیفه رحمة الله علیه په آند سودا باطلیږي .

ابويوسف رحمة الله عليه وايي : سودا يې صحيح ده خو د دغي کوټه سکې قيمت يعني اسعاري ارزښت چي د سودا په ورځ هر څونه وو هغوني مجراء به يې ورکوي .

امام محمد رحمة الله عليه وايي : سودا يې صحيح ده خو د دغي سکې تر کوټه کېدلو دمخه چي يې هر څونه اسعاري ارزښت وو د هغه له مخي به يې مجراء ورکوي .

## سلم

سلم هغي سودا ته وايي چي مشتري ثمن يعني پيسې نقدي ورکړي او بايع مَبِيعَه په يوه ټاکلې وروستۍ مده کي ورکوي ، سلم ځان ته شرطونه لري او په مِثْلِيَّاتو کي کېدلای سي .

## مِثْلِيَّات

مِثْلِيَّات يو و بل ته ورته شيانو ته وايي لکه : په پيمانه ، تاله ، ګزه خرڅېدونکي شيان ، دغه ډول هغه دانه ګي شيان چي يو و بل ته نژدې او ورته

وي لکه هګۍ او داسي نور هم په مِثْلِیَّاتو کي شمېرل کيږي .

په پيمانه خرڅېدونکو شيانو ته مَکِيلي وايي لکه پطرول ، خاورين تېل ، دغه ډول غنم ، وربشي مالګه او خرما هم شرعا د مَکِيلي شيانو حکم لري که څه هم نن ورځ په وزن خرڅيږي .

په تاله خرڅېدونکو شيانو ته مَوْزُوني وايي لکه ورجي ، جواري ، بوره او داسي نور .

يو و بل ته نژدې او ورته شيان کوم چي په دانه ګي خرڅيږي لکه هګۍ ، هغو ته عددي متقارب وايي .

عددي متقارب ځيني داسي دي چي پخپل منځ کي هيڅ تفاوت نه لري لکه د نن ورځي زيات ماشيني جوړ مصنوعات او يا يې دانې پخپل منځ کي يو د بله لږ لږ تفاوت لري يعني ځني يې غټ او ځيني يې کوچني وي خو خلک هغه لره په قيمت کي اعتبار نه ورکوي لکه جوز او هګۍ يا ځيني لاسي جوړ مصنوعات .

د نن ورځي ډېر ماشيني مصنوعات کوم چي مستعمل سوي نه وي بلکي بلکل جديد او نوي وي اکثره يې عددي متقارب دي بلکي عددي متساوي دي په شکل او صورت کي يې هيڅ تفاوت څوک نسي درک کولای .

کوم شيان چي په ګزه او متر خرڅيږي هغو ته مذروعات وايي لکه ټوکران او فرشونه .

اصطلاحات :

د سلم په معامله کي د پيسو ورکونکي ته رَبُّ السَّلَم يا مُسلِم وايي .

مال ورکونکي ته مُسْلَم إِلَيْه وايي ، پيسو ته راس المال وايي او خپله مال ته مُسْلَم فِيهِ وايي .

سلم په هغه شي کي نه صحيح کيږي چي هغه هيڅ په بازار کي وجود ونلري ، بلکي سلم په هغه شي کي کېدلای سي چي د سودا د وخت څخه نيولې بيا تر تسليمۍ تر وخت پوري په بازار کي وجود ولري .

# د سلم شرطونه

ابوحنیفه رحمه الله علیه وايي : د سلم په سودا کي د اوو شیانو معلومول ضروري دي لکه :

(۱) جنس

(۲) نوع

(۳) صفت

(٤) مقدار

(٥) د تسلیمۍ نېټه

(٦) پیسه

(۷) د تسلیمۍ ځای .

ځکه د همدې اوو شیانو په معلومولو د مُسْلَم اِلَيْه او رب المال یعني د بایع او مشتري تر منځ جګړه او نزاع نه را منځ ته کیږي .

د جنس څخه مراد دادی چي مُسْلَم فِيهِ به معلوم وي چي ورجي ، غنم ، وربشي او که بل داسي شی دی ځکه دا هر یو ځان ته بېل بېل جنس دی

هر جنس بېل بېل انواع او ډولونه لري مثلاً :
ورجي يو جنس دی ، پنډي ورجي ، نرۍ ورجي او سبېلا ورجي يې ځيني انواع او ډولونه دي او هر نوع يې ځان ته بېل بېل صفتونه لري يعني هر نوع يې اعلي درجه ، ميانه درجه او کښته درجه لري .

که په سلم کي اول نمبر سبېلا ورجه ياده سي نو د مُسْلَم فِيهِ جنس ، نوع او صفت دا ډول ځرګند سو چي د بايع او مشتري تر منځ د تسليمۍ پر مهال يو مخ د نزاع او شخړي مخه نيسي .

ورجي د مُسْلَم فِيهِ جنس ، سبېلا يې نوع ، اول نمبر يې صفت سو .

د مقدار څخه مراد د مُسْلَم فِيهِ مقدار او د پيسو څخه يې مراد د هغه قيمت دی .

په سلم کي ثمن يعني پيسې نقدي ورکول کيږي او مَبِيعَه يعني مُسْلَم فِيهِ وروسته ورکول کيږي ، نو د مُسْلَم فِيهِ د تسليمۍ نېټه او ځای هم بايد وټاکل سي .

یاران وايي : که د تسلیمۍ ځای معلوم نه کړل سي بیا هم سلم صحیح دی ، البته د تسلیمۍ ځای یې د سودا ځای دی ، په کوم ځای کي چي د سلم تړون وکړي په هماغه کلي او محله کي به رَبُّ السَّلَم مُسْلَم فِیهِ و مُسْلَم إِلَيْه ته تسلیموي .

په سلم کي باید راس المال د سودا په مجلس کي و مُسْلَم إِلَيْه ته تسلیم کړل سي .

مُسْلَم إِلَيْه ته ناجایزه ده چي د راس المال د قبض کولو تر مخه په هغه کي تصرف وکړي .

دغه ډول رَبُّ السَّلَم ته هم ناجایزه ده چي د مُسْلَم فِیهِ تر قبضولو دمخه په هغه کي تصرف وکړي یعني داسي نسي کولای چي تر تسلیمولو د مخه یې پر بل چا خرڅ کړي یا بل څوک د ځان سره پکښي شریک کړي .

## عمومي قاعده

هر هغه شی چي د هغه صفت او مقدار په صحیح ډول بیانېدلای سي په هغه کي سلم صحیح کیږي یعني داسي شی چي هغه موجود نه وي او

بایع او مشتري یې څرنګوالی او اندازه بیان کړي وروسته چې هغه شی حاضر کړل سي که په صفت او مقدار کې یې د دوی تر منځ اختلاف نه راتلی نو په هغه کې سلم صحیح کیږي .

هر هغه شی چې هغه لیدل غواړي او بېله لیدلو یې صفت او مقدار نسي معلومېدلای په هغه کې سلم نه صحیح کیږي لکه : جواهرات او حیوانان ځکه چې دغه شیان بېله لیدلو څخه یوازي د صفت او مقدار په بیانولو مسلکي خلک لا هم نسي پېژندلای او نه قیمت ورته ایښودلای سي .

## تر قبض وړاندي تصرف

که څوک داسي شی په سلم رانیسي چې هغه د یوه ځای څخه بل ځای ته نقلېدلای سي او تر قبضولو او تسلیمولو دمخه یې پر بل چا خرڅ کړي نو دا سودا یې ناجایزه ده .

داسي شیانو ته منقولي شیان وایي ، د منقولي شیانو خرڅول د تسلیمۍ وروسته صحیح کیږي .

عقار جايداد ته وايي لکه مځکه ، دوکان او کور د ابوحنيفه او ابويوسف رحمهما الله په آند د جايداد خرڅول تر تسليمۍ دمخه جايز دي .

امام محمد رحمة الله عليه وايي : جايداد هم د منقولي شيانو حکم لري تر قبضولو دمخه يې پر بل چا خرڅول ناجايزه دي .

## استصناع

صانع جوړونکي ته وايي لکه نجار .

مَصنَع فابريکې ته وايي .

مصنوع جوړ سوي شي ته وايي .

په بل چا د شي جوړولو ته استصناع وايي.

هغه څوک چي په بل شی جوړوي هغه ته مُستَصنِع وايي .

په شريعت کي استصناع هغه تړون ته وايي چي مشتري يې د بايع سره د يو ټاکلي شي په جوړولو کوي .

د مشتري څخه مراد مستصنع او د بايع څخه مراد صانع دی .

په استصناع کي کار او مواد دواړه د صانع وي که مواد د مشتري وي او جوړول يې پر صانع وي هغه ته استصناع نه وايي ، بلکي هغه ته اجاره وايي مثلاً : که څوک په نجار دروازې جوړوي که لرګي او کار دواړه پر نجار وه نو دې ته استصناع وايي .

خو که لرګي د مستصنع وه او پر نجار يې يوازي جوړول وه هغه ته بيا اجاره وايي .

## د استصناع شرطونه

د استصناع څلور شرطونه دي ، هغه دا چي د مصنوع يعني د جوړېدونکي شي جنس ، نوع ، مقدار او صفت به د تړون په وخت کي ټاکل کيږي ، ځکه د استصناع په تړون کي مصنوع مَبيعَه ده نو مَبِيعَه بايد معلومه کړله سي .

که د جوړېدونکي شي جنس ، نوع ، مقدار او صفت و نه ټاکل سي د مستصنع او صانع تر منځ جنجال او اختلاف را منځ ته کيږي .

د استصناع تړون سلم ته ورته دی ، ځکه په دواړو کي د معدوم شي خرڅول دي ، خو په يو څو شيانو کي فرق لري چي هغه دا دي :

لومړی دا چي په سلم کي بايد د تړون په مهال ټولي پيسې نقدي ورکول سي ، په استصناع کي نقدي پيسې ورکول ضروري نه دي بلکي وروسته يې هم ورکولای سي .

دوهم دا چي په سلم کي بايد د تسليمۍ نېټه وټاکل سي ، په استصناع کي د جوړولو او د تسليمۍ د نېټې ټاکل ضروري نه دي .

دريم دا چي په سلم کي بايد مُسْلَم فِيهِ د تړون د وخت څخه نيولې بيا د تسليمۍ تر وخت پوري په بازار کي موجود وي او په استصناع کي که مصنوع يعني جوړېدونکی شی په بازار کي هيڅ هم نه وي بيا يې هم تړون صحيح کيږي .

په استصناع کي که صانع د تړون تر مخه د ټاکل سوو شرطونو موافق شی جوړ کړی وي يا يې د ټاکل سوو شرطونو سر سم په بل چا جوړ کړي هغه هم صحيح کيږي .

په استصناع کي ضروري نه ده چي صانع بايد مصنوع پخپله د تړون وروسته جوړ کړي .

ابوحنيفه رحمة الله عليه وايي : که په استصناع کي د جوړېدو او تسليمی نېټه وټاکل سي نو بيا سلم ګرځي ، که د سلم شرطونه يې پر ځای سي بيا صحيح کيږي يعني د مخکنيو شرطونو څخه علاوه پيسې به يې هم د تړون په وخت کي ټولي نقدي ورکوي او بل دا چي د مُتَعَاقِدَيْنو څخه يې يو لا هم د فسخ کولو حق نه لري .

هو ! پدې شرط که شی د ټاکل سوو شرطونو مطابق جوړ سوی وو او که شی د ټاکل سوو شرطونو سره سم جوړ سوی نه وو بيا يې مشتري د عيب لکبله فسخ کولای سي .

ابویوسف او محمد وايي : په استصناع کي که د جوړېدو او تسلمی نېټه هم وټاکل بیا هم استصناع بلل کیږي ، پیسې یې د تړون په وخت کي هم ورکولای سي او تر تړون وروسته یې هم ورکولای سي .

د استصناع تړون د ابوحنیفه او محمد په وینا لازمي تړون نه دی ، د شي د جوړېدو وروسته لا هم هر یو کولای سي چي تړون فسخ کړي ، دغه ډول که صانع دا شی پر بل چا خرڅ کړي هم جواز لري ، خو په دې شرط چي مستصنع لیدلی نه وي .

که مستصنع جوړ سوی شی ووینې بیا یوازي هغه خیار رویت لري که یې قبلاوه او که یې رد کاوه .

که مستصنع تر لیدلو وروسته په راضي سو بیا یې یو لا هم د فسخ کولو حق نه لري .

ابويوسف وايي : د استصناع تړون لازمي عقد او تړون دی ، صانع او مستصنع دواړه يې د فسخ کولو حق نه لري .

دغه ډول مستصنع د خيار رويت حق هم نه لري البته که شی د ټاکل سوو شرطونو سره سم جوړ سوی نه وو نو بيا يې مستصنع د خيار عيب په اساس فسخ کولای سي .

په الفقه الاسلامي کي يې د امام ابويوسف قول د اوسني وخت د شرايطو سره وړ او مناسب بللی دی .

## کفالت

کفالت ضمانت ته وايي[10] ، کفالت د استيثاق تړون دی ، څکه په ضمانت د پور لاس ته راوړل ښه باوري کيږي او د سوځلو مخه يې په نيول کيږي .

مثلاً : د دوکاندار د دوانداری ځيني شيان د داسي تاجر سره وي چي هغه يې نه پيژني يا باور نه

[10] ضَمُّ ذِمَّة الْكَفِيل إِلَى ذِمَّةِ الأُصِيل فِي الْمُطَالَبَةِ بِنَفْسٍ أَوْ دَيْنٍ أَوْ عَيْنٍ .

پر لري ، خو تاجر دې ته لیوال وي چي مالونه په پور خرڅ کړي ، ځکه ټول مالونه په نقدو نه خرڅیږي ، ځکه ډېر دوکانداران یا خو مایه نه لري یا یې په نقدو رانیولو ته زړه نه ښه کوي .

پدې صورت کي دوکاندار او تاجر دواړه د پور سودا ته اړ او لیوال دي البته تاجر د پور د سوځلو څخه بیریږي ، ځکه چي یا خو دوکاندار نه پېژني یا پر هغه باور او اعتماد نلري .

په پورته صورت کي د دوکاندار او تاجر تر منځ په ضمانت باور پیدا کېدلای سي .

که داسي نفر چي هغه دوکاندار پېژني او باور پر لري د دوکاندار ضمانت وکړي او تاجر بیا پر ضامن باور او اعتماد ولري ، ضمانت یې قبول کړي د بې باورۍ خنډ لیري کیږي ، د تاجر او دوکاندار ترمنځ سودا شوني کیږي .

د کفالت تعریف : د بل د مال یا د بل د ځان ذمه اخیستلو ته کفالت (ضمانت ) وایي .

اصطلاحات :

كَفِيل : كفيل ( ضامن ) هغه چاته وايي چي د بل د مال يا د بل د ځان ذمه اخلي .

اصيل : اَصِيْل هغه چاته وايي چي كفيل يې ذمه اخلي او اصيل ته مَكْفُولٌ عَنْه هم وايي .

مَكْفُولٌ لَهُ : مَكْفُولٌ لَهُ هغه چاته وايي چي هغه ته ضمانت وركول كيږي .

مَكْفُوْلُ بِهِ : مَكْفُوْلُ بِهِ په مالي ضمانت كي هغه مال ته وايي چي كفيل يې د ادا كولو ذمه اخلي او په ځاني ضمانت كي بيا و هغه شخص ته هم مَكْفُوْلُ بِهِ وايي چي كفيل يې د حاضرولو ذمه اخلي البته دا كس د مكفول عَنْهُ په نامه هم ياديږي .

مثال : كه زيد پر بكر د خالد په ضمانت موټر په پور خرخ كړي ، پدې مثال كي بكر اصيل يا

مَكْفُولٌ عَنْه بلل كيږي ، زيد مَكْفُولٌ لَهُ بلل كيږي او خالد كفيل يا ضامن بلل كيږي او د موټر هغه پيسې چي پر بكر باندي دي مَكْفُوْلُ بِهِ نوميږي .

## د كفالت ډولونه

كفالت پر دوه ډوله دى :

( ۱ ) مالي كفالت ( ۲ ) ځاني كفالت .

ځاني كفالت ته په عربي كفالة بالنفس وايي او مالي كفالت ته كفالة بالمال وايي .

## مالي كفالت

د بل د پور ضمانت كولو ته مالي كفالت وايي پور ته دَين وايي ، د چا چي پر بل چا پور باندي وي هغه ته دَائن وايي او پر چا چي د بل پور باندي وي هغه ته مَدِين يا مَدْيُون وايي .

په مالي كفالت كي كه د پور مقدار معلوم وي او كه نامعلوم وي ضمانت يې صحيح كيږي .

په مالي كفالت كي پور د اصيل د ذمې څخه نه اوړي ، بلكي د هغه پر ذمه پاتيږي البته په

مطالبه او غوښتنه کي يې کفيل هم ورسره يو ځای کيږي .

همدا وجه ده چي په مالي کفالت کي دائن اختيار لري که د مَدِين يعني اصيل څخه د خپل پور مطالبه او غوښتنه کوي او که د کفيل څخه يې مطالبه او غوښتنه کوي .

که پر اصيل د پور ورکولو مده ورسيږي خو کفيل په کفالت کي تر هغي مدې وروسته نېټه ټاکلې وي نو پدې صورت کي دائن د اصيل څخه مطالبه کولای سي خو د کفيل څخه يې مطالبه تر ټاکلې نيټې وړاندې نسي کولای .

که کفيل د مَدِين ضمانت د هغه په غوښتنه وکړي نو هغه پيسې چي کفيل يې د اصيل په پور کي دائن ته ورکوي کفيل د هغو غوښتنه د اصيل څخه کولای سي .

کفيل د اصيل څخه د پور تر ادا کولو دمخه د پيسو مطالبه نه سي کولای ، بلکي تر ادا کولو

وروسته د هغونو پيسو مطالبه کولای سي څونه چي يې د هغه په پور کي دائن ته ورکړي وي .

که دائن د کفيل څخه د پيسو مطالبه کول ، کفيل يې نه پرېښاوه په پسې وو بيا کفيل د خپل ځان د خلاصون د پاره د مَکْفُولٌ عَنْه څخه مطالبه کولای سي يعني په هغه پسې کېدلای سي چي د دائن پور ادا کړي .

دغه ډول که کفيل د مَکْفُولٌ عَنْه په پور کي بندي سي هغه بيا مَکْفُولٌ عَنْه بندي کولای سي ، ځکه هغه دی پدې مصيبت اخته کړی دی .

که کفيل د مَدِين ضمانت پر خپل سر وکړي يعني مَدِين يې د ضامن کېدلو غوښتنه نه وي کړې هلته بيا کفيل د اصيل يعني مَدِين څخه د هغو پيسو طلب نه سي کولای کومي چي دائن ته يې د هغه په پور کي ورکړي ، ځکه په دې صورت کي کفيل د ضمانت په کولو کي متبرع يعني خيراتي بلل کيږي ، البته که اصيل په خپله

خوښه د هغه د پیسو مجراء ورکول بیا یې ځني اخیستلای سي .

## د مالي کفالت پای

مالي کفالت په دوو شیانو و پای ته رسیږي .

لومړی : د پور په اداء کولو .

دوهم : د دائن په ابراء ورکولو .

په کفیل او اصیل کي چي هر یو د دائن پور ادا کړي د کفیل کفالت پای ته رسیږي .

دغه ډول که دائن د کفیل تر کفالت ور تېر سي یا مَدِین ته تر پور ورتېر سي هلته هم د کفیل کفالت پای ته رسیږي ، بیا دائن د کفیل څخه مطالبه نه سي کولای .

که دائن کفیل ته تر کفالت ورتېر سي یا مَدِین ته تر پور ور تېر سي دغه ته ابراء وایي په ابراء سره کفالت پای ته رسیږي .

## ځاني کفالت

په ځاني کفالت کي کفيل د مَكْفُوْلُ بِهِ د حاضرولو ذمه پر غاړه لري .

مثال : زيد د بکر سره دعوه لري ، زيد د دې بيري لکبله چي بکر د قضا څخه و نه تښتي ، غواړي بکر د محاکمې تر مهاله بندي کړي ، خالد د بکر د حاضرولو ضمانت وکړي ، پدې مثال کي بکر ته مَكْفُوْلُ بِهِ وايي ، دغه ډول د مَكْفُولٌ عَنْه په نامه هم ياديږي او دا ځاني کفالت دی .

په ځاني کفالت کي د کفيل مسؤليت دا دی چي مَكْفُوْلُ بِهِ يا محکمې ته حاضر کړي او يا يې په بل داسي ځای کي مَكْفُولٌ لَهُ ته په لاس ورکړي چي هلته محاکمه ورسره کولای سي .

په ځاني کفالت کي که مَكْفُولٌ عَنْه غائب وو هلته به کفيل ته دونه مهلت ورکوي چي هغه پکښي حاضر کړای سي .

که د کافي مهلت ورکولو سره يې حاضر نه کړی

نو بیا قاضي کولای سي چي کفیل بندي کړي .

که قاضي ته د کفیل د حال څخه څرګنده سي یا شاهدان شاهدي ادا کړي چي کفیل د مَکْفُولٌ عَنْه پر حاضرولو دم ګړی قدرت نه لري بیا به کفیل ته تر هغه وخته مهلت ورکوي چي پر حاضرولو یې قدرت مومي .

## د ځاني کفالت پای

ځاني کفالت په درو شیانو وپای ته رسیږي :

لومړی : د مَکْفُولٌ عَنْه په سپارلو .

دوهم : د مَکْفُولٌ لَهُ په ابراء ورکولو .

دریم : د مَکْفُوْلُ بِهِ په مړ کېدلو .

که کفیل مَکْفُوْلُ بِهِ یو ځلي په محکمه کي حاضر کړي یا یې مَکْفُولٌ لَهُ ته په داسي ځای کي په لاس ورکړي چي هلته دعوه ورسره کولای سي د کفیل ذمه د کفالت څخه خلاصیږي .

دا ډول که مَکْفُولٌ لَهُ د کفیل تر ضمانت ورتېر سي او ابراء ورکړي یا د اصیل تر دعوې او

خصومت ورتېر سي هلته هم د کفيل کفالت ختميږي .

دغه ډول که مَکْفُوْلُ بِهِ ومړ يعني هغه کس چي کفيل يې د حاضرولو ضامن سوی دی هغه وفات سي نو پدې هم ځاني کفالت وپای ته رسيږي .

که د کفيل وکَيْل مَکْفُوْلُ بِهِ په محکمه کي حاضر کړي يا مَکْفُوْلُ بِهِ پخپله د کفيل په کفالت کي ځان په لاس ورکړي دا هم د کفالت د دندي د پوره کېدو په معنا دي او د کفيل ضمانت پای ته په رسيږي .

د مَکْفُوْلُ بِهِ په سپارلو کي د مَکْفُولٌ لَهُ قبلول شرط نه دي .

که کفيل يا د هغه وکَيْل مَکْفُولٌ لَهُ ته مَکْفُوْلُ بِهِ په محکمه کي وسپاري که څه هم يې مَکْفُولٌ لَهُ ځني تسليم نکړي بيا هم د کفيل ضمانت پای ته رسيږي .

# حواله

د یوه د ذمې شخه د بل و ذمې ته د پور اړل د حوالې په نامه یادیږي[۱۱] .

د حوالې اصطلاحات :

مُحیْل : حواله ورکونکي ته مُحِیْل وایي .

مُحَال : حواله اخیستونکي ته مُحَال وایي ، دغه رنګه مُحْتَال او حَوِیل هم ورته وایي .

مُحَالُ عَلَیْه : پر چا چي حواله ورکول کیږي هغه ته مُحَالُ عَلَیْه او مُحْتَالُ عَلَیْه وایي .

مُحَالُ بِهِ : هغه پور چي د یوه د ذمې شخه د بل و ذمې ته انتقالیږي هغه ته مُحَالُ بِهِ یا مُحْتَالُ بِهِ وایي .

مثال : د زید پر بکر سل زره افغانۍ پور باندي دی ، بکر زید ته ووایي : ستا سل زره افغانۍ چي پر ما باندي دي هغه نور د خالد پر ذمه دي او هغه یې درکوي ، که زید او خالد یې قبول

---

[۱۱۱۱] وَالْحَوَالَةُ فِي الاِصْطِلاَحِ : نَقْل الدَّيْنِ مِنْ ذِمَّةٍ إِلَى ذِمَّةٍ .


www.taleemulislam.net

کړي د زيد پور د بکر د ذمې څخه د خالد ذمې ته نقليږي .

پدې مثال کي بکر د مُحيْل په نامه ياديږي ، زيد مُحَال بلل کيږي ، خالد مُحَالُ عَلَيْه دی او سل زره افغانۍ مُحَالُ بِهِ دي .

د حوالې تړون هم د کفالت په شان يو ډول د استيثاق يعني باور تر لاسه کولو تړون دی ، ځکه په حواله کي هم د پور لاس ته راوستل ښه ترا باوري کيږي ، ځکه د ځينو حالاتو څخه ماسيوا په عام ډول خلک د تنګ لاسي څخه پر ډک لاسي حواله اخلي يا د بد پوره څخه پر سم پوري حواله قبلوي .

## د حوالې رکنونه

ايجاب او قبول د حوالې رکنونه دي ، په حواله کي ايجاب د مُحيْل د خوا او قبول د مُحَال او د مُحَالُ عَلَيْه لخوا کيږي .

په مخکني مثال کي مُحَال زيد دی ، که هغه د

بکر حواله قبوله نکړي نو د زید پور د پخوا په شان د بکر پر ذمه پاتیږي .

دغه راز که مُحَالُ عَلَيْه چي خالد دی د بکر حواله پر ځان قبوله نکړي د زید پور د بکر پر ذمه د پخوا په شان پاتیږي .

خو که دوی دوه حواله قبوله کړي بیا زید د بکر څخه مطالبه نسي کولای ځکه پور یې د خالد و ذمې ته اوړي .

د الله رسول[۱۲] ﷺ هغه غني ظالم بللی دی چي د پور د ادا کولو توان ولري او بیا هم پور تر خپل معیاد ځنډوي .

خو که څوک بیا تنګ لاسي وي هغه ته پکار ده چي د توان مندلو تر مهاله مهلت ورکول سي[۱۳] .

که چا ته پر غني او اعتمادي کس څوک حواله

---

[۱۲] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ فَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ ( البخاري ) ژباړه : غني که د بل پور تر میعاد ځنډوي ظلم دی خو که چا ته پر شتمن او د اعتماد وړ کس حواله ورکړه سي حواله دې قبلوي .

[۱۳] مفلس او تنګ لاسي ته باید په پور کي مهلت ورکول سي ځکه چي الله فرمایي : وَإِنْ كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَى مَيْسَرَةٍ وَأَنْ تَصَدَّقُوا خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ (۲۸۰ البقرة )

ورکوي حواله دي ځني قبلوي .

## د حوالې شرطونه

په حواله کي د مُحَال او مُحَالُ عَلَيْه خوښي شرط ده ، ځکه چي خلک د پور په ورکولو او د پور په لاس ته راوړلو کي فرق لري ، ځيني خلک پور پر وخت ادا کوي او ځيني يې بيا د نه لرلو يا بد پورۍ لکبله پور د يوې ورځي څخه و بلي ورځي ته ځنډوي .

دغه ډول ځيني دائنين پوروړی ډېر تنګوي ، پوروړی يې که څه هم لاس تنګی وي بيا هم مهلت نه ورکوي .

مثال : د زيد پر بکر سل زره افغانۍ پور باندي دی ، بکر زيد ته ووايي : ستا سل زره افغانۍ چي پر ما باندي دي هغه نور د خالد پر ذمه دي هغه يې درکوي ، که زيد او خالد يې قبول کړي د زيد پور د بکر د ذمې څخه د خالد ذمې ته نقلېږي .

په پورتني مثال کي د بکر حواله پر خالد هغه

وخت لازمیږي چي زید او خالد یې ومني او په راضي سي ځکه زید مُحَال دی او خالد مُحَالُ عَلَیْه دی .

## د حوالې حکم

د حوالې ایجاب او قبول چي وسي نو پور د مُحِیل د ذمې څخه د مُحَالُ عَلَیْه ذمې ته انتقالیږي مُحَال نور د مُحِیل څخه د پور مطالبه او غوښتنه نه سي کولای .

په مخکني مثال کي بکر زید ته پر خالد حواله ورکړې وه ، زید او خالد چي د بکر په حواله راضي سول نور نو زید د بکر څخه د پیسو غوښتنه نسي کولای ځکه د زید پور د خالد و ذمې ته نقل سو ، هغه یې د ادا کولو مسؤلیت پر غاړه لري .

## د حوالې ردېدل

که د مُحَال پور سوځل کېدی او د مُحَالُ عَلَیْه څخه یې لاس ته نسوای راوړلای نو پدې صورت که حواله ردیږي ، مُحَال د خپل پور مطالبه بیرته مُحِیل څخه کولای سي .

پور په دوو شیانو له منځه ځي او سوځل کیږي .
لومړی : دا چي مُحَالُ عَلَيْه د مفلسي په حالت کي مړ سي .
دوهم : دا چي مُحَالُ عَلَيْه د حوالې د منلو څخه انکار وکړي او مُحَال پر هغه د حوالې شاهدان هم و نه لري .
په مخکني مثال کي بکر و زید ته پر خالد حواله ورکړې وه او هغوی دواړو قبوله کړې وه ، که خالد دیوالي سي او د دیوالیتوب په حالت کي وفات سي ، د زید پور بیرته د بکر پر ذمه راځي مخکنۍ حواله ردیږي .
دغه رنګه که خالد د حوالې د منلو څخه وروسته حواله نه منل او زید پر هغه شاهدان هم نه درلودل پدې حالت کي هم حواله ردیږي ، زید د خپل پور مطالبه د بکر څخه کولای سي .
دغو دوو حالاتو ته کوم چي د مُحَال پور پکښي له منځه ځي د فقهي په اصطلاح کي تَوَا وایي د تَوَا په وخت کي مُحَال ببرته د مُحِيل څخه د پور اخیستلو حق لري .
یاران وایي : پر پورتنیو دوو صورتونو برسیره

که قاضي د مُحَالُ عَلَيْه په ژوندون کي د هغه د ډيواليتوب حکم صادر کړي نو هغه ته هم تَوَا وايي ، حواله په رديږي[١٤] او پور بيرته د مُحِيل پر ذمه کيږي .

## د حوالې او کفالت فرق

حواله او کفالت دواړه د استيثاق يعني باور لاس ته راوړلو تړونونه دي ، د دواړو ترمنځ فرق دادی ، چي په کفالت کي د دائن پور د اصيل پر ذمه د پخوا په شان پاتيږي خو د اصيل سره د کفيل څخه يې هم مطالبه کولای سي .

په حواله کي پور د مُحِيل د ذمې څخه د مُحال عليه و ذمې ته نقليږي .

مثال : د زيد پر بکر پور باندي دی ، خالد د بکر د پيسو ضمانت وکړ او کفيل يې سو ، پدې مثال کي د زيد پور د پخوا په شان پر بکر باندي دی ، د بکر څخه يې مطالبه او غوښتنه کولای سي خو

---

١٤ أَمَّا الْحَنَفِيَّةُ فَقَدْ ذَهَبُوا إِلَى أَنَّ لِلْمُحَال حَقَّ الرُّجُوعِ عَلَى الْمُحِيل فِي حَالَةِ التَّوَى ، حَيْثُ قَالُوا : لاَ يَرْجِعُ الْمُحَال عَلَى الْمُحِيل إِلاَّ بِالتَّوَى ، بِأَنْ يَجْحَدَ الْمُحَال عَلَيْهِ الْحَوَالَةَ وَيَحْلِفَ وَلاَ بَيِّنَةَ لِلْمُحِيل وَلاَ لِلْمُحَال ، أَوْ أَنْ يَمُوتَ الْمُحَال عَلَيْهِ مُفْلِسًا عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ ، أَوْ بِأَنْ يُفَلِّسَهُ الْحَاكِمُ فِي حَيَاتِهِ عِنْدَ أَبِي يُوسُفَ وَمُحَمَّدٍ ، بِنَاءً عَلَى أَنَّ تَفْلِيسَ الْقَاضِي يَصِحُّ عِنْدَهُمَا وَلاَ يَصِحُّ عِنْدَهُ (الموسوعة الفقهية) .

د دې تر څنګ د خالد څخه يې هم مطالبه کولای سي ځکه هغه د بکر کفالت يعني ضمانت کړی دی.

خو که چيري بکر پر خالد حواله ورکړي ، زيد او خالد يې حواله قبوله کړي دلته بيا زيد د بکر څخه د پيسو مطالبه نسي کولای ، ځکه د بکر غاړه د پور څخه خلاصه سوه ، د زيد پور نور د خالد پر ذمه دی او د هغه څخه يې مطالبه کولای سي .

## سَفْتَجَة

زموږ په ټولنه کي چي تجاران کومي معاملې ته حواله وايي دا هغه حواله نه ده کوم چي مخکي موږ بحث پر وکړ ، بلکي دا اصلا سَفْتَجَة ده چي اوس دلته بحث پر کوو .

اصطلاحات :

مُقرِض : پور ورکونکي ته مُقرِض وايي .

مُقتَرِض : پور اخيستونکي ته مُقتَرِض وايي .

سَفْتَجَة : سَفْتَجَة دې ته وايي چي څوک بل ته

پيسې پدې شرط په پور ورکوي چې هغه يې په بل ښار کې ورته ورکړي .

د صرافانو په ذريعه چې خلک د يوه ځای څخه بل ځای ته پيسې د حوالې په نامه انتقالوي يا د بانکونو د لارې يې ټې ټي کوي دغې معاملې ته د فقهې په اصطلاح کې سَفْتَجَة وايي .

که څوک بل ته پدې شرط پيسې ورکوي چې په بل ځای او وطن کې يې ورته ورکړي ، نو دا سَفْتَجَة ده ، زموږ د احنافو په آند سُفْتَجة په تحريمي ډول مکروه ده[۱۵] ، ځکه دا د هغه قرض په جمله کې راځي چې مُقرِض ګټه لاس ته په راوړي .

داسې قرض چې مُقرِض ګټه ترې حاصلوي رسول الله صلي الله عليه و سلم حرام بللی دی .

---

[۱۵] وحكمها عند الحنفية: الكراهة التحريمية إذا كانت المنفعة المقصودة منها (أي الوفاء في بلد آخر لتفادي خطر الطريق) مشروطة في صلب العقد، أو بمقتضى العرف. قال المرغيناني: ويكره السفاتج وهي قرض استفاد به المقرض سقوط خطر الطريق، وهذا نوع نفع استفيد به، وقد نهى رسول الله صلّى الله عليه وسلم عن قرض جر نفعاً . وقال الشافعية بمنع السفتجة؛ لأنها من قبيل القرض الذي يجر منفعة للمقرض بربحه فيها خطر الطريق . وكذلك قال المالكية، فهي عندهم ممنوعة لأنها قرض جر نفعاً إلا في حالة الضرورة حفظاً لماله . والراجح عند الحنابلة هو جواز تلك المعاملة إن كانت بلا مقابل، واختار ابن تيمية وابن القيم وابن قدامة القول بالجواز مطلقاً؛ لأن المنفعة لا تخص المقرض بل ينتفعان بها جميعاً . ( الفقه الاسلامي و ادلته )

د یوه ځای څخه بل ځای ته پیسې انتقالول په لاره کې خطره لري ، نو څوک چې د حوالې د پاره قرض ورکوي یعني د صراف سره پیسه جمع کوي نو پدې قرض مُقرِض د خوندي انتقال ګټه لاس ته راوړي .

د مالکي او شافعي مذهب د پیروانو په آند هم سُفْتَجة منع ده ، البته مالکیه یې د ضرورت په مهال د مال د ساتنې لکبله جایز ګڼي .

د حنبلي مذهب د پیروانو د راجح قول پر بنسټ بېله مزد او کمېشن څخه سُفْتَجة یعني د نننۍ اصطلاح حواله جایز ده ، تر داسې بریده چې ځیني حنبلي امامان سُفْتَجة مطلقا جایز ګڼي یعني په کمېشن او بېله کمېشن څخه یې جایز بولي ، هغوی وایي چې د سُفْتَجې ګټه یوازې مُقرِض ته نه رسیږي ، بلکې ګټه یې مُقرِض او مُقتَرِض یعني قرض ورکونکي او قرض اخیستونکي دواړو ته رسیږي .

خو که څوک بل ته پیسې همداسې ببله شرطه په پور ورکړي ، یا د نن ورځي د عادت له مخي په تجارتخانه کې یې ور سره جمع کړي او بیا یې هغه پر بل ښار ور حواله کړي یا دی د بل ځای او وطن حواله ځني طلب کړي ، دا ډول معامله زموږ د حنفي مذهب د امامانو په آند بیله کراهیته جواز لري ، ځکه دا بیا سُفْتَجة نه ده ، بلکي دا هغه حواله ده چي د شریعت د اصطلاح له مخي حواله ورته وایي .

# وکالت

د وکالت تعریف[١٦] : بل څوک د خپل ځان پر ځای د یو معلوم او جائز کار په کولو کي درول د وکالت په نامه یادیږي .

د وکالت اصطلاحات :

مُوَکِّل: مُوَکِّل هغه چاته وايي چي خپل کار بل ته سپاري .

وَکِیلُ : وَکِیلُ هغه چاته وايي چي بل څوک کار ورته سپاري .

مُوَکَّل فِیهِ : مُوَکَّل فِیهِ هغه کار ته وايي چي بل ته سپارل کیږي مُوَکَّل بِهِ هم ورته وايي .

تَوکَیْل : بل ته د کار سپارنه توکَیْل بلل کیږي .

مثال : زید بکر ته ووايي : دا زما موټر لږ تر لږه په دوه لکه افغانۍ را خرخ کړه ، بکر ومنل او موټر یې په همدې قیمت ور خرخ کړی .

[١٦] الْوَكَالَةُ بِالْفَتْحِ وَالْكَسْرِ فِي اللُّغَةِ : الْحِفْظ وَالتَّوْكِيل : تَفْوِيضُ التَّصَرُّفِ إِلَى الْغَيْرِ، وَسُمِّيَ الْوَكِيل وَكِيلاً ؛ لأِنَّ مُوَكِّلَهُ قَدْ فَوَّضَ إِلَيْهِ الْقِيَامَ بِأَمْرِهِ فَهُوَ مَوْكُولٌ إِلَيْهِ الأْمْر فَعَرَّفَهَا الْحَنَفِيَّةُ بِأَنَّهَا : إِقَامَةُ الْغَيْرِ مَقَامَ نَفْسِهِ - تَرَفُّهًا أَوْ عَجْزًا - فِي تَصَرُّفٍ جَائِزٍ مَعْلُومٍ . ( الفقه الاسلامي )

په پورتني مثال کي زيد کولای سول چي خپل موټر يې پخپله خرڅ کړی وای ، ځکه مالک يې دی خو ده د خپل موټر د خرڅولو دنده بکر ته وسپارل او بکر يې غوښتنه ومنل ، موټر يې په هغه اندازه پيسو ور خرڅ کړی څونه چي اختيار يې ورکول سوی وو .

پدې مثال کي زيد مُوَکِّل دی ځکه د خپل موټر د پلورلو دنده يې بل ته وسپارل .

بکر وَکِيلُ دی ځکه زيد د خپل موټر د خرڅولو کار ورته سپارلی دی .

د موټر خرڅول مُوَکَّل فِيهِ دی ځکه د همدې کار د اجرا کولو د پاره زيد بکر خپل ځای ناستی ګرځولی دی او خپله همدې تړون ته وکالت وايي

## د وکالت رکن

ايجاب او قبول د وکالت رکن دی ، په مُوَکِّل او وَکِيلُ کي چي هر يو لومړی په تړون پيل کوي د هغه وينا ايجاب بلل کيږي .

که مُوَكِّل وَكِيلُ ته ووايي : ته په پلانکي کار کي زما وَكِيلُ يې يا ورته ووايي : پلانکی کار زما د پاره وکړه ، يا په نورو بېلو الفاظو دا ډول وينا ورته وکړي چي وکالت ځني فهمول کيږي نو دا ايجاب سو .

که وَكِيلُ يې قبول کړي نو د وکالت تړون يې تر منځ مُنْعَقِد سو .

د وکالت په قبلولو کي وينا ضروري نه ده ، بلکي پداسي کار هم قبول صحيح کيږي چي د وکالت پر قبلولو دلالت کوي .

مثلاً : زيد بکر ته د خپل شي د خرڅولو وکالت ورکړي ، بکر نه وکالت رد کړي او نه څه ورته ووايي خو وروسته بکر هغه شی بازار ته ځني يوسي ، د بکر دا کار د وکالت د قبلولو په معنا دی ، که بکر دا شی خرڅ کړي سودا يې نافذ کيږي ځکه د وَكِيلُ تړون ځای پر ځای نافذيږي .

همدا ډول د وکالت قبلول هم سمدستي ضروري نه دي ، بلکي د ايجاب تر مجلس وروسته يې هم

قبول صحيح کيږي ، خو په دې شرط چي مُوَکِّل د ايجاب څخه رجوع کړې نه وي او نه يې وَکِيلُ د ايجاب رد کړی وي .

که وکَيْل تر ايجاب وروسته يو ځلي وکالت رد کړي نو تر ردولو وروسته يې قبول ته اعتبار نه ورکول کيږي .

## د اجورې وکالت

وکالت په مزدوري هم صحيح کيږي خو وکَيْل هغه وخت د مزدورۍ مستحق ګرځي چي ور سپارل سوی کار سر ته ورسوي ، ځکه چي دغه ډول وکالت د اجارې حکم لري .

## د مُوَكِّل شرطونه

مُوَكِّل هغه کار بل ته سپارلای سي چي ده ته يې خپله کول هم جايز وي ، که مُوَكِّل خپله د هغه د کولو څخه شرعا منع وو نو بل چا ته يې هم وکالت نسي ورکولای .

همدا وجه ده چي د ليوني او غير مُمَيِّز کوچني توکَيْل په هيڅ کار کي نه صحيح کيږي[١٧] .

که ليونی يا غير مُمَيِّز کوچني بل څوک د يو شي په رانيولو ، خرڅولو ، طلاق يا داسي نورو معاملاتو کي د ځان وکَيْل وټاکي توکَيْل يې نه صحيح کيږي ، ځکه چي پر ليونی او غير مُمَيِّز کوچنی شرعا د رانيولو ، خرڅولو ، طلاق او داسي نورو تړونو بنديز لګول سوی دی .

که ليونی يا غير مُمَيِّز کوچنی خپلي ښځي ته طلاق ورکړي طلاق يې نه واقع کيږي ، دغه ډول که سودا وکړي سودا ته يې اعتبار نه

---

[١٧] غير مُمَيِّز کوچنی هغه ته وايي چي په سودا او داسي نورو معاملاتو هيڅ نه پوهيږي د دغسي کوچني هيڅ تړون نه صحيح کيږي . د تفصيل د پاره د همدي ټوک د حجر باب ته مراجعه وکړئ

ورکول کيږي نو د وَکِيلُ په ذريعه يې هم نسي کولای .

## مُمَيِّز کوچنی

د مُمَيِّزکوچني[۱۸] توکَيْل په هغو کارونو کي چي پخلپه يې شرعا د کولو واک نه لري هم نه صحيح کيږي لکه خپلي ښځي ته طلاق ورکول يا خپل مال بل ته په هبه او خيرات کي ورکول ، ځکه چي په داسي کارونو کي پر مُمَيِّزکوچني بنديز لګول سوی دی .

هغه کارونه چي د مُمَيِّزکوچني سراسر پکښي ګټه وي لکه د بل څخه خيرات قبلول نو په هغه کي بل چا ته وکالت ورکولای سي .

د مُمَيِّزکوچني هغه تصرفات چي ګټه او تاوان يې نامعلوم وي لکه رانيول ، خرڅول يا خپل شی په

[۱۸] مُمَيِّز کوچنی هغه ته وايي چي په سودا پوهيږي ، د مُمَيِّز کوچني تصرفات چي سراسر يې په ګټه وي صحيح کيږي او هغه تصرفات يې هيڅ نه صحيح کيږي چي محض په تاوان يې وي ، د ګټي او تاوان احتمال لرونکي تصرفات يې د ولي پر اجازه موقوفه دي ، د تفصيل د پاره د همدي ټوک د حجر باب ته مراجعه وکړئ .

اجاره ورکول ، که ولي د دا ډول کارونو د کولو
اجازه ورکړې وي نو دی يي پخپله هم کولای
سي او هم يې وکَيْل ته سپارلای سي او که ولي
يې اجازه نه وه ورکړې بيا يې توکَيْل د ولي پر
اجازه موقوفه کيږي .

## د وکَيْل شرطونه

لومړی : هغه څوک وکَيْل کېدلای سي چي عاقل
وي يعني په تړون پوهيږي ، لهذا ليونی او غير
مُمَيِّزکوچنی د بل وکَيْل نه سي ګرځېدلای ، ځکه
چي عاقلان نه دي او په دې نه پوهيږي چي
رانيول او خرڅول څه شي ته وايي .

البته مُمَيِّزکوچنی که څوک د ځان وکَيْل وټاکي
وکالت يې صحيح کيږي ، که څه هم يې ولي د
کاروبار اجازه ورکړې نه وي ، ځکه مُمَيِّز
کوچنی هغه ته وايي چي په سودا پوهيږي ،
څوک چي په سودا پوهيږي هغه په سودا کي د
بل وکَيْل هم ګرځېدلای سي .

دوهم : وکَیْل به د ورسپارل سوي کار ترون هسي د مسخرو او بازیو پر ډول نه کوي بلکي د ترون په قصد او اراده به یې کوي .

دریم : وکَیْل به په وکالت خبروي ، که څوک بل چا ته د یو شي د خرڅولو وکالت ورکړي او هغه په وکالت خبر نه وي خو هغه شی چي وکالت یې ورکول سوی دی خرڅ کړي سودا یې نه نافذیږي بلکي موقوفه ګرځي ، ځکه چي وکَیْل خبر نه دی چي ده ته د دې شي د خرڅولو وکالت ورکول سوی دی .

که مُوَکِّل د سودا وروسته اجازه ورکړه یا وکَیْل په وکالت خبر سو او د خبرتیا وروسته یې هغه مخکنۍ سودا صحیح کړه نو هغه مخکنۍ سودا یې نافذ کیږي .

## د مُوَکَّل بِهِ شرطونه

په کوم شي کي چي چا ته وکالت ورکول کیږي هغه ته مُوَکَّل بِهِ وایي .

په لاندي كارونو كي ځوک بل چا ته وكالت وركولای سي .

لومړی : كوم شی چي ځوک يې بل چا ته وكالت وركوي هغه به يې خپل ملكيت وي ، ځكه ځوک چي د شي مالک نه وي په هغه كي پخپله د تصرف حق نه لري نو بل ته به يې څرنګه تصرف وسپاري .

البته ولي د دې حكم څخه مستثنا او بېل دی ، ځكه ولي كه څه هم د قاصر د مال څښتن نه دی خو بيا هم د خپل صلاحيت په اندازه د قاصر په مال كي د ولايت پر بنسټ تصرف كولای سي .

دوهم : مُوَكَّل بِهِ به د مُبَاح شيانو څخه نه وي ځكه كه ځوک د دښتي لرګيو ، خپله راشنه كېدونكو واښو يا د ښكار په كولو كي بل د ځان وكَيْل وټاكي څو هغه د ده د پاره دا شيان لاس ته راوړي وكالت يې نه صحيح كيږي بلكي لرګي ، واښه او ښكار د وكَيْل ملكيت ګرځي ، ځكه چي ښكار ، دښتي لرګي او خپه راشنه كېدونكي

وابښه[۱۹] د مُبَاح شیانو څخه دي او مالک نه لري د هر چا لاس ته چي اول ورسي هغه يې مالک ګرځي .

دريم : مُوَکَّل بِه به د داسي کارونو څخه وي چي په هغه کي نيابت او استازيتوب صحيح کيږي يعني داسي کار به وي چي يو يې د بل پرځای ادا کولای سي .

په يو مخ بدني عباداتو کي نيابت نه صحيح کيږي نو ځکه څوک هم خپل لمونځ او روژه بل ته نسي سپارلای چي هغه يې د ده په وکالت ادا کړي ، ځکه چي دا يو مخ بدني عبادات دي .

په مالي عباداتو کي وکالت او استازيتوب صحيح کيږي نو ځکه زکات ، مالي کفاره ، مالي نذر او خيرات وکَيْل د خپل مُوَکَّل پرځای ادا کولای سي

[۱۹] دښتي لرګي ، خپله راشنه کېدونکي وابښه هغو ته وايي چي په غرونو ، دښتونو او ځنګلو کي پخپله راشنه کيږي او خلک يې مقصودي نه کري دا مُبَاح دي څښتن نه لري ، هر چي هر څوک چي يې لاس ته راوړي هغه يې مالک ګرځي ، البته هغه لرګي او وابښه چي خلک يې مقصودي کري لکه شپشتي او خصيل هغه نورو ته مُبَاح نه دي بلکي خپل مالکان لري او هغوي يې اختيار لري .

ځکه چې دا ټول مالي عبادات دي .

حج او عمره که څه هم بدني عبادات دي خو د مال سره هم تړاو لري يعني نه يو مخ بدني عبادات دي او نه يو مخ مالي عبادات دي نو پدې ډول عباداتو کې بيا د عذر لکبله نيابت صحيح کيږي ، که څوک يې پخپله د ادا کولو څخه عاجز سي يا مړ سي نو نائب يعني وکَيْل يې د هغه پر ځای ادا کولای سي .

## د وکالت ډولونه

وکالت پر دوه ډوله دی :

عام وکالت .

خاص وکالت .

## عام وکالت

که مُوَکِّل کار د وکَیْل و راي او نظر ته وسپاري نو هغه ته عام وکالت وایي مثلاً: وکَیْل ته ووایي: هر هغه شی چي ستا خوښ وي ما ته یې رانیسه یا ورته وایي : هر ټوکر چي ستا خوښ وي ما ته یې رانیسه یا په نورو دا ډول الفاظو کار ور وسپاري چي عام وکالت ځني فهمول کیږي .

په عام وکالت کي که څه هم د مُوَکَّل فِیهِ نوع او قیمت بیان نه کړل سي بیا هم صحیح کیږي ، ځکه چي د نوع او قیمت ټاکنه او اختیار یې وکَیْل ته سپارل سوی دی .

## خاص وکالت

که مُوَکِّل کار د وکَیْل رايي او نظر ته و نه سپاري او نه هغه ته عام او تام اختيار ورکړي هغه ته بيا خاص وکالت وايي .

د يو شي د رانيولو خاص وکالت هغه مهال صحيح کيږي چي مُوَکِّل وکَيْل ته د مُوَکَّل فِيهِ جنس او نوع بيان کړي يا يې جنس او قيمت ورته بيان کړي ، ځو وکَيْل وکولای سي د خپل مُوَکِّل امر پرځای کړای سي ، ځکه چي د رانيولو په شي کي که زيات جهالت راسي نو هغه وکالت نه صحيح کيږي .

يو جنس چي مختلف انواع او ډولونه ولري د هغه نوع هم بايد بيان سي ، ځکه تنها د جنس په بيانولو يې جهالت له منځ ځخه نه پورته کيږي او که نوع يا قيمت يې هم وکَيْل ته بيان سي نو بيا د شي نامعلومتيا تر ډېره حده کميږي .

که مُوَکِّل د رانيولو د شي جنس او نوع وکَيْل ته

وښوي ليکن د شي اعلي ، متوسط او ادنی درجه ورته ونه ښوي مثلاً : فقط دونه ورته ووايي چي يو پسه را رانيسه بيا يې هم وکالت صحيح کيږي ځکه وکالت د لږ جهالت او نامعلومتيا سره هم صحيح کيږي .

که مُوَکِّل وکَيْل ته ووايي : ما ته ټوکر را رانيسه يا ورته ووايي : حيوان را رانيسه ، يا ورته ووايي سرای را رانيسه ، دا ډول وکالت نه صحيح کيږي ، ځکه چي سرايونه د ښار ، منطقې ، ګاونډيانو او تعمير په لحاظ د بېلو بېلو انواعو په شان دي او يو د بل څخه ډېر تفاوت لري .

دغه ډول آسان ، غوايي ، پسونه او اوښان ټول حيوانان دي البته په نوع کي يو د بل څخه بېل بېل دي .

همدا راز ټوکران د مادې په اعتبار وربېښمين ، نخي ، پشمي او د صنع او جوړښت په اعتبار افغاني ، جاپاني ، پاکستاني او داسي نور مختلف

انواع لري .

که د سرای د رانیولو قیمت یا تعمیراتي جوړ او منطقه یي هم ورته بیان کړي نو بیا یې وکالت صحیح کیږي

دغه ډول که د حیوان او ټوکره نوع یا د رانیولو قیمت هم ورته بیان کړی بیا یې وکالت صحیح کیږي .

## د وکَیْل تَخَلُّف

که وکَیْل د مُوَکِّل د امر مطابق ترون انجام کړي هغه ترون یې پر مُوَکِّل باندي لازمیږي او که د مُوَکِّل د امر څخه مخالفت وکړي یعني د مُوَکِّل د خوا د ټاکل سوو شرطونو او قیدونو مراعات و نه ساتي نو هغه ترون یې پر مُوَکِّل نه لازمیږي .

## د خرڅولو وکَیْل

د خرڅولو وکَیْل که د مُوَکِّل د شرطونو خلاف شی خرڅ کړي سودا یې پر مُوَکِّل نه لازمیږي بلکي د هغه پر اجازه موقوفه کیږي ، که مُوَکِّل اجازه ورکړه هلته بیا پر مُوَکَّل باندي لازمیږي ، که هغه اجازه ور نه کړي بیا یې سودا فسخ

کيږي .

مثال : زيد بکر ته وويل : دا زما بايسکل په نقدو په درې زره افغانيو راخرڅ کړه .

بکر بايسکل په نقدو په پنځه ويشتو سوو افغانيو ورخرڅ کړی يا يې د دوو مياشتو په پور په درې زره افغانيو ورخرڅ کړی ، پدې دواړو صورتونو کي د بايسکله سودا د زيد پر اجازه موقوفه کيږي ځکه وکَيْل يعني بکر د مُوَکِّل يعني زيد د شرط مطابق سودا نه ده کړې ، نو ځکه يې سودا د مُوَکِّل د اجازې څخه پرته نه صحيح کيږي .

وکَيْل د مُوَکِّل شی پر ځان نه سي خرڅولای ځکه يو سړی په يوه وخت کي هم رانيونکی او هم خرڅونکی نسي کېدلای .

د غه ډول د ابوحنيفه رحمة الله عليه په آند وکَيْل د مُوَکِّل شی د هغه شي په قيمت يا تر هغه ارزانه پر خپلي ښځي ، پلار ، نيکه ، زوی ، لمسي يعني اصولو او فروعو او داسي نورو دوستانو چي د هغوی په حق کي يې شاهدي نه قبليږي نسي خرڅولای ، ځکه چي وکَيْل په سودا کي تورن کيږي .

خو د شي د قيمت څخه يې په زيات قيمت بيا پر خرڅولای سي ځکه هلته بيا د تهمت تور نه پر لګول کيږي .

ياران وايي : وکَيْل د مُوَکِّل شی بېله خپله ځان څخه بل پر هر چا که څه هم يې زوی او پلار يې وي خرڅولای سي البته په هغوني قيمت ځونه چي د شي ارزښت او قيمت وي ، ځکه چي وکالت مطلق دی يعني مُوَکِّل مشتري نه دی ورته ټاکلی .

په دغسي سودا کي تېروني خپل او بيګانه فرق نه لري ، ځکه چي د دوستانو ملکيتونه يو د بل څخه بېل بېل دي ، يو د بل د شي مالک نه بلل کيږي نو د تور لګولو سوال هم نه پيدا کيږي .

## د رانيولو وکَيْل

د رانيولو وکَيْل که خپل مُوَکِّل ته شی ور رانيسي خو د مُوَکِّل شرطونه مراعات نه کړي سودا يې پر مُوَکِّل باندي نه لازميږي ، بلکي سودا خپله پر وکَيْل لازميږي .

مثال : زيد بکر ته ووايي : د خالد هغه کرولا موټر را رانيسه .

که بکر ورته په ګوته سوې کرولا موټر ور رانیاوه نو د موټر سودا پر زید لازمیږي .

که بکر په ګوته سوې کرولا را نه نیول ، بلکي د خالد بل موټر يې رانیاوه نو د هغه سودا بیا پر زید نه لازمیږي ، بلکي د هغه سودا د بکر د خپل ځان د پاره ګرځي او پیسه به يې هم بکر ورکوي ، دغه رنګه ګټه او تاوان يې هم په بکر اړه پیدا کوي ، ځکه بکر د زید یعني د خپل مُوَکِّل د امر څخه مخالفت وکړی ، هغه یو موټر ورته په نښه کړی وو چي ورته را يې نیسي خو ده پر خپل سر بل موټر ورته را نیوی .

که مُوَکِّل وکَیْل ته ووایي : تر پنځو لکو افغانیو پوري یو موټر را رانیسه .

وکَیْل په پنځه لکه او پنځوس زره افغانۍ موټر ورته رانیسي دا سودا هم پر مُوَکِّل باندي نه لازمیږي ، ځکه وکَیْل ته تر پنځو لکو افغانیو پوري اختیار ورکول سوی دی خو ده تر هغه په زیاتو پیسو موټر رانیاوه نو د مُوَکِّل د امر څخه د مخالفت لکبله يې سودا پر مُوَکِّل نه لازمیږي .

## ګټور تَخَلُّف

که وکَيْل د مُوَکِّل د امر څخه دا ډول مخالفت وركړي چي هغه د مُوَكِّل په ښکاره ګټه وي ، د مخالفت سره سره يې بيا هم تړون پر مُوَكِّل باندي لازميږي .

مثال : زيد بكر ته يو موټر په نښه كړ ورته وې ويل : دا موټر په پنځه لکه افغانۍ را رانيسه .

بكر هماغه موټر په څلور لكه افغانۍ ور رانياوه دلته كه څه هم بكر د خپل مُوَكِّل يعني زيد د امر څخه مخالفت كړی دی خو دا مخالفت د مُوَكِّل په ګټه دی ، نو ځکه يې د مخالفت سره د موټر سودا پر زيد لازميږي .

## د وکَيْل تړونونه

وكَيْل چي د خپل مُوَكِّل د پاره وكالتاً تړونونه کوي هغه پر دوه ډوله دي :

لومړی : يو هغه تړونونه دي چي وکَيْل يې د تړون په مهال نسبت ځان ته کوي لکه بيع او اجاره .

دوهم : بل هغه تړونونه دي چي وکَيْل يې د تړون پر مهال نسبت خپل مُوَكِّل ته کوي لکه نکاح او طلاق .

وکَیْل چي د خپل مُوَکِّل د پاره یو شی رانیسي ، په سودا کي د مُوَکَّل و یادوني ته هیڅ اړتیا نه لري بلکي وکَیْل د سودا ایجاب یا قبول په خپل نامه کولای سي البته مَبِیعَه د مُوَکَّل ملکیت ګرځي .

که وکَیْل د مُوَکِّل نکاح د ښځي سره تړي د نکاح ایجاب یا قبول به د مُوَکِّل په نامه کوي یعني داسي به وایي : ما پلانکۍ ښځه د خپل مُوَکِّل پلانکي د پاره وکالتا قبوله کړې ده ، ځکه د نکاح تړون باید د مُوَکِّل په نامه وسي او که وکَیْل د نکاح ایجاب یا قبول په خپل نامه وکړي نو ښځه د وکَیْل په نکاح کي راځي .

## د تړون مسؤلیتونه

په هر تړون کي پر تړون کونکو باندي ځیني حقونه راځي مثلاً : په سودا کي مشتري ته د مَبِیعِې سپارل د بایع پر ذمه راځي ، بایع ته بیا د ثمن سپارل د مشتري پر ذمه راځي ، دغه ډول مسؤلیتونو ته د تړون حقوق وایي .

هر هغه تړون چي وکَیْل یې پخپل نامه د مُوَکِّل د پاره کولای سي د هغه تړون حقوق وکَیْل ته راجع کیږي مثلاً : که وکَیْل د خپل مُوَکِّل د پاره

یو شی رانیسي د هغه شي د قیمت اداینه د وکَیْل پر ذمه راځي ، وکَیْل بایع ته نسي ویلای چي دا شی ما د پلانکي د پاره رانیولی دی پیسې یې د هغه څخه واخله .

خو وکَیْل بیا حق لري چي د شي پیسې د مُوَکِّل څخه واخلي ، ځکه چي وکَیْل دا شی د مُوَکَّل د پاره د هغه په امر رانیولی دی .

مثال : زید بکر ته وویل : د خالد موټر په دونه را رانیسه ، بکر په خپل نامه په هغونو پیسو د خالد څخه هغه موټر رانیاوه ، دا موټر د زید ملکیت ګرځي خو خالد ته به د موټر پیسې بکر ورکوي ، ځکه چي د خالد څخه رانیونکی بکر دی .

هغه تړونونه چي وکَیْل یې په خپل نامه نسي کولای بلکي د تړون نسبت به خپل مُوَکِّل ته کوي د هغو تړونو حقوق بیا مُوَکِّل ته راجع کیږي .

مثال : زید بکر د خپلي نکاح وکَیْل وټاکه ، دلته بکر د نکاح تړون پخپل نامه نسي کولای بلکي ایجاب یا قبول به د زید په نامه کوي .

د نکاح په تړون د ښځي ولور لازمیږي ، دلته که

څه هم نکاح بکر ترلې ده خو بیا هم ښځه د خپل ولور مطالبه د بکر څخه نسي کولای بلکي د ولور ورکولو مسؤلیت يې د زید پر ذمه راځي .

## د وکَیْل وکَیْل

په عام وکالت کي وکَیْل بل وکَیْل درولای سي ځکه چي عام وکالت هغه ته وايي چي مُوَکِّل کار د وکَیْل رايي او نظر ته وسپاري نو وکَیْل چي څه ډول لازم وګڼي همغسي کولای سي ، که يې پخپله کاوه او که يې وکَیْل ورته ټاکه په هغه يې کاوه ځکه ده لره اختیار ورکول سوی دی .

په خاص وکالت کي د خرڅولو وکَیْل بل وکَیْل د مُوَکِّل بې اجازې نسي درولای چي په هغه يې خرڅ کړي ، ځکه چي د شیانو خرڅول ځان ته مهارت ، تجربه او اعتماد غواړي ، داسي هم نه ده چي مُوَکِّل ته به د وکَیْل وکَیْل هم د ده په شان د تجربې خښتن او اعتماد وړ کس وي ، ځکه ډېر خلک داسي دي چي یوه ته به ډېر د اعتماد وړ وي خو بل کس به بیا پر هغه د لږ شي باور لا هم نسي کولای .

خو که وکَیْل ته د داسي شي د خرڅولو وکالت ورکړل سي چي د هغه خرڅول پخپله د وکَیْل د

شان وړ او مناسب کار نه وي هلته بيا خاص وکَيْل د هغه د خرڅولو د پاره بل کس وکَيْل ټاکلای سي.

مثلا : يو مخور سړي ته څوک د پسه يا غوايي د خرڅولو وکالت ورکړي دلته وکَيْل بل کس وکَيْل درولای سي ، ځکه په ګنج کي د مخور سړي د پاره پخپله د پسه او غوايي خرڅول نا مناسب کار ښکاري .

دغه ډول که مُوَکَّل فِيهِ داسي شی وي چي وکَيْل يې په يوازي سر خرڅولای نسي بلکي په خرڅولو کي يې د بل کومک ته اړتيا ولري او يا داسي شی وي چي خرڅول يې خاص مهارت ته اړتيا ولري او وکَيْل د هغه ډول مهارت څښتن نه وي په داسي حالاتو کي هم خاص وکَيْل بل وکَيْل درولای سي .

## د وکالت پای ته رسېدل

د وکَيْل وکالت په لاندي شيانو پای ته رسيږي :
لومړی : دا چي وکَيْل پخپله ځان د وکالت څخه ګوښه کړي .

دوهم : دا چي مُوَكِّل هغه کار چي وکَيْل ته يې سپارلی وو پخپله وکړي .

دريم : دا چي د مُوَكِّل يا د وکَيْل د وکالت اهليت ختم سي مثلا په مُوَكِّل او وکَيْل کي يو مړ سي يا ليونی سي دلته هم وکالت پای ته رسيږي .

څلورم : دا چي مُوَكَّل فِيهِ له منځه ولاړ سي مثلا د غوا د خرڅولو وکالت يې ورکړی وي او غوا مړه سي نو وکالت پای ته رسيږي .

پنځم : دا چي مُوَكِّل وکَيْل د وکالت څخه معزول او ګوښه کړي البته د وکَيْل د ګوښه کولو د پاره دوه شرطونه دي .

## د وکَيْل معزولول

که مُوَكِّل وکَيْل د وکالت څخه ګوښه کاوه که لاندي دوو شرطونو وجود درلودی نو وکَيْل د وکالت څخه ګوښه کيږي :

اول : وكَيْل ته د ګوښه كېدلو خبر رسېدل .

دوهم : د وكالت سره د بل حق تړاو نه درلودل .

كه مُوَكِّل د وكَيْل په مخ كي هغه معزول كړي وكالت يې ځاى پر ځاى ختميږي .

كه مُوَكِّل خپل وكَيْل د هغه په غياب كي معزول كړي تر هغه وخته پوري وكَيْل پر خپل وكالت پاته بلل كيږي تر څو چي هغه ته پدې هكله د مُوَكِّل ليک يا قاصد ورځي يا دوه تنه يا يوعادل كس وكَيْل ته د معزول كېدلو خبر وركوي .

دغه ډول كه يو نفر چي هغه عادل نه وي وكَيْل ته د هغه د ګوښه كېدلو خبر وركړي او وكَيْل يې خبره ومني هلته هم د وكَيْل وكالت وپاى ته رسيږي .

مثال : زيد بكر ته ماښام وويل : زما د پاره سبا يو چينايي بايسكل را رانيسه ، بكر يې وكالت ومانه ، زيد د ماخستن په مهال د بكر په غياب كي هغه د وكالت څخه ګوښه كړى ، بكر سبا سهار د زيد د پاره بايسكل رانياوه خو پدې خبر نه وو چي زيد براىي شپه دى د وكالت څخه ګوښه كړى دى ، دغه سودا پر زيد لازميږي ،

ځکه چي نه بکر ته د معزولیت خبر رسېدلی دی او نه زید په خبر کړی دی .

که بکر ته د سودا دمخه د معزوله کېدلو خبر ورسیږي او د هغه وروسته د زید د پاره بایسکل رانیسي هلته د بایسکله سودا پر زید نه لازمیږي بلکي بایسکل پر بکر تاوانیږي .

د وکالت څخه د ګوښه کولو دوهم شرط دا دی چي د وکالت سره به د بل حق تړاو نلري ، که د وکالت سره د بل حق تړاو وِمومي نو بیا مُوَكِّل خپل وكَيْل د وکالت څخه نسي ګوښه کولای .

مثال : زید پر بکر د درو لکو افغانیو ټوکران د دوو میاشتو په پور خرڅ کړل ، د بکر څخه یې موټر په ګروي کي واخیستی او هم یې د موټر د خرڅولو د پاره وكَيْل په ودراوه ، بکر خالد ته وویل : که ما په دوو میاشتو کي د زید پور ادا نکړی ته زما لخوا وكَيْل یې زما د ګروی موټر د زید په پور کي خرڅ کړه .

پدې مثال کي خالد د بکر وكَيْل دی خو بکر یې د زید د رضایت څخه پرته د وکالت څخه نسي ګوښه کولای ، ځکه د خالد د وکالت سره د زید حق تړاو لري ، که د زید پور تر خپل میعاد

ځنډېږی نو هغه د همدې وکالت د لاري حاصلولای سي .

## شَرِكَةُ

شَرِكَةُ ته په پښتو کي شراکت وايي .

شَرِكَةُ په لغت کي اختلاط او ګډېدلو ته وايي يعني يو مال د بل مال سره دا ډول ګډېدل چي بيا نه سره بېلېږي ، په فقهي اصطلاح کي يې تعريف په لاندي ډول دی :

د شراکت تعريف : په سر مايه او ګټه کي د شريک کېدلو تړون ته شراکت وايي[۲۰] .

شراکت پر دوه ډوله دی .

(۱) شَرِكَةُ الاَملاكِ .

(۲) شَرِكَةُ العُقُودِ .

[۲۰] تعريف الشركة : هي عبارة عن عقد بين المتشار كين في راس المال والربح

# شَرِكَةُ الاملاَک

شرکة املاک هغه شراکت ته وايي چي دوه يا څو تنه د يوه شي په مُشَاع ډول مالکان وګرځي ، مُشَاع دې ته وايي چي شريکان د شي په هر جزء کي د فيصدۍ له مخي شريکان وګرځي .

دلته موږ شَرِکَةُ الاملاکِ د اَملاکي شراکت په نامه يادو .

املاکي شراکت کله د شريکانو په خپل خوښه او اختيار را منځ ته کيږي او کله بيا د شريکانو بې اختياره را منځ ته کيږي .

مثال : زيد ، بکر او خالد ته يو باغ د پلار څخه په ميراث کي ورسيږي ، تر هغه مهاله چي دوی خپل منځ کي باغ وېشلی نه وي باغ د دوی درو تر منځ په مُشَاع ډول شريک دی .

دا د زيد ، بکر او خالد تر منځ املاکي شراکت دی خو دوی يو د بل سره بې اختياره پکښي شريکان سوي دي .

که زید ، بکر او خالد په ګډه باغ رانیسي هلته هم باغ د دوی درو تر منځ په مُشَاع ډول مشترک ګرځي خو دلته دا املاکي شراکت دوی تر منځ د دوی په خوښه او اختیار را منځ ته سوی دی .

اصطلاحات :

مُشَاع : مُشَاع هغه شي ته وایي چي د څو تنو تر منځ په ګډه د فیصدی په حساب شریک وي .

مُفرَزُ : د شریکانو تر منځ چي مُشَاع شی ووېشل سي او د هر یوه حصه د بل د حصې څخه بېله کړه سي هغه ته مُفرَزُ وایي .

مثال : زید ، بکر او خالد ته د پلار سرای په میراث کي پاته سو ، دا سرای د زید ، بکر او خالد تر منځ په مُشَاع ډول مشترک ګرځي ، دوی درې د سرای په هره خونه ، په هره حصه کي یو د بل شریکان بلل کیږي .

که دوی سرای پخپل منځ کي ووېشي او د هر یوه حصه د نورو څخه بېله او معلومه سي ، دلته

د هر يوه برخه د نورو څخه مُفرَزُ يعني بېله سوه نور نو دوی درې يو د بل شريکان نه بلل کيږي بلکي يو د بل ګاونډيان بلل کيږي .

تَمَلُّک : د يو شي مالک کېدلو ته تَمَلُّک وايي .

تَمَلُّيک : بل ته په ځان شی ورکول تَمَلُّيک بلل کيږي .

## د املاکي شراکت حکم

په املاکي شراکت کي هر شريک د بل شريک په حصه کي بېګانه بلل کيږي او يو شريک د بل شريک په برخه کي د هغه بې اجازې هيڅ نوع تصرف نسي کولای .

مثال : که زيد او بکر په ګډه باغ رانيسي ، نيمی پيسې يې زيد او نيمی يې بکر ورکړي ، باغ د زيد او بکر تر منځ په مُشَاع ډول سم برابر مشترک ګرځي .

په دوی دوو کي هر يو خپله حصه يعني د باغ ۵۰% پنځوسمه سلنه خرخولای سي ، خو ټوله

باغ د هغه بل بې اجازې نسي خرڅولای ، ځکه چې په املاکي شراکت کې یو شریک د بل شریک په حصه کې هيڅ ډول تصرف د هغه بې اجازې نسي کولای .

## شَرِکة العُقُود

دوه یاڅو تنه د تړون له مخې په مال او ګټه کې شریک کېدلو ته شَرِکَةُ العُقُودِ وایي ، دلته موږ شَرِکَةُ العُقُودِ د تړوني شراکت په نامه هم یادو .

شرکة عقود پر درې ډوله دی :

(۱) شَرِکَةُ الاَموَال .

(۲) شَرِکَةُ الاَعمَال .

(۳) شَرِکَةُ الوُجُوه .

شَرِکَةُ الاَموَال : شَرِکَةُ الاَموَال هغه شراکت ته وایي چې دوه یا څو تنه په مایه کې شریکان سي په ګډه معامله کوي ، الله تعالی چې هر څونه ګټه پکښې ورکړه هغه یې تر منځ د مایې یا ټاکلې سلنې په حساب شریکه وي .

دلته موږ شَرِکَةُ الاَمَوَال د مالي شراکت په نامه هم يادو .

شَرِکَةُ الاَعمَال : شَرِکَةُ الاَعمَال هغه شراکت ته وايې چي دوه ياڅو تنه کاريګران خپل منځ کي دا ډول تړون وکړي چي د خلکو څخه به په مزدوري کارونه اخلي او په ګډه به يې کوي او د هغه اجوره به پخپل منځ کي سم برابر يا د ټاکلي سلني په حساب ويشي .

دلته موږ شَرِکَةُ الاَعمَال د کاري شراکت په نامه هم يادو .

شَرِکَةُ الوُجُوه : شَرِکَةُ الوُجُوه هغه شراکت ته وايي چي دوه يا څو تنه اعتباري او بې مايې کسان خپل تر منځ دا ډول تړون وکړي چي مالونه به د خلکو څخه په خپل اعتبار په پور رانيسي بيا به يې په نقدو خرڅوي ، هر څونه ګټه چي الله تعالي پکښي ورکړه هغه به يې تر منځ په نيمايي يا د ټاکلي فيصدۍ په حساب شريکه وي .

دلته موږ شَرِكَةُ الوُجُوه د اعتباري شراکت په نامه هم یادو .

## د شَرِكَةُ العُقُودِ ډولونه

شَرِكَةُ العُقُودِ یا تړوني شراکت پر دوو ډولونو کېدلای سي ، یو ډول ته یې شَرِكَةُ المُفَاوَضَة وایي او بل ډول ته یې شَرِكَةُ العَنَان وایي .

په مالي ، کاري او اعتباري شراکتونو کي که

شریکان په مایه ، ګټه او کار کي یو د بل مساوي او برابر نه وه یعني د مفاوضې څانګړي شرطونه یې پرځای نه وه بیا دا هر شراکت د شَرِكَةُ العَنَان په ډول دی .

که په مالي ، کاري او اعتباري شراکتونو کي شریکان په مایه ، ګټه او کار کي یو د بل مساوي او برابر وه یعني د مفاوضې څانګړي شرطونه یې پرځای وه هلته بیا دا هر شراکت د شَرِكَةُ المُفَاوَضَة په ډول دی .

د پورتني وېش له مخي شَرِکَةُ العُقُودِ پر شپږو ډولونو وېشل کيږي .

## شَرِکَةُ المُفَاوَضَة

په شَرِکَةُ الاَمَوَال يعني مالي شراکت کي که شريکان هر يو خپله ټوله مايه په شراکت کي شامله کړي او د ټولو شريکانو مايې يو د بل سره برابري وي ، همدا ډول په ګټه او تصرف کي هم ټول شريکان په مساوي او برابر ډول ونډي او مسؤليتونه ولري د هغوی دا مالي شراکت د شَرِکَةُ المُفَاوَضَة په نامه ياديږي ، ځکه پدې شراکت کي هر شريک بل ته د شراکت ټول کارونه سپاري .

## د مفاوضې حکم

په شَرِکَةُ المُفَاوَضَة کي هر شريک د بل شريک هم وکَيْل او هم کفيل ګرځي ، لهذا د مفاوضې شراکت د هغو کسانو تر منځ کېدلای سي چي د وکالت او کفالت اهليت او وړتيا ولري .

د مفاوضې شراکت د هغو کسانو ترمنځ نسې کېدلای چي د يوه مايه ډېره د بل دا لږ وي يا د يوه د ګټې ونډه زياته او د بل دا لږ وي .

همدا ډول د مفاوضې شراکت د هغو کسانو ترمنځ هم نسې کېدلای چي په يو خاص نوع تجارت کي شريکان سي خو د دې تر څنګ هر يو ځان ته بل تجارت هم کوي ، ځکه په هر شراکت کي که د شريکانو مايې ، واک او مسؤليتونه ، د ګټې ونډي په برابر ډول نه وي بلکي د يوه دا زيات د بل دا کم وي هغه بيا د شَرِکَةُ العَنَان په نامه ياديږي .

د شَرِکَةُ المُفَاوَضَة و شرائطو ته چي وکتل سي وجود يې ډېر ګران او بيخي نادر ښکاري ، ځکه

نو د شَرِكَةُ المُفَاوَضَة بحث پر همدې ځای پای ته رسوو او د شَرِكَةُ العَنَان په تفصيلي بيان پيل کوو ځکه چي په عام ډول چي خلک مالي ، کاري يا اعتباري شراکتونه کوي هغه ټول د شَرِكَةُ العَنَان په ډول دي .

## شَرِكَةُ العَنَان

په شَرِكَةُ الاَموَال يعني مالي شراکت کي که د يوه شريک مايه ډېره او د بل دا لږ وي يا د شريکانو مايې يو د بل سره مساوي او برابري وي ، خو په ګټه کي د يوه سلنه تر هغه بل زياته وي يا تجارتي کار د يوه پر ذمه ډېر او د بل پر ذمه لږ يا بيخي نه وي يا په يو خاص ډول تجارت کي شريکان سي خو تر څنګ يې هر يو ځان ته نور کاروبار هم کوي نو دا مالي شراکت يې د شَرِكَةُ العَنَان د قسم څخه دی .

## تاوان

په شَرِكَةُ العَنَان کي تاوان د مايې په تناسب پر هر شريک راځي ، هر شريک چي په شراکت کي هر څو فيصده مايه ولري نو هغونه فيصده تاوان پر هغه باندي راځي .

## ګټه

په شَرِكَةُ العَنَان کي ګټه د شريکانو د خپل منځي فيصلې په حساب تقسيم کيږي .

که د شريکانو مايې يو د بل سره برابري وي او يوه شريک ته زياته ګټه او بل ته لږ ګټه وټاکل سي بيا هم جواز لري ، خو پدي شرط چي تجارتي کار به د دواړو پر ذمه وي يا به د هغه شريک پر ذمه وي چي هغه تر خپلې مايې زياته ګټه اخلي .

دا ځکه چي د ګټي استحقاق يا په مال يا په کار او يا په ضمان ثابتيږي نو هغه شريک چي د

هغه پر ذمه شراکتي هيڅ کار نه وي او بيا تر خپلي مايې زياته ګټه اخلي نو هغه د اضافي ګټي مستحق نه بلل کيږي ، ځکه چي د مال په مقابل کي چي د څونه ګټي مستحق دی دا تر هغه اضافه ده او کار هم نه کوي چي د کار لکبله د اضافي ګټي مستحق وبلل سي .

همدا ډول تر مايې اضافه ګټه د ضمان په مقابل کي هم نه اخلي ځکه په شراکت کي تاوان د مايې په تناسب پر شريکانو ويشل کيږي .

## تصرفات

په شَرِكَةُ العَنَان کي هر شريک په شراکتي کار کي يو د بل وکَيْل ګرځي ، لهذا شَرِكَةُ العَنَان د هغو کسانو تر منځ صحيح کيږي چي هغوی د وکالت اهليت او وړتيا ولري .

په شَرِكَةُ العَنَان کي هر شريک د شراکت د تړون لکبله راتلونکي تصرفات کولای سي .

اول خرڅول : هر شريک شراکتي مال په نقدو او پور خرڅولای سي ، دغه ډول په ګران او

ارزان نرخ يې هم خرڅولای سي ، ځکه چي د شراکت د تړون په اساس دوي يو د بل وکَيْل ګرځي ، البته په غبن فاحش يې د شريک بې اجازې نسي پلورلای يعني په دونه ارزانه قيمت يې نسي خرڅولای چي په هغه کي په عام ډول خلک نه تېر وځي .

دوهم رانيول : هر شريک د شراکت د پاره شراکتي مال په نقدو او پور رانيولای سي ، ليکن که د شراکت مايه ټوله په مالو بنده سي هلته بيا يو شريک هم نسي کولای چي د بل شريک بې اجازې په پور شی رانيسي .

که د شراکت مايه ټوله په مال بنده وي او يو شريک د شراکت د پاره په پور مال رانيسي هغه په شراکت کي نه شمېرل کيږي بلکي په خپله په ده اړه پيدا کوي او ګټه او تاوان يې هم پر ده راځي .

خو که شريک يې په داسي حال کي چي د شراکت ټولي پيسي په په مالو بندي وي په پور د

نورو مالو د رانيولو اجازه ورکړې وه هلته يې
بيا په پور هم رانيولای سي او هغه مال په
شراکت کي شمېرل کيږي .

دريم اِسْتِئْجَار : اِسْتِئْجَارمعنا په مزدوري اجير
درول يا يو ځای په کرايه نيول ، په شَرِکَةُ العَنَان
کي شريک د شراکتي کاروبار د پاره اجير او
مزدور درولای سي ، دغه ډول د مالو د ساتني د
پاره په کرايه ګدام هم نيولای سي .

څلورم اِيدَاع : په شَرِکَةُ العَنَان کي هر شريک
شراکتي مال بل ته د وديعې په ډول ورکولای
سي يعني شريک شراکتي مال په بل چا ساتلای
سي ، ځکه چي ايداع هم د تجارتي اړتياؤ څخه
بلل کيږي .

پنځم اِبضَاع : په شَرِکَةُ العَنَان کي هر شريک
شراکتي مال په اِبضَاع ورکولای سي .

ابضاع دې ته وايي چي څوک بل ته پيسې د
تجارت د پاره ورکړي ، څو هغه د ده په پيسو د
ده د پاره تجارت وکوي ، هغه يې نه په ګټه او

نه په تاوان کي شريک وي او نه مزدوري ځني اخلي .

شپږم توکَيْل : هر شريک د شراکتي مال پېر او پلور په وکَيْل کولای سي .

اووم حوالة : په شركة العنان کي لکه څنګه چي شريک په پور مال خرڅولای سي دغه ډول د هغه مال د پيسو حواله د مشتري څخه پر بل چا باندي هم اخيستلای سي او که په پور شی رانيسي د هغه د پيسو حواله بايع ته هم پر بل چا باندي ورکولای سي .

اتم مال د ځان سره وړل : په شَرِكَةُ العَنَان کي هر شريک شراکتي مال په سفر کي د ځان سره وړلای سي .

نهم مضاربة : دغه ډول شريک په شَرِكَةُ العَنَان کي شراکتي مال بل ته په مضاربت هم ورکولای سي .

مضاربت دې ته وايې چي يو څوک و بل چا ته پيسې د تجارت د پاره ورکړي ، مايه د ده او

اوږه د هغه وي او ګټه يې تر منځ د فيصدۍ له مخې شريکه وي البته تاوان ټول د مايې پر څښتن راځي .

لسم رهن : په شَرِکَةُ العَنَان کي شريک کولای سي که شراکتي مال يې په پور خرڅاوه چي د مشتري څخه يو شی په ګروي کي واخلي ، دغه ډول که د شراکت د پاره يې مال په پور رانياوه نو د رانيول سوي مال په پور کي شراکتي شی په ګروي کي ورکولای سي .

د پورتنيو تصرفاتو يادونه که څه هم د شَرِکَةُ العَنَان په تړون کي صراحتا و نه کړل سي بيا يې هم شريک کولای سي ، ځکه دا ټول تصرفات د تجارانو معمول او په تجارت کي اړتيا ورته ليدل کيږي .

که د شراکت په تړون کي د مخکنيو تصرفاتو پر ځينو تصرفاتو په صريح ډول بنديز ولګول سي هلته يې بيا د شريک بې اجازې نسي کولای .

## تحفه او قرض

په شَرِکَةُ العَنَان کي يو شريک لا هم د شراکتي مال څخه بل چا ته تحفه او خيرات نسي ورکولای .

دغه ډول د شراکت پيسې يو شريک لا هم بل چا ته په قرض نسي ورکولای البته که شريک د تحفي او قرض ورکولو اجازه ورکړي هلته يې بيا کولای سي .

## د تړون حقوق

په شَرِکَةُ العَنَان کي چي هر شريک سودا وکړي د مَبِيعِې او ثمن راکړه ورکړه په هغه پوري اړه پيدا کوي .

که يو شريک يو شی خرڅ کړي هغه بل شريک يې د مشتري څخه د پيسو مطالبه نسي کولای او نه مشتري د هغه څخه د مَبِيعِې د سپارلو غوښتنه کولای سي يعني کوم شريک چي سودا يې نه ده کړې هغه د خپل شريک د بايع او مشتري څخه بيګانه بلل کيږي او يو او بل د مبيعي او ثمن په

سپارلو کي نسي مجبوره کولای ، ځکه چي د سودا حقوق تړون کونکي ته راجع کيږي .

## شَرِکَةُ الوُجُوهِ

شَرِکَةُ الوُجُوهِ کټ مټ د شرکة الاموال په شان هم د مفاوضې په ډول او هم د عنان په ډول کېدلای سي او شرائط يې هم ټوله د شرکة الاموال دي .

د شرکة الاموال او د شرکة الوجوه تر منځ فرق يوازې پدې کي دی ، چي په شرکة الاموال کي شريکان په پيسو تجارت او کاروبار کوي او په شرکة الوجوه کي شريکان خپلي مايې نه لري بلکي په خپل اعتبار مالونه په پور رانيسي او بيا يې په څه اندازه ګټه په نقدو خرڅوي .

شرکة الوجوه که د مفاوضې په ډول وي نو د هغه د پاره د شريکانو د کفالت وړتيا هم شرط ده ځکه چي په مفارضه کي شريکان يو د بل کفيل هم ګرځي .

همدا ډول هر شی چي رانيسي هغه به نيمی پر

یوه او نیمی به پر بل حسابیږي او هم د هغه شي ثمن او تاوان به نیمی د یوه پر ذمه او نیمی د بل پر ذمه باندي راځي .

بل شرط یې دا هم دی چي تړون به د مفاوضې په نامه مُنْعَقِد کیږي .

د پورتنیو شرطونو څخه که یو شرط پر ځای نسي نو بیا هغه ته شرکة العنان وایي ، ځکه په شرکة العنان کي که په مُشْتَرَا یعني رانیول سوي شي کي د یوه ونډه ډېره او د بل ونډه لږ وي هم صحیح کیږي .

شرکة الوجوه که د عنان په ډول وي په شراکتي شي کي چي د هر شریک څونه ونډه وي تاوان یې هم هغونه پر هغه راځي .

مثال : که زید او بکر تر منځ اعتباري تړون پدې ډول وکړي چي هر شی چي دوی یې د شراکت د پاره رانیسي د هغه شپیته فیصده د زید او څلویښت فیصده یې د بکر ده .

نو هر شی چي د شراکت د پاره رانیسي د هغه

قیمت او تاوان شپیته فیصده پر زید او څلویښت فیصده یې د بکر پر ذمه باندي راځي .

د شَرِكَةُ الوُجُوهِ تړون که مطلق وکړل سي یعني په تړون کي د عنان او مفاوضې یادونه و نه کړي د هغه څخه شركة العنان مراد اخيستل کیږي .

## شَرِكَةُ الَاعمَالِ

شركة الاعمال هم د مفاوضې او هم د عنان په ډول کېدلای سي ، شركة الاعمال ته شركة الابدان هم وايي .

مثال : زید او بکر خیاطان دي ، دوی د مفاوضې په نامه داسي شراکت وکړ چي په دوی دوو کي چي هر یو د خیاطۍ کار ونیسي هغه به دواړه په برابر ډول کوي او هم به یې ګټه او تاوان په برابر ډول سره وړي او پدې کار کي به یو د بل کفیل هم وي دغه ته مفاوضه وايي .

شركة الاعمال که دعنان په ډول وو هر شریک چي د خلکو څخه کار ونیسي هغه پر نورو شریکانو هم لازمیږي .

مثال : که زيد او بکر په خياطي کي پدې ډول شريکان سي چي د خلکو څخه به د خياطۍ کارونه نيسي بيا به يې په ګډه ورکوي خو مزدورې يې دوې حصې د زيد او يوه حصه د بکر ده .

دلته که زيد د خالد څخه ټوکر د کالو د پاره واخلي خالد يې د رغولو مطالبه د بکر څخه هم کولای سي او بکر نسي ورته ويلای چي کالي ما نه دي در څخه اخيستي ، دغه ډول بکر بيا د خالد څخه د کالو د مزدورۍ مطالبه کولای سي خالد بيا هغه ته نسي ويلای چي ما کالي تا ته د رغولو د پاره نه دي درکړي ، ځکه شرکة الاعمال که څه هم دعنان په ډول وي بيا هم هر شريک چي کار قبول کړي مُسْتَأْجِر يې د هغه بل شريک څخه هم د اجراء کولو مطالبه کولای سي لکه څه ډول چي د مفاوضې په شراکت کي يې کولای سي .

# مضاربت

د **مُضاَرَبَت تعریف** : بل ته پیسې د کار وبار د پاره ورکول چي ګټه یې د خاوند او عامل تر منځ د فیصدی په حساب شریکه وي مضاربت بلل کیږي[۲۱] .

د یادوني وړ ده چي په مُضَارَبت کي تاوان ټول پر رب المال راځي ، مُضَارِب په تاوان کي هیڅ ونډه نه اخلي بلکي د هغه خواري او محنت ضایع کیږي .

اصطلاحات :

رب المال: د پیسو خاوند ته رب المال یا مالک وایي .

مُضَارِب : د بل په پیسو کارکونکي ته چي په ګټه کي ورسره شریک وي مُضَارِب یا عامل وایي .

راس المال : راس المال هغو پیسو ته وایي چي په مضاربت کي د کار وبار د پاره و مُضَارِب ته

---

[۲۱] تعریف المُضاَرَبَةْ : هي ان یدفع المالک الي العامل مالا لیتجر فیه ویکون الربح مشترکا بینهما بحسب ما شرطا .

ور کول کیږي .

مثال : زید بکر ته لس لکه افغانۍ د تجارت د پاره پدې شرط ورکړي چي ګټه به یې نیمه د زید او نیمه د بکر وي دغه ډول تړون ته مُضَارَبَت وایي .

پدې مثال کي زید ته رب المال وایي ، بکر ته مُضَارِب یا عامل وایي ، لس لکه افغانۍ چي زید بکر ته ورکړي دي د راس المال په نامه یادیږي، مُضَارَبَت ته مُقَارضَة او مُعَاملة هم وایي .

د مُضَارَبَت تړون په ایجاب او قبول تړل کیږي .

## د مُضَارَبَت ډولونه

مُضَارَبَت پر دوه ډوله دی ، مطلق مُضَارَبَت ، مقيد مُضَارَبَت .

مطلق مُضَارَبَت دې ته وايي چي رب المال بېله قيد او شرط څخه مُضَارِب ته مال ورکړي ورته ووايي : دا مال مي تا ته په مُضَارَبَت درکړ ، ته چي څه ډول لازم بولې هغه ډول کار په وکړه ، ګټه مو تر منځ دونه فيصده ستا او دونه فيصده زما ده .

مقيد مُضَارَبَت دې ته وايي چي رب المال و مُضَارِب ته د کاروبارځای وټاکي چي په پلانکي ښار او وطن کاروباره په کوه يا د کاروبار ډول ورته تعيين کړي چي د پلانکي شي تجارت په کوه يا وخت ورته وټاکي يا د کاروبار نفر ورته وټاکي چي د دغو کسانو سره پېر او پلور کوه .

په مقيد مُضَارَبَت کي مُضَارِب هغه ډول کاروبار کولای سي کوم چي ورته ټاکل سوی او د ټولو ټاکل سوو شرطونو مراعات به ساتي .

## د ترون کونکو شرطونه

د مُضَارَبَت د پاره یو شرط دا دی چي ترون کونکي یعني مالک او عامل به دواړه د توکَیْل یعني د وکَیْل ټاکلو او هم د وکالت وړتیا او اهلیت لري .

## د راس المال شرطونه

لومړی : راس المال به نقدي پیسې وي ، مځکه او نور سامانونه د مُضَارَبَت راس المال نسي کېدلای ، ځکه چي د هغو ارزښت نامعلوم دی .

البته که مالک مځکه یا نور سامانونه و مُضَارِب ته ورکړي او ورته ووایي : دا خرڅ کړه بیا یې پیسې په مُضَارَبَت واخله هلته بیا صحیح کیږي .

دوهم : د راس المال مقدار به معلوم او ټاکلی وي که د راس المال مقدار نامعلوم وي نو ګټه یې هم بیا نامعلومه پاتیږي ، پداسي حال کي چي په مُضَارَبَت کي باید د ګټي مقدار معلوم وي .

دريم : راس المال به حاضر وي ، پور او غايب مال په راس المال کي نه صحيح کيږي .

مثال : د زيد پر بکر دوه لکه افغانۍ باندي دي بکر ته ووايي : زما د پور پيسې په مضاربت واخله او کار په وکړه ، بکر په دوو لکو افغانيو د مُضَارَبَت د پاره موټر رانياوه نو دا موټر په مُضَارَبَت کي نه شمېرل کيږي .

په مخکني مثال کي د ابوحنيفه رحمة الله عليه د اصل پر بنسټ موټر د بکر کيږي او د موټر ګټه او تاوان په بکر پوري اړه لري ، د زيد پور د پخوا په شان د بکر پر ذمه پاتيږي ، ځکه د ابوحنيفه په آند که د چا پر بل پور باندي وي او بيا هغه ته وکالت ورکړي چي زما په پور شی را رانيسه دا وکالت نه صحيح کيږي .

البته د ملګرو په آند دا ډول وکالت صحيح کيږي په پورتني مثال کي د ملګرو د اصل پر بنسټ موټر د زيد کيږي ، ګټه او تاوان يې هم په زيد اړه لري ، ځکه بکر د زيد وکَيْل دی ، د زيد په

امر او د هغه په پیسو یې موټر رانیاوه ، پدې سره مُضَارَبَت فاسدیږي نو ځکه بکر د خپل کار په اندازه د اجورې مستحق ګرځي .

که د زید پر بکر پور باندي وي او خالد ته وایي : زما پور د بکر څخه واخله ته په هغه مُضَارَبَت وکړه دلته بیا مُضَارَبَت صحیح کیږي .

دغه ډول که د چا پیسې بل ته د امانت په ډول

پرتې وي هغه ته وایي : زما د امانت په پیسو مضاربت وکړه دا هم صحیح کیږي .

څلورم : راس المال به مُضَارِب ته سپارل کیږي څو هغه کار په وکړای سي .

## د ګټې شرطونه

لومړی : په مُضَارَبَت کي بايد د رب المال او مُضَارِب د ګټې مقدار معلوم وي ځکه د مُضَارَبَت اصلي موخه همدا ګټه ده ، که د ګټې وېش نامعلوم سي نو مُضَارَبَت فاسديږي .

البته که څوک چا ته پيسې ورکړي او ورته ووايي : په ګټه کي شريکان يو دلته بيا مُضَارَبَت صحيح دی او ګټه نيمه د يوه او نيمه د بل کيږي ځکه دلته شراکت د برابري په معنا راځي .

دوهم : د ګټې وېش به د فيصدۍ له مخي تاکل کيږي ، البته په هر څو فيصدي چي تر منځ موافقه وکړي .

که د دواړو سلني برابري وي هم صحيح کيږي

او که د يوه دا مثلا څلوېښت فيصده او د بل دا شپيته فيصده وټاکل سي هم صحيح کيږي .

که د يوه د پاره معلوم مقدار ګټه وټاکل سي د مثال په ډول د يوه د ګټې ونډه شل زره افغانۍ

وټاکل سي تر شلو زرو چي هر څونه اضافه ګټه وسي هغه د هغه بل د پاره وټاکل سي دا ډول مُضَارَبَت بيا نه صحيح کيږي ، ځکه ګټه يې تر منځ مُشَاع نه ده .

## د فاسد مُضَارَبَت حکمونه

مُضَارَبَت به صحيح وي يا به فاسد وي هر ډول يې ځان ته حکمونه لري پدې ځپرکي کي د فاسد مُضَارَبَت احکام بيانوو .

په فاسد مُضَارَبَت کي مُضَارِب نه د نفقې حق لري او نه د ټاکلي ګټې حق لري بلکي د اجر مثل مستحق ګرځي .

مُضَارِب چي څومره کار کړی دی دغه کار چي اجير په څومره اجوره کوي هغه د مُضَارِب د کار اجر مثل بلل کيږي .

مثال : که زيد بکر ته ووايي : زما موټر واخله ټکسيتوب په کوه ، څومره پيسه چي وګټې هغه مو تر منځ سم نيمی ده .

دا ډول مُضَارَبَت فاسد دی ، بکر چي څومره پیسه وګټي هغه ټوله د زید یعني د رب المال کیږي ، ځکه دا د هغه د مال زیږد او محصول دی ، البته بکر د خپل کار په اندازه د مزدورۍ مستحق ګرځي .

په فاسد مُضَارَبَت کي که بیخي ګټه ونسي بیا هم مُضَارِب د اجر مثل حق لري .

## د صحیح مُضَارَبَت احکام

د صحیح مُضَارَبَت ډېر احکام دي ځیني یې د مُضَارِب د لاس و حالت ته راجع کیږي ، ځیني یې د مُضَارِب د تصرفاتو سره تړاو لري ، ځیني یې د مُضَارِب وکار ته راجع کیږي او ځیني بیا پدې اړوند دي چي مُضَارِب په کاروبار کولو د څه شي مستحق ګرځي او ځیني نور بیا و رب المال ته راجع کیږي چي هغه په خپل مال د څه شي مستحق ګرځي .

## د مُضَارِب د لاس حالت

مُضَارِب امين دی ، د مُضَارِب په لاس کي راس المال د وديعې او امانتي مال حکم لري ځکه چي د مالک په اجازه يې اخيستی دی .

مُضَارِب چي څه مهال په راس المال د مُضَارَبَت د پاره مال رانيسي نو بيا د پېر او پلور د وکَيْل حکم پيدا کوي ځکه د بل په مال کي يې د هغه په اجازه تصرف وکړ ، وکَيْل هم همدې ته وايي .

مُضَارِب چي څه مهال ګټه وکړي نو د خپلي ونډې په اندازه د رب المال سره شريک ګرځي ، ځکه په خپل کار او عمل د مال د يوې برخي څښتن وګرځېدی ، خو که د يو سبب لکبله مُضَارَبَت فاسد سو نو د مُضَارَبَت تړون د اجارې په تړون بدليږي او مُضَارِب د رب المال د پاره د اجير حکم پيدا کوي او د خپل کار په اندازه د اجورې مستحق ګرځي .

که د مُضَارِب په لاس کي بېله د ده د تفريط او

نیمګړتیا څخه مال له منځه ولاړ سي تلف سي تاوان یې نه پر راځي .

د مُضَارَبَت ټول تاوان پر رب المال راځي البته که د مخه یې ګټه کړې وي اول هغه ګټه په تاوان کي ځي ، که تاوان تر ګټي زیات وو نو بیا د ګټي څخه اضافه تاوان د مایې څخه شمېرل کیږي .

که مُضَارِب د رب المال د شرط څخه مخالفت وکړي مثلا : داسي کاروبار په وکړي چي رب المال یې اجازه نه وي ورکړې یا داسي شی په رانیسي چي رب المال د هغه د رانیولو څخه منع کړی وي ، پدې صورت کي مُضَارِب د غاصب په شان ګڼل کیږي د مال ضمان پر راځي ، ځکه دا د بل پر ملک د تیري په معنا دی .

که رب المال پر مُضَارِب د راس المال د تلف کېدلو د ضمان شرط کښېښود نو شرط یې باطل دی البته تړون یې صحیح بلل کیږي .

## د مُضَارِب تصرفات

د مُضَارِب تصرفات د مُضَارَبَت په ډول پوري اړه لري ځکه مُضَارِب په مقيد مُضَارَبَت کي يو ډول تصرفات کولای سي او په مطلق مُضَارَبَت کي بل ډول تصرفات کولای سي .

مطلق مُضَارَبَت مو مخکي وپېژنده چي رب المال و مُضَارِب ته بېله کوم قيد او شرط څخه مال ورکړي يعني نه د کاروبار ځای او نه د کاروبار ډول او وخت ورته وټاکي ، بلکي هر څه د مُضَارِب و رايي ته وسپاري .

په مطلق مُضَارَبَت کي مُضَارِب چي څه ډول لازم و بلل هغه ډول تصرف کولای سي او هر نوع تجارت په هر ځای کي د هر چا سره کولای سي .

د مُضَارَبَت د پاره مالونه رانيولای او خرڅولای سي ځکه د مُضَارَبَت مقصد ګټه ده او ګټه په پېر او پلور لاس ته راځي ، البته د مالونو په رانيولو کي دونه اختيار نلري چي يو شی په غبن فاحش

يعني د هغه تر نرخ ډېر ګران رانيسي بلکي شی به پخپل قيمت يا يې تر قيمت لږ څه پورته يا کښته کوم چي خلک په عام ډول پکښي تير وځي رانيولای سي ، ځکه مُضَارِب وکَيْل دی د وکَيْل رانيول به په متعارف ډول وي يعني د خلکو د پيژندل سوي تګلاري مطابق به وي .

په مطلق مُضَارَبَت کي د ابوحنيفه رحمة الله عليه په آند مُضَارِب مالونه په نقدو ، پور او هم يې په غبن فاحش خرڅولای سي يعني د شي د قيمت څخه يې په ډېر تفاوت ګران يا ارزان هم خرڅولای سي .

د ملګرو په آند د مُضَارِب خرڅلاو هم بايد په متعارف ډول وي .

په مطلق مُضَارَبَت کي مُضَارِب مال بل ته د امانت په ډول د ساتني د پاره ايښولای سي .

په مطلق مُضَارَبَت کي مُضَارِب مال بل ته په ابضاع ورکولای سي ، څو هغه د ده د پاره په وړيا ډول کاروبار په وکړي .

په مطلق مُضَارَبَت کي مُضَارِب اجیر درولای سي او هم د ګدام او کاروبار د پاره ځای په کرایه نیولای سي .

په مطلق مُضَارَبَت کي مُضَارِب د پېر او پلور د پاره وکَيْل درولای سي .

دغه ډول د مشهور روایت له مخي د مُضَارَبَت مال په سفر کي هم د ځان سره وړلای سي .

## اجازه غوښتونکي تصرفات

ځیني کارونه دا ډول دي چي په مطلق مُضَارَبَت کي يې مُضَارِب د ځرګندي اجازې پرته نسي کولای ، که رب المال په صریح ډول اجازه ورکړي هلته يې بیا کولای سي .

لومړی اِستِدَانَة : استدانت پور اخیستلو ته وایي ، مُضَارِب د مُضَارَبَت د پاره د رب المال د اجازې پرته د بل څخه پیسې په پور نسي اخیستلای .

که مُضَارِب پور وکړي هغه پر رب المال نه راځي بلکي پخپله د مُضَارِب پر ذمه يې ضمان

راځي ، خو که رب المال اجازه ورته ورکړې بیا پور کولای د پور د پیسو تاوان هم د رب المال پر ذمه راځي .

مثال : زید بکر ته پنځه لکه افغانۍ په مضاربت ورکړې ، بکر د خالد څخه د همدې مُضَارَبَت د پاره پنځه لکه افغانۍ پور واخیستی ، ټوله لس لکه افغانۍ سوې او مال یې په رانیاوه په هغه کي یې دوه لکه افغانۍ تاوان وکړ ، که بکر پور د زید په اجازه کړی وو د لسو لکو افغانیو ټوله تاوان پر زید راځي ، ځکه هغه د ټوله مال څښتن دی پور هم د هغه پر ذمه دی .

خو که بکر د زید بې اجازې پور کړی وو د پنځو لکو افغانیو تاوان چي یو لک کیږي پر زید راځي د پاته یو لک افغانیو تاوان پر بکر راځي ځکه پنځه لکه افغانۍ چي ده پور کړی دی هغه د ده پر ذمه راځي ګڼه او تاوان یې په ده اړه لري .

دوهم اِقرَاض : اِقرَاض پور ورکولو ته وايي ، مُضَارِب د راس المال څخه د رب المال د اجازې پرته بل ته پيسې په پور نسي ورکولای .

دريم هبه : مُضَارِب د مُضَارَبَت د مال څخه ډېر شی د رب المال بې اجازې په هبه او تحفه کي نسي ورکولای .

څلورم : مُضَارِب د رب المال بې اجازې د مُضَارَبَت د مايې څخه زيات مال نه په نقدو او نه په پور رانيولای سي ، که د رب المال بې اجازې يې داسي وکړه د هغه ضمان پر مُضَارِب راځي.

مثال : زيد بکر ته پنځه لکه افغانۍ په مُضَارَبَت ورکړې ، بکر درې لکه افغانۍ په مال بندي کړې ، دوه لکه نقدي ورته پاته دي ، بکر د زيد بې اجازې د څلورو لکو افغانيو نور مال نيم په نقدو نيم د دوو مياشتو په پور رانياوه ، دغه مال نيمه برخه چي دوه لکه يې قيمت دی په مُضَارَبَت کي شمېرل کيږي ، ځکه د مُضَارَبَت د

پيسو څخه دوه لکه افغانۍ ور پاتي دي او د نيمي برخي ضمان يې پر بکر راځي .

که پدې مال کي يې يو لک افغانۍ تاوان وکړ پنځوس زره يې د مُضَارَبَت په مال يعني د زيد د مايي څخه شمېرل کيږي او پنځوس زره تاوان يې پر بکر راځي او که ګټه يې وکړه هغه هم دا ډول نيمه د بکر او نيمه يې د مُضَارَبَت برخه کيږي .

خو که زيد بکر ته د مايې څخه د زيات مال رانيولو اجازه ورکړې وه بيا يې تاوان ټوله پر زيد راځي او په ګټه کي يې زيد او بکر دواړه د مُضَارَبَت د وېش له مخي ونډه لري .

پنځم : مُضَارِب د رب المال بې اجازې راس المال نه بل چا ته په مُضَارَبَت ورکولای سي او نه د بل چا سره په شراکت کاروبار په کولای سي .

دغه ډول د مُضَارَبَت مايه نه د بل د مال سره ګډولای سي او نه يې د خپل مال سره ګډولای

سي يعني د مُضَارَبَت په مايې د خپلي مايې سره ګډ کاروبار نسي په کولای .

خو که رب المال داسي تصرفاتو اجازه ورکړي يا رب المال ورته ووايي : ته چي څه ډول لازم ګڼې هغسي کار په وکړه بيا دا ټول تصرفات کولای سي .

په لنډ ويلای سو چي په مطلق مُضَارَبَت کي د مُضَارِب تصرفات درې ډوله دي

لومړی : يو يې هغه ډول تصرفات دي چي د عرف او عادت له مخي يې مُضَارِب کولای سي لکه رانيول ، خرڅول ، د رانيولو او خرڅولو د پاره وکَيْل ټاکل ، دا ډول تصرفات که څه هم يې په صراحت اجازه ورکول سوې نه وي بيا يې هم مُضَارِب د تجارانو د عرف او عادت له مخي کولای سي .

دوهم : هغه ډول تصرفات دي چي مُضَارِب يې نسي کولای خو که کاروبار د ده و رايي او نظر ته وسپارل سي هلته يې بيا کولای سي ، لکه د

مُضَارَبَت مال بل ته په مُضَارَبَت ورکول يا د مُضَارَبَت مال د ځان يا د بل د پيسو سره د شَرِكَة العَنَان په ډول پر كار اچول .

دريم : هغه ډول تصرفات دي چي مُضَارِب يې نسي كولاى خو كه په صريح ډول رب المال اجازه ورته وركړي نو بيا يې كولاى سي ، لكه د مُضَارَبَت د مال څخه بل چا ته قرض او هبه وركول .

## مُقَيد مُضَارَبَت

د مُقَيد مُضَارَبَت احكام ټول د مُطلق مُضَارَبَت په شان دي كوم چي وړاندي مو ولوستل او فرق يې تنها په هغه قيد او شرط كي راځي كوم چي د رب المال لخوا ورته ايښودل سوى وي .

كه رب المال د كاروبار د پاره يو ښار او وطن ورته وټاكي نو په بل وطن كي بيا كاروبار نسي په كولاى .

مثال : زيد و بكر ته په مُضَارَبَت پيسې وركړي خو دا شرط پر كښيږدي چي په كندهار كي به كاروبار په كوي نو بكر د كندهار څخه ماسيوا په نورو ښارونو كاروبار نسي په كولاى .

كه بكر په هرات كي مالونه په رانيسي يا يې

خرڅ كړي ضمان يې پر راځي يعني كوم مال چي په هرات كي يې په رانيولى دى هغه د مُضَارَبَت د پاره نه ګرځي بلكي د بكر د خپل ځان د پاره كيږي او ګټه او تاوان هم پر بكر راځي البته د ابوحنيفه او محمد په آند ګټه يې ورته پاكه او حلاله نه ده ، ابويوسف وايي : ګټه يې ورته حلاله ده .

دغه ډول كه رب المال ځانګړى كاروبار مُضَارِب ته وټاكي نو د هغه كار څخه ماسيوا بل كاروبار نسي په كولاى .

دغه رنګه كه رب المال يو كس يا شركت ورته وټاكي چي د هغه څخه مال رانيسه يا يې پر

خرڅوه ، دلته هم د هغه څخه ماسیوا د بل چا سره پېر او پلور نسي کولای .

که د مُضَارَبَت تړون په پیل په مطلق ډول وکړل سي وروسته تر هغه د رب المال لخوا قید او شرط ورته کښېښودل سي که تر اوسه یې مال نه وو رانیولی یا یې مال په رانیولی وو خو د هغه پیسې یې بیرته نقدي کړي وې نو مُضَارَبَت مقید کیږي او د وروستي قید او شرط مراعات به ساتي .

خو که د مُضَارَبَت مایه په مال بنده وه بیا یې شرط نه صحیح کیږي ، مُضَارَبَت د پخوا په شان مطلق ګڼل کیږي تر څو چي په مالو ټوله پیسه نقدیږي .

## د مُضَارِب حقوق

مُضَارِب د مُضَارَبَت په پیسو د کار کولو لکبله د دوو شیانو مستحق ګرځي یو د نفقې مستحق ګرځي او بل د ګټي څخه د ټاکل سوي برخي مستحق ګرځي .

د نفقې څخه مراد د سفر په جريان کي د ورځنيو اړتياوو خرڅ دی .

## د نفقې خرڅ

مُضَارِب په هغه سفر کي چي د مُضَارَبَت د پاره يې کوي د مُضَارَبَت د پيسو څخه خپلي ورځنۍ اړتياوي پوره کولای سي ، لکه خوراک ، څښاک ، جامې ، د خادم اجوره ، د حمام خرڅ ، د شپه تېر بستر ، د جامو پرېوللو خرڅ ، د سپرلۍ خرڅ ځکه دا ټول په ورځني اړتياوو کي راځي .

د درملني خرڅ په نفقه کي نه راځي البته د ابوحنيفه رحمة الله عليه د يو قول له مخي د درملني خرڅ هم په نفقه کي راځي ځکه بېله روغتيا څخه کاروبار کېدلای نسي .

مُضَارِب به سفرخرڅ په معروف ډول کوي او اسراف به نه پکښي کوي ، بلکي د تجارانو چي څومره عادت وي په هغونه کچه خرڅ کولای سي .

که څوک د مُضَارَبَت د پاره سفر وکړي ، خو مالونه را ننیسي بیرته د پیسو سره راستون سي بیا هم سفر خرڅ د مُضَارَبَت د پیسو څخه حق لري .

مُضَارِب د سفر خرڅ حق لري دا که تنها د مُضَارَبَت د پاره سفر وي او که د مُضَارَبَت د مال سره د خپل مال د پاره هم سفر کوي یا د څو تنو د مُضَارَبَت د مالونو د پاره سفر کوي .

که سفر یې تنها د مُضَارَبَت د مالونو د پاره وو خرڅ یې ټول د مُضَارَبَت د مال څخه دی او که د مُضَارَبَت د مال څخه علاوه د ځان د مالونو یا د نورو کسانو د مالونو د پاره یې هم سفر کاوه نو بیا یې خرڅ پر ټولو د مایې په حساب وېشل کیږي .

## د ګټې حق

د مُضَارِب دوهم حق ټاکل سوی مقدار ګټه ده ، په صحیح مُضَارَبَت که ګټه وسوه نو د هغي څخه څومره مقدار چي د مُضَارِب د پاره ټاکل سوی

دی هغوني د مُضَارِب حق کیږي ، خو که ګټه یې ونکړه نو بیا مُضَارِب د هیڅ شي حق نلري .

د مُضَارَبَت ګټه هغه مهال را څرګندیږي چي وېش وکړي ، د مُضَارِب او رب المال تر منځ هغه وېش معتبر دی چي رب المال خپل راس المال قبض کړي .

مثال : زید و بکر ته لس لکه افغانۍ په مُضَارَبَت ورکړې او کال وروسته یې حساب وکړ ، درې لکه افغانۍ یې ګټه کړې وه ، نیمه ګټه یعني یو لک او پنځوس زره افغانۍ یې زید ته ورکړې او یو لک او پنځوس زره افغانۍ بکر واخیستي ، زید خپلي لس لکه افغانۍ قبض نکړې بلکي مُضَارَبَت ته یې ادامه پسي ورکړه ، په دوهم کال کي یې څلور لکه افغانۍ تاوان وکړ ، په دغه تاوان کي اول د تېر کال درې لکه افغانۍ ورکول کیږي پاته یو لک افغانۍ د زید د مایې څخه کمیږي ، د تیر کال وېش یې ځکه ندی معتبر چي

په هغه کي زيد خپله مايه د بکر څخه نده قبض کړې .

که په اول کال بکر زيد ته د هغه لس لکه افغانۍ يو ځلي تسليم کړي وای د دوهم کال د پاره يې نوی تړون کړی وای بيا د تېر کال ګټه د دوهم کال په تاوان کي نه تله بلکي د دوهم کال تاوان ټول پر زيد راتلی .

## رهن

د رهن تعريف : رهن هغه تړون ته وايي چي مال د وثيقې او اعتماد د پاره بل ته پکښي ايښول کيږي .

اصطلاحات :

رهن : رهن هغه شي ته وايي چي بل ته په ګروي کي ايښودل کيږي ، دغه ډول مرهون هم ورته وايي .

رَاهِن : رَاهِن هغه چا ته وايي چي خپل شی بل ته په ګروي ږدي .

مُرتَهِن : مُرتَهِن و هغه چا ته وايي چي د خپل شي په ضمانت كي ګروي ورته ايښودل كيږي .

مثال : زيد پيسو ته اړ سو ، بكر ته يې وويل : دوه لكه افغانۍ د شپږو مياشتود پاره په قرض حسن راكړه ، بكر ورته وويل : ښه دى دوه لكه افغانۍ په پور دركوم خو په ضمانت كي به يو شى راته ايږدې ، زيد موټر په ضمانت كي ورته وركړى دغه تړون ته په عربي رهن او په پښتو كي ګروي ورته وايي .

پدې مثال كي زيد رَاهِن ، بكر مُرْتَهِن ، د زيد موټر رهن يا مرهون بلل كيږي .

مضمون : يو شى چي د چا په لاس كي مضمون وي د هغه مطلب دا دى كه دا شى د ده په لاس كي ورک سو يا له منځه ولاړى نو خاوند ته به يې تاوان وركوي يعني د دې شي چي هر څونه بازاري نرخ وو هغونه پيسې به يې ښښتن ته وركوي .

امانت : يو شی چي د چا په لاس کي امانت وي د هغه مطلب دا دی چي که دا شی يې په لاس کي ضايع يا ورک سي نو تاوان يې نه پر راځي بلکې د دې شي د خاوند خپل مال له منځه ولاړی د بل چا پر ذمه يې تاوان نه راځي .

ليکن که امانتي شی څوک پخپل لاس ضايع کړي يا د نه ساتني او بې باکۍ لکبله ځني ورک سي بيا يې تاوان پر راځي .

عاريت : عاريت هغه شي ته وايي چي د يو څه مدې د پاره بل ته د استفادې او کار اخيستلو د پاره ورکول کيږي .

مُستَعِير : مُستَعِير هغه چا ته وايي چي د بل څخه يو شی د موقت وخت د پاره غواړي څو د کار اخيستلو وروسته يې بيرته ور رد کړي .

مضارب : مضارب هغه چا ته وايي چي د بل سره په اوږه شريک وي يعني پيسه د هغه او کار پر ده وي .

شریک : شریکان هغو ته وایي چي دوه یا څو تنه پیسې سره واچوي او په ګډه کاروبار کوي .

هلاک کېدل : یو شی چي پخپله ویران سي یا له منځه ولاړ سي هغه ته هلاک کېدل وایي .

استهلاک : یو شی چي څوک قصداً ویران کړي یا یې ضایع کړي هغه ته استهلاک وایي .

مُشَاع : د څو تنو تر منځ د فیصدئ له مخي ګډ او مشترک شي ته مُشَاع وایي .

## د رهن تړون

د رهن تړون په ایجاب او قبول مُنْعَقِد کیږي او په قبضولو سره لازمیږي یعني که مُرتَهِن یا د هغه وکَیْل تر تړون وروسته رهن قبض کړي نو تړون لازم سو بیا رَاهِن د رجوع او فسخ کولو حق نه لري .

رَاهِن چي څه مهال د مُرتَهِن ټوله حق ادا کړي هلته بیا رهن د مُرتَهِن څخه اخیستلای سي .

د رهن قبض او تسليمي هغه وخت صحيح بلل کيږي چي مَرهُون په بل شي اشغال او اړ نه وي او نه د بل شي سره نښتی وي او نه مُشَاع وي يعني د بل سره ګډ شراکتي شی څوک په رهن کي نسي ورکولای .

رهن د امانتي شي په ضمانت کي نه ايښودل کيږي بلکي د مضمون پور په ضمانت کي ايښودل کيږي .

مثلاً : که څوک بل چا ته يو شی امانت ږدي نو د دغه امانتي شي په ضمانت کي رهن نسي اخيستلای ، ځکه رهن د مضمون شي په ضمانت کي د دې کبله اخيستل کيږي چي که شی ضايع کېدی نو مُرتَهِن به خپل حق د رهن څخه لاس ته راوړي او امانتي شيان چي د چا په لاس کي وي هغه يې د تاوان ذمه واره نه دی .

شراکتي مالونه ، د مضاربت پيسې او عاريتي شيان هم ټوله امانتي مالونه بلل کيږي که هلاک سي نو مالک يې د شريک ، مضارب او مستعير

ځخه د تاوان اخیستلو حق نه لري ، لیکن که شریک ، مضارب او مستعیر د شراکت او مضاربت مالونه او پیسې یا د عاریت شیان استهلاک کړي هلته بیا مضمون ګرځي خاوندانو ته به یې تاوان ورکوي .

دا چې د مضاربت ، عاریت او شراکت مالونه امانتي مالونه دي نو له همدې جهته څوک د خپل شریک ځخه د شراکتي مال په ضمانت کي رهن نسي اخیستلای .

همدا رنګه که څوک بل ته په مضاربت پیسې ورکوي یا یو شی په عاریت ورکوي د مضاربت د پیسو او د عاریت په ضمانت کي هم رهن نسي ځیني اخیستلای .

## د رهن حکمونه

رهن ځان ته بېل بېل حکمونه لري ځیني یې دلته یو په بل پسې درته بیانوو :

## د رهن ضمان

د رهن یو حکم د رهن ضمان دی ، رهن د پور په ضمانت کي ایښودل کیږي .

په پور او د رهن په قیمت کي چي هر مبلغ لږ وو نو رهن په هغه اندازه مضمون ګرځي .

مثال : زید بکر ته یو لک افغانۍ قرض ورکړې او په ضمانت کي يې د بکر موټر په ګروي کي ځني واخیستي ، د زید څخه همدا د رهن موټر غلو غلا کړی .

دلته د موټر د بازار نرخ ته کتل کیږي ، که د موټر د بازار قیمت دوه لکه افغانۍ وو یعني د پور سره برابر وو د موټر ټوله تاوان پر زید راځي نو پر بکر چي يې دوه لکه افغانۍ باندي دي هغه يې ټولي د موټر په تاوان کي ولاړې .

که د موټر د بازار نرخ یو لک افغانۍ وو دلته هم ټوله تاوان پر زید راځي پر بکر يې یو لک افغانۍ پور پاتیږي .

که د موټر قیمت درې لکه افغانۍ وو بیا د موټر دوې دریمي چي دوه لکه کیږي مضمون او یوه دریمه یې چي یو لک کیږي د امانت حکم لري ځکه پور د رهن تر قیمت لږ دی نو د پور په اندازه رهن مضمون ګرځي .

د زید څخه که موټر ضایع سو د دوو لکو افغانیو یې تاوان پر زید راځي د هغه پور په ادا کیږي او د یو لک افغانیو تاوان یې خپله پر بکر راځي ځکه د رهن بازاري نرخ که تر قرض زیات وو هغه اضافه مبلغ یې د امانت حکم لري او بکر یې د زید څخه تاوان نسي غوښتلای .

## رهن امانت غوندي دی

د رهن دوهم حکم دا دی چي رهن امانت غوندي دی ، مُرْتَهِن د رهن څخه د هیڅ ډول استفادې او کار اخیستلو حق نه لري .

څوک چي د یو شي څخه ناوړه ګټه اخلي یا ناحقه تصرف پکښي کوي هغه ته تَعدَي وایي .

ځوک چي په يو شي کي تعدي وکړي د هغه شي ضمان پر راځي نو ځکه که مُرْتَهِن د رهن څخه کار اخيستی يا يې بل ته په عاريت ورکړي د رهن د ټوله قيمت ضمان پر راځي ، ليکن که مُرْتَهِن رهن رَاهِن ته په عاريت ورکړي هلته يې پر مُرْتَهِن ضمان نه راځي ځکه رَاهِن د شي څښتن دی که ځني ورک يا ضايع سي خپل شی يې له منځه ولاړ .

مُرْتَهِن هر وخت کولای سي چي رهن بيرته د رَاهِن څخه واخلي ، څه مهال چي رهن بيرته د مُرْتَهِن لاس ته ورسيږي نو بيرته يې ضمان پر مُرْتَهِن را ځي .

## د رهن ساتنه

د رهن دريم حکم د رهن حفاظت او ساتنه ده ، د رهن د ساتني مسئوليت پر مر تهن دی او د امانتي شي په شان حفاظت او ساتنه به يې کوي ، د رهن د ساتني خرخ په مُرْتَهِن پوري اړه لري .

مُرْتَهِن رهن پخپله هم ساتلاى سي او د خپلي ښځي ، اولاد او خصوصي خادم په لاس يې هم ساتلاى سي .

مُرْتَهِن حق نه لري چي د پورتنيو کسانو څخه پرته په بل چا رهن وساتي يا يې بل ته د امانت په ډول کښيږدي .

که مُرْتَهِن د يادو سوو کسانو څخه پرته په بل چا د رهن ساتنه کوي يا يې بل چا ته د امانت په ول وسپاري دايې په ساتنه کي تعدي ده او په تعدي د رهن د ټوله قيمت تاوان پر مُرْتَهِن باندي راځي.

## د رهن پالنه

د رهن څلورم حکم د رهن پالنه او خوراکه ده ، د رهن د پالني او خوراکې خرڅ په رَاهِن پوري اړه لري .

مثلاً : که رهن باغ وو د باغ د اوبولو ، پيوند ، پوجۍ ، د ميوو شکولو ، انبارو او داسي نور د باغ پالني مصرفونه په رَاهِن اړه لري .

دغه ډول که مُرْتَهِن ته حيوان په ګروي کي ورکول سي نو د شپانه او واښو خرڅ يې په رَاهِن پوري اړه لري .

د حيوانانو څر او پيونه د پالني او جسماني ودي لکبله کيږي ، نو ځکه د شپانه تنخوا هم په رَاهِن پوري اړه لري .

## د رهن پيدا وار

د رهن پنځم حکم د رهن نماء يا حاصلات دي ، د رهن نماء او حاصل په رَاهِن اړه لري او د هغه ملکيت بلل کيږي .

که رهن باغ وو د باغ ميوه د هغه نماء او حاصل دی او ټول د رَاهِن حق او ملکيت دي ، که رهن پسونه وه د پسو وړی ، شيدې او وريان ټول د رَاهِن دي .

مُرْتَهِن د رهن په نماء او حاصلاتو کي هيڅ حق نه لري ، البته د رهن نماء او حاصل د رهن سره يو ځای په ګروي کي پاتيږي .

رَاهِن چي هر وخت د مُرْتَهِن ټوله پور ادا کړي هلته بيا رهن او د هغه ټول حاصلات رَاهِن ته سپارل کيږي .

که د رهن نماء او حاصل پخپله له منځه ولاړ او ضايع سي د هغه تاوان پر مُرْتَهِن نه راځي ، خو که د مُرْتَهِن د تيري او نيمګړتيا لکبله ضايع او له منځه ولاړ سي نو بيا يې د رهن په شان ټوله تاوان پر مُرْتَهِن راځي .

## دريم ګړی

د رهن شپږم حکم دريم ګړي ته د رهن ايښودل دي ، د رَاهِن او مُرْتَهِن په موافقه او خوښي رهن دريم عادل نفر ته هم ايښودل کېدلای سي .

رهن چي د رَاهِن او مُرْتَهِن په موافقه دريم نفر ته کښېښول سي نو د هغه څخه يې د اخيستلو حق نه رَاهِن او نه مُرْتَهِن لري .

رهن به دریم نفر ته تر هغه وخته پروت وي چي رَاهِن د مُرْتَهِن ټوله پور ادا کوي او د پور د ادا کولو وروسته رَاهِن خپل ګروي اخیستلای سي .

رهن چي د رَاهِن او مُرْتَهِن په خوښي دریم نفر ته کښېښول سي د هغه ضمان هم پر مُرْتَهِن راځي نو که د دریم نفر په لاس کي هلاک او ضایع سي تاوان يي پر مُرْتَهِن راځي ، لیکن که د رهن قیمت تر پور زیات وو نو د اضافي قیمت تاوان يې پر مُرْتَهِن نه راځي بلکي خپله پر رَاهِن راځي .

که رهن د دریم نفر د تیري لکبله ضایع سو نو بیا يې ټوله تاوان پر همدغه دریم نفر راځي .

## د رهن تاوان

د رهن اوم حکم د رهن تاوان اخیستل دي ، که د رَاهِن او مُرْتَهِن څخه پرته بل نفر پر رهن تېری وکړي مثلا : غلا يې کړي یا د ماتیدو شی وي مات يې کړي نو د دې نفر څخه د تاوان

اخيستلو د پاره دعوه او ځغاستي تاختي د مُرْتَهِن وظيفه ده .

د رهن تاوان چي واخيستل سي هغه بيا د رهن په عوض کي ايښودل کيږي او څه مهال چي د مُرْتَهِن پور ادا سي نو بيا رَاهِن ته حواله کيږي .

## د رهن خرڅول

د رهن اتم حکم د رهن خرڅول دي ، رَاهِن که د مُرْتَهِن بې اجازې رهن خرڅ کړي سودا يې د مُرْتَهِن پر اجازه موقوفه کيږي ، که مُرْتَهِن اجازه ورکړه بيا يې سودا نافذيږي .

دغه ډول که رَاهِن د مُرْتَهِن ټوله پور ادا کړي هلته يې هم سودا نافذ کيږي .

## د رهن د پاره وکيل ټاکل

د رهن نهم حکم د رهن د پاره وکَيْل ټاکل دي ، که رَاهِن د رهن د خرڅولو د پاره مُرْتَهِن يا بل نفر وکَيْل وټاکی او هغه ته دنده ورکړي چي څه مهال چي د پور د ادا کولو نېټه راورسيږي رهن

خرڅ کړي ، د مُرْتَهِن پور په ادا کړي دا وکالت جایز دی ، البته رَاهِن هر وخت کولای سي چي دا وکَیْل د وکالت څخه معزول او ګوښه کړي ، لیکن که د رهن په تړون کي د هغه د وکالت شرط ټاکل سوی وي یعني مُرْتَهِن پدې شرط معامله ورسره کړې وي چي د مدې په رسېدلو که د ده پور ور نه کړل سي نو دی یا یو بل ټاکلی نفر به رهن خرڅوي او د هغه په قیمت به د مُرْتَهِن پور ادا کوي ، دلته بیا رَاهِن دا وکَیْل د وکالت څخه نسي ګوښه کولای .

دغه ډول د رَاهِن د مړیني لکبله هم همدا وکَیْل د وکالت څخه نه ګوښه کیږي بلکي د مخکني وکالت پر اساس رهن خرڅولای سي څو د مُرْتَهِن پور په ادا کړي .

## د رَاهِن مړینه

د رهن لسم حکم د رَاهِن مړ کېدل دي ، که رَاهِن مړ سي د هغه وصي به رهن خرڅوي د هغه په قیمت به د مُرْتَهِن پور ادا کوي .

که رَاهِن وصي نه درلودی بيا به قاضي د هغه د پاره وصي ټاکي ، هغه ټاکل سوی وصي به رهن خرڅوي د مُرْتَهِن پور به په ادا کوي .

## بيع الوفاء

څوک چي پيسو ته د اړتيا او احتياج لکبله خپل جايداد لکه ، باغ ، سرای يا دوکان پر بل خرڅ کړي او تر ټړون دمخه يا وروسته مشتري وعده ورکړي چي هر وخت زما پيسې بيرته راکړل سي زه جايداد در رد کوم دغي سودا ته بيع الوفاء وايي .

بيع الوفاء په يوه لحاظ د بيع حکم لري ځکه چي د جايداد حاصل مشتري اخلي او په بل اعتبار د فاسدی بيع حکم لري ، ځکه د بايع او مشتري څخه يې هر يو ټړون فسخ کولای سي او په بل اعتبار د رهن او ګروی حکم لري ، ځکه چي مشتري يې پر بل نفر نه سي خرڅولای ، هر وخت چي د جايداد څښتن مشتري ته خپلي پيسې ورکړي هغه به يې جايداد ور تسليموي .

# د علماوو اختلاف

په بيع الوفاء کي د علماوو اختلاف دی ځيني يې ناجايزه بولي ، ځکه چي دا نه يو مخ د بيع ټړون دی او نه يو مخ د رهن ټړون دی .

ځيني يې رهن او ګروي بولي او د رهن ټول احکام ورته ثابتوي يعني مشتري به يې د رهن په شان ساتنه کوي ، د هغه څخه به هيڅ ډول استفاده او کار نه اخلي او نه به يې حاصل خوري بلکي حاصل او نماء يې په اصلي مالک پوري اړه لري ، که مشتري يې حاصل او مېوه وخوري نو د هغه ضمان او تاوان به اصلي مالک ته ورکوي .

خو که مالک يې د خوراک او استفادې اجازه ورکړي بيا يې خوراک او استفاده ورته مُبَاح کيږي .

ځيني علماء بيا بيع الوفاء جايز بولي ځيني احکام د بيع او ځيني احکام د رهن ورته ثابتوي ، ځکه

چي بيع الوفاء د رهن او بيع دواړو سره مشابهت او ورته والی لري .

## بيع الوفاء څه ته وايي ؟

هغه علماء کرام چي بيع الوفاء جايز بولي هغوی بيع الوفاء هغه تړون ته وايي چي بايع او مشتري د بيع په الفاظو سودا وکړي ، خو د سودا تر مخه يا تر سودا وروسته يو د بل سره وعده وکړي ، چي که هر وخت بايع يعني د جايداد اصلي خاوند مشتري ته خپلي پيسې ورکړي هغه به يې جايداد ور تسليم کوي .

په داسي ډول که سودا وکړي سودا يې صحيح ده او په وعده يې وفاء کول لازميږي يعني هر وخت چي بايع بيرته پيسې ورکړي مشتري به يې د همدغي وعدې پر بنسټ جايداد ور تسليموي .

## د بيع الوفاء نه صحيح کېدل

بيع الوفاء د بيرته ورکولو په شرط يا د بيع الوفاء په نامه يا د رهن په نامه نه صحيح کيږي بلکي د

عادي سودا په نامه که انجام سي هلته يې سودا صحيح بلل کيږي .

که بيع الوفاء پدې شرط وسي چي مشتري به مَبِيعَه بيرته بايع ته ردوي نو سودا يې نه صحيح کيږي مثلا : بايع د تړون په وخت کي ووايي : زه دا مځکه په دونه پيسو پدې شرط درباندي خرڅوم چي هر وخت زه ستا پيسې درکړم ته به بيرته زما مځکه را کوې نو دا سودا يې نه صحيح کيږي .

همدا دول که بايع او مشتري سودا د بيع الوفاء په شرط وکړي او دواړه پدې پوهيږي چي بيع الوفاء غير لازمي سودا ده يعني داسي سودا ده چي تر تړون وروسته بيرته فسخ کېدلای سي دغه سودا هم نه صحيح کيږي .

دغه ډول که سودا د ګروی او رهن په نامه وکړل سي هغه هم بيع نه بلل کيږي .

لنډه دا چي هغه سودا چي د ګروی په نامه وکړل

سي يا د بيرته ورکولو په شرط وکړل سي نو هغه سودا ناجايزه ده او هغه ته بيع الوفاء نه وايي ، بلکي بيع الوفاء چي ځيني علماء جايز بولي هغه هغي سودا ته وايي چي يو پر بل خپل شی بېله قيد او شرط څخه د عادي سوداوو پر ډول خرڅ کړي خو د سودا تر تړون د مخه يا وروسته د بيرته ورکولو وعده وکړي .

په دا ډول که سودا وسي هغه ته بيع الوفاء وايي ځيني احکام د رهن او ځيني احکام د بيع ورته ثابتيږي البته د هغو علماؤ په آند چي جايز يې ګڼي .

## د بيع الوفاء احکام

لومړی : په بيع الوفاء کي بايع هر وخت کولای سي چي مشتري ته پيسې بيرته ورکړي او مَبِيعَه ځيني تسليم کړي .

دوهم : دغه ډول مشتري هم په هر وخت کي حق لري چي مَبِيعَه ور رد کړي او خپلي پيسې ځيني واخلي .

دريم : مشتري د بيع الوفاء مَبِيعَه پر بل چا نسي خرڅولای .

څلورم : دغه ډول بايع هم د بيع الوفاء مَبِيعَه د مشتري بې اجازې پر بل چا نسي خرڅولای .

پنځم : د بيع الوفاء د مَبِيعِې څخه استفاده كول او هم يې حاصل خوړل مشتري ته جايز دي .

شپږم : كه مشتري او بايع د بيع الوفاء د مَبِيعِې د حاصل پر نيمى كولو متفق سي نو دا هم صحيح كيږي او په وعده يې وفاء لازميږي او د مبيعي نيمى حاصل به مشتري اخلي او نيمى حاصل به يې بايع ته وركوي .

دغه ډول د حاصل د نيمايي څخه كمه يا زياته برخه و مشتري يا بايع ته ټاكل هم جواز لري .

اووم : د مشتري په لاس كي د بيع الوفاء د مَبِيعِې هلاكېدل يا يې استهلاكول د رهن حكم لري .

که د مَبِیعِې قیمت تر پور کم وو د مبیعي د قیمت په اندازه د مشتري پور ادا کیږي او که د مَبِیعِې قیمت تر پور زیات وو نو د مشتري پور ادا کیږي ، د ضافي قیمت تاوان یې د تعدي او استهلاک په صورت کي پر مشتري راځي او د هلاک په صورت کي د بایع خپل مال له منځه ځي او پر مشتري یې تاوان نه راځي .

اتم : د بیع الوفاء د بایع او مشتري څخه چي هر یو مړ سي د فسخ کولو حق یې د هغه وارثانو ته نقلیږي .

## شُفْعَه

د شفعي تعرف: شُفْعَه هغه حق ته وایي چي د مشتري څخه جایداد په پربوتي قیمت لاس ته په راځي .

اصطلاحات :

شفیع : شفیع هغه چاته وایي چي د شُفْعَې حق ورکول کیږي .

مَشْفُوع بِهِ : مَشْفُوع بِهِ هغه جایداد ته وایي چي د

شُفْعَې حق په ثابتيږي .

مَشْفُوع فِيهِ : مَشْفُوع فِيهِ هغه جايداد ته وايي چي په شُفْعَه راګرځول کيږي .

مَشْفُوع عَلَيْهِ : مَشْفُوع عَلَيْهِ هغه مشتري ته وايي چي جايداد په شُفْعَه ځني راګرځول کيږي .

## د شُفْعَې حق

لاندي درې کسان يو په بل پسې د شفعي حق لري :

اول : په مَبِيعَه کي شريک .

دوهم : د مَبِيعِې په حقونو کي شريک .

دريم : د جايداد سره نښتی ګاونډی .

## اول مستحق

که دوه تنه په ګډه يوه محځکه رانيسي يا په ميراث ورته ورسيږي نو تر څو چي دوی خپل په منځ کي محځکه تقسيم کړې نه وي دوی دوه يو د بل شريکان بلل کيږي يعني د دوی تر منځ املاکي شراکت دی .

که په دغو شريکانو کي يو خپل سهم خرڅ کړي نو هغه بل شريک يې تر ګاونډيانو د مخه د

شفعي حق لري ځکه چي په مَبِيعَه کي شراکت ور سره لري .

## دوهم مستحق

که په مَبِيعَه کي يې املاکي شريک نه درلودی يا شريک يې لاره خو هغه د شفعي تر حق تېر سو بيا حق د هغه چا دی چي په کوڅه او لار کي ورسره شريک وي يا د مځکي اوبه يې ورسره شريکي او په نوبت وي .

لاري دوه ډوله دي :

عمومي لاري .

خصوصي لاري .

عمومي لاري هغو لارو ته وايي چي ايله وي يعني په پای کي بندي نه وي او عام او خاص ټول خلک تګ او رتګ پکښي کوي ، ايله لار که د کوڅې په شکل وي او که د لويي جادې په شکل وي بيا هم عمومي لاره بلل کيږي او په عمومي لارو د شفعي حق نه ثابتيږي .

خصوصي لاري هغو لارو ته وايي چي په پای کي بندي وي او د څو معدودو کورونو او مځکو د تګ او راتګ کار ځني اخيستل کيږي او په

خصوصي لارو د شفعي حق ثابتيږي .

که د يوې کوڅې په پای کې بله کوڅه وي ، د پای د کوڅې مالکان د سر په کوڅه کې د شفعي حق لري خو د سر د کوڅې خلک بيا د پای په کوڅه کې د شفعي حق نه لري .

ويالې هم پر دوه ډوله دي :

عمومي يا غټې ويالې .
خصوصي يا کوچنۍ ويالې

عمومي ويالې و هغو ويالو ته وايي چې کښتۍ پکښې چليږي يا بې شمېره مځکې په اوبيږي .

خصوصي ويالې و هغو ويالو ته وايي چې د ګوتو په شمېر مځکې او باغونه په خړوبيږي .

ابويوسف رحمه الله عليه وايي : هغه وياله چې دوه يا درې باغونه په خړوبيږي هغې ته خصوصي وياله وايي او که تر درو زيات باغونه يا مځکې په اوبيدلې هغي ته لويه يا عمومي وياله وايي .

په عمومي وياله د شفعي حق نه ثابتيږي .

په خصوصي وياله د شفعي حق ثابتيږي .

که د يوې خاصي ويالې څخه مثلاً دوې نوري

ویالې ببلي سوي وي د پای ویاله والا د سر په ویاله کي د شفعي حق لري خو د سر ویاله والا د پای په ویالو کي د شفعي حق نلري .

د جایداد په خصوصي لار یا اوبو کي چي څوک شریک وي هغه د مبیعي په حقونو کي شریک بلل کیږي او په دوهمه درجه کي د شفعي حق لري .

## دریم مستحق

که خرڅ سوي جایداد نه املاکي شریک درلودی او نه یې د جایداد په حقونو کي شریک درلودی یا یې املاکي شریک او په حقونو کي شریکان درلودل خو هغو د شفعي غوښتنه نه کول بیا د شفعي حق د همسایه دی .

د همسایه څخه مراد هغه ګاونډی دی چي د هغه جایداد د مَبِیعِ یعني مَشْفُوع فِیهِ سره نښتی وي .

## د شفعي وېش

که د یوې درجي مستحقین څو تنه وه او هر یوه یې د شفعي دعوه کول نو مَبِیعَه د سرو پر سر باندي تقسیمیږي .

د شفعي وېش د مستحقینو تر منځ د جایداد د

کچي په حساب نه کيږي بلکې د مَشْفُوع بِهِ و مالکانو ته کتل کيږي ، د مَشْفُوع بِهِ جايدادونو مالکان چې هر څو تنه وي پر هغوني برخو د شفعي جايداد پر وېشل کيږي .

مثال : يو باغ د زيد ، بکر او خالد تر منځ مشترک دی ، زيد د باغ د نيمايي برخې يعني (۵۰%) مالک دی بکر او خالد يې د څلورمې څلورمې برخې مالکان دي ، که خالد خپل سهم خرڅ کړي او زيد او بکر يې د شفعې دعوه وکړي ، د خالد خرڅ سوی سهم نيم زيد او نيم يې بکر ته په شُفْعَه کې ورکول کيږي ، که څه هم د زيد جايداد تر بکر دوه برابره دی .

همدا ډول که يو کور خرڅ سي او د اولې او دوهمې درجې د شفعې مستحقين يې نه درلودل بلکې درې ګاونډيان يې درودلل او د يوه ګاونډي کور شل متره ورسره متصل وو ، د بل دا لس متره ورسره متصل وو او د دريم دا دوه متره ور سره متصل وو او درو واړو يې د شفعې دعوه کول نو هر ګاونډي ته د مَشْفُوع فِيهِ دريمه دريمه حصه په شُفْعَه کې ورکول کيږي .

که څه هم د يوه ګاونډي کور ډېر ورسره نښتی

دی او د بل دا لړ ورسره نښتی دی ، ځکه چي د شفعي مستحقين که څو تنه وي او ټوله د يوې درجي وي نو تقسيم يې د سرو پر سر کيږي ، البته که د شفعي غوښتونکی يو د اولي درجي يعني په مَبِيعَه کي شريک وي او بل يې په لاره کي شريک وي او دريم يې بيا په جايداد پوري نښتی همسايه وي نو دلته بيا يوازي ټوله شُفْعَه اول نفر يعني املاکي شريک ته ورکول کيږي ، ځکه که د لوړي درجي مستحق د شفعي غوښتنه ولري نو د کښتي درجي مستحق ته هيڅ ونډه نه ورکول کيږي .

## د شفعي طلب

شريک او همسايه لره د شفعي حق د غلط ګاونډي د مخنيوي لکبله ورکول کيږي نو ځکه هر وخت چي جايداد خرڅ سي په جايداد کي شريک يا همسايه لره يې د شفعي حق ثابتيږي .

د شفعي حق د شراکت او همسايتوب لکبله په بيع ثابتيږي خو د دې حق د استقرار او پاته کېدلو د پاره دوه تلاښنه ضروري دي ، که شفيع دا دوه تلاښنه ونکړي نو د شفعي حق يې ساقط کيږي ، دا دوه تلاښنه يو د طلب مواثبه او د بل طلب

اِشهَاد په نامه یادیږي .

## طلب مُوَاثَبَه

هر وخت چي شفیع ته د بیع خبر ورسیږي په هماغه مجلس کي به د شفعي غوښتنه کوي یعني په خوله به وایي : زه دغه خرڅ سوی جایداد په شُفْعَه غواړم او و دغي غوښتني ته طلب مواثبه وایي .

شفیع که د سودا د خبرېدلو وروسته په هماغه مجلس کي د شفعي غوښتنه و نکړي د شفعي حق یې ساقط کیږي .

د امام محمد رحمة الله علیه یو قول دا هم دی چي که شفیع ته لیک ورسیږي او د خط په سر یا په منځ کي د سودا خبر ورته لیکل سوی وي او دی خط تر پایه ولولي او وروسته یې د شفعي غوښتنه وکړي نو په دونه لږ ځنډ یې لا هم د شفعي حق ساقطیږي ، ځکه چي د شفعي حق ډېر کمزوری حق دی او په طلب کي یې معمولي ځنډ د نه غوښتني دلیل او د سقوط سبب ګرځي .

د احتیاط د پاره په کار ده چي پر طلب مواثبه شاهدان ودرول سي ، ځکه که مَشْفُوع عَلَيْهِ یې د

طلب مواثبه څخه انکار وکړي په شاهدانو به يې ورته ثابت کړي .

که شفيع په سودا خبر سي او د هغه وروسته ووايي چي چا رانيولی دی ؟ يا د قيمت په هکله پوښتنه وکړي چي په څو يې رانيولی دی ؟ نو په دغو پوښتنو يې د شفعي حق نه ساقطيږي ، ځکه چي د يو کس همسايتوب څوک قبلوي د بل دا بيا نه قبلوي .

دغه ډول په يوه قيمت څوک يو شی رانيسي او په بل قيمت يې بيا نه رانيسي نو ځکه د خبرېدلو وروسته يې دا ډول پوښتني داعراض او نه غوښتني دليل نه ګرځي .

## طلب اِشهَاد

د طلب مواثبه وروسته به شفيع بايع ته ځي او د دوو شاهدانو په مخ کي به هغه ته وايي چي دغه جايداد چي تا خرڅ کړی دی ما يې د شفعي غوښتنه کړې ده او په شُفْعَه يې غواړم .

داسي هم کولای سي چي د بايع پر ځای مشتري ته ورسي او د دوو شاهدانو په مخ کي ورته ووايي چي دغه جايداد چي تا رانيولی دی ما يې

د شفعي طلب کړی دی او په شُفْعَه يې غوښتنکی یم .

داسي هم کولای سي چي د بایع او مشتري پر ځای خپله جایداد ته ورسي او د دوو تنو شاهدانوپه مخ کي ووايي چي دا د پلانکي جایداد دی او پر پلانکي يې خرڅ کړی دی ، ما يې لا مخته د شفعي غوښتنه کړې ده او اوس يې هم په شُفْعَه غوښتنکی یم .

که بایع جایداد مشتري ته تسلیم کړی وو هلته به شفيع بایع ته د شفعي د غوښتني د اثبات د پاره نه ورځي بلکي مشتري یا جایداد ته به ورځي او د دوو تنو شاهدانو په مخ کي به د شفعي غوښتنه کوي ، ودغي غوښتني ته طلب اِشهَاد وايي .

که شفيع د طلب مواثبه وروسته بېله ځنده ژخه طلب اِشهَاد ونه کړي د شفعي حق يې ساقطيږي البته که د عذر لکبله يې په طلب کي ځنډ راسي بیا يې په ځنډ د شفعي حق نه ساقطيږي ، خو د عذر تر له منځه تلو وروسته به يې سمدستي طلب اِشهَاد کوي .

طلب اِشهَاد ته طلب تقریر هم وايي ، ځکه چي په همدې طلب سره يې د شفعي حق ثابت پاتيږي ، خو که د طلب مواثبه وروسته طلب اِشهَاد ونه

کړي نو د شفعي حق يې له منځه ځي .

## طلب خصومت

د طلب اِشهَاد وروسته به شفيع دعوه قاضي ته وړاندي کوي څو هغه جايداد په شُفْعَه ورته را وګرځوي ، و دغه طلب ته طلب خصومت يا د لاسته راوړلو طلب وايي ، خو دا په هغه وخت کي کيږي که مشتري په خپل خوښه جايداد نه ورپرېښاوه .

د ابو حنيفه رحمة الله عليه په وينا د طلب خصومت په ځنډولو د شفعي حق نه ساقط کيږي .

امام محمد رحمة الله عليه وايي : که شفيع طلب خصومت د طلب اِشهَاد څخه يوه مياشت بېله عذره و ځنډاوه نو د شفعي حق يې ساقطيږي .

د ابو يوسف رحمة الله عليه يو قول د امام صاحب په شان او بل يې دا دی : که شفيع په خپل اختيار د قضا د مجلس د دايربدلو څخه دعوه وځنډول نو د شفعي حق يې ساقط کيږي .

## د قضا مجلس

څه مهال چي د شفعي دعوه قاضي ته وړاندي سي هغه به اول د مُدَّعِي څخه يعني د شفيع څخه

د مَشْفُوع فِيهِ حدود پوښتي چي په کوم ځاى کي موقعيت لري او ګردچاپېر يې کوم کوم ځايونه واقع دي ، دغه ډول د شفعي لامل به هم ځني پوښتي تر څو جوته سي چي د کومي درجې شفيع دى ايا په مَشْفُوع فِيهِ کي شريک دى او که يې ګاونډى دى .

د شفيع وروسته به مُدَّعا عَلَيْه يعني مشتري پوښتي چي ايا شفيع په خپله وينا کي رښتنى دى او که نه دى .

که مشتري د شفيع د شراکت يا د ګاونډيتوب څخه انکار وکړي نو بيا به قاضي شفيع ته وايي چي پر هغه جايداد دي شاهدان وړاندي کړه د کوم په اساس چي ته ځان د شفعي مستحق ګڼې .

که شفيع شاهدان نه درلودل بيا به مشتري ته پدې ډول قسم ورکوي : والله زه پدې علم نه لرم چي شفيع د هغه جايداد مالک دى کوم چي لکبله يې د شفعي دعوه کوي .

که شفيع د مَشْفُوع بِهِ [۲۲] پر ملکيت شاهدان تېر کړل يا مشتري د قسم اخيستلو څخه ډډه وکړل بيا

[۲۲] مَشْفُوع بِهِ هغه جايداد ته وايي چي د هغه لکبله شفيع د شفعي حق پيدا کوي .

قاضي د مشتري څخه پوښتنه کوي چي ايا تاسو مَشْفُوع فِيهِ رانيولى دى او که مو نه دى رانيولى؟

که مشتري سودا ومنل خو ښه ، ور نه نو د شفيع څخه به پر سودا شاهدان طلبوي .

که شفيع شاهدان نه درلودل نو مشتري ته به داسي قسم ورکوي : والله ما دا جايداد ندى را نيولى .

که پر سودا شاهدان تېر سول يا مشتري د قسم اخيستلو څخه منع وکړل نو قاضي به د شفعي فيصله کوي او شفيع به د قضا وروسته سمدستي پيسې حاضروي ، که مشتري سودا په پور کړې وه بيا به هم شفيع پيسې نقدي ورکوي .

مشتري حق لري چي د پيسو لاسته راوړلو تر وخته مَبِيعَه د شفيع څخه راوګرځوي .

## په نرخ کي اختلاف

که د شفيع او مشتري تر منځ د مَشْفُوع فِيهِ په ثمن[۲۳] کي اختلاف راسي ، که شفيع شاهدان تېر کړل د شفيع وينا په نرخ کي منل کيږي او که

[۲۳] ثمن د شي هغه قيمت ته وايي چي د بايع او مشتري تر منځ په سودا کي ټاکل سوى وي او د شي قيمت د هغه شي د بازار و عام نرخ ته وايي .

شفیع شاهدان نه درلودل بیا د مشتري قول د قسم وروسته معتبر بلل کیږي .

که مشتري جګ قیمت وایه او بایع تر هغه ټیټ قیمت وایه نو که چیري بایع پیسې اخیستي وې شفیع به د مشتري د وینا پیسې ورکوي او که بایع پیسې نه وې اخیستي بیا بایع ته د بایع د وینا مطابق پیسې ورکول کیږي .

## مالچه او تخفیف

که جایداد په مالچه یعني په بل جایداد یا په قِیَمِيّ شیانو خرڅ سي نو شفیع به مشتري ته د مشتري د جایداد قیمت ورکوي او که په نقدو پیسو یا په مثلي شیانو خرڅ سي بیا به هغونه پیسې یا مثلي شیان ورکوي په څومره چي یې رانیولی دی .

که بایع د سودا وروسته مشتري ته په ثمن کي تخفیف ورکړي نو هغه تخفیف شفیع ته هم ورکول کیږي او که مشتري بایع ته تر ټاکل سوي نرخ زیاتي پیسې ورکړي هغه بیا پر شفیع باندي نه لازمیږي .

## خيار

شفيع هم د مشتري په شان خيار عيب او خيار رويت لري ، که شفيع مَشْفُوع فِيهِ ليدلی نه وو په خيار رويت يې ردولای سي او دغه رنګه که مَشْفُوع فِيهِ عيب درلودی په خيار عيب يې هم ردولای سي .

## د شفعي حق خرڅول

که شفيع د پيسو په بدل کي د شفعي تر حق تېر سي نو هم يې د شفعي حق له منځه ځي او هم به د مشتري پيسې بيرته ورکوي ، ځکه چي د شفعي حق نه خرڅيږي .

## د شفعي حق له منځه تلل

که شفيع د شفعي تر فيصلې دمخه مړ سي نو وارثانو ته يې د شفعي حق نه پاتيږي .

همدا ډول که شفيع د شفعي تر فيصلې دمخه مَشْفُوع بِهِ يعني هغه جايداد خرڅ کړي کوم چي په هغه د شفعي مستحق ګرځي نو د شفعي حق يې له منځه ځي .

## تر شفعي تېرېدل

که شفیع خبر سو چي مَشْفُوع فِيهِ په دونه خرڅ سوی دی یا پلانکي رانیولی دی او د شفعي تر حق تېر سو خو وروسته خبر سو چي هغه بل چا رانیولی دی یا تر هغه په لږو پیسو خرڅ سوی دی بیرته د شفعي مستحق ګرځي .

که شفیع خبر سي چي پلانکي رانیولی دی او د شفعي تر حق تېر سي وروسته خبر سي چي د هغه سره بل څوک هم شریک دی نو د شریک برخه يي په شُفْعَه کي راګرځولای سي .

هغه جایداد چي ښځي ته په ولور کي وټاکل سي یا د قصاص په جوړه کي ورکړل سي یا مفت په هدیه کي چا ته ورکړل سي په هغه کي شفیع د شفعي حق نه لري ځکه شُفْعَه په هغه جایداد کي راځي چي د مال په بدل کي تبادله سي .

## اجاره

د اجارې عقد هغه تړون ته وایي چي مال د منافعو په عوض کي پکښي تبادله کیږي .

منافع د منفعت جمع ده او منفعت ګټي ته وایي .

مثلا : په خیاط کالي جوړول د خیاط د لاس ګټه او منفعت دی او په کور کي اوسېدل د کور ګټه

او منفعت دی او د خیاط مزدوري او د کور کرایه بیا مال دی .

کور په کرایه نیول یا خیاط ته کالي په اجوره ورکول د اجارې تړون دی ځکه د خیاط مزدوري او د کور کرایه د کور د منفعت او د خیاط د لاس د ګټې په عوض کې تبادله کیږي .

یادونه : څوک چې د باغ میوه په درختو پوري رانیسي یا یې پر بل چا خرڅه کړي نو زموږ د سیمې خلک وایي : باغ یې اجاره کړی ، دغه تړون که څه هم خلک اجاره بولي خو شرعا اجاره نه بلل کیږي ، بلکې دا د بیع تړون دی ځکه دا مبادله د مال په مال ده او مال په مال مبادله کول بیع بلل کیږي .

کور په کرایه نیول ، په موټر کې په پیسو سفر کول ، په خیاط ، نجار او مستري یو شی جوړول په ډاکټر علاج کول ، موټروان ، میرزا او نوکر د ورځې یا میاشتې او یا د کال د پاره په نوکرۍ درول دا ټول د اجارې تړونونه دي ، که څه هم یې په پښتو کې ځیني د مزدورۍ ، ځیني یې د کرایې او ځیني نور یې بیا د فیس ، ټېکې او د مېرزایي په نومونو یادیږي ، ځکه چې په دغو

ټرونو کي مال په منافعو معاوضه کيږي .

اصطلاحات :

اِجَارَة : و بل ته يو شی په کرايه ورکول اجاره ده .

مُؤجِر : مُؤجِر هغه چا ته وايي چي و بل چا ته يو شی په کرايه ورکوي .

اِسْتِئْجَار : د بل چا څخه يو شی په کرايه اخيستلو ته اِسْتِئْجَار وايي .

مُسْتَأْجِر : يو څوک چي د بل شی په کرايه اخلي هغه ته مُسْتَأْجِر وايي ، مُسْتَأْجِر د جيم په زېر ويل کيږي .

مُسْتَأْجَر : هغه شی چي په کرايه اخيستل کيږي هغه ته مُسْتَأْجَر وايي ، مُسْتَأْجَر د جيم په زور ويل کيږي .

مثال : زيد و بکر ته کور په کرايه ورکړی ، پدې مثال کي زيد مُؤجِر دی ، بکر مُسْتَأْجِر دی او د زيد کور مُسْتَأْجَر دی .

## منفعت او اجوره

لکه څنګه چي په بيع کي د ثمن او مَبِيعِ معلومول ضروري دي دغه ډول په اجاره کي بيا

د منفعت او اجورې معلومول ضروري دي ، ځکه په اجاره کي منفعت د اجورې په مقابل کي تبادله کيږي .

که څوک سرای د يوه کال د پاره د مياشتي په لس زره افغانيو په کرايه ورکړي نو اجاره يې صحيح ده ، ځکه چي هم اجوره معلومه ده چي د کاله يولک او شل زره افغانۍ په دولس قسطه دي او هم يې د يوه کال د مدې په ټاکلو د سرای منفعت يعني د سرای هستوګنه معلومه او ټاکل سوې ده .

که څوک سرای په لس زره افغانيو په کرايه ورکړي ليکن د هستوکني مده و نه ټاکي يا يې د يوه کال د پاره په کرايه ورکړي ليکن کرايه يې معلومه نه کړي نو دا اجاره نه صحيح کيږي ، ځکه چي په اول صورت کي منفعت نامعلوم دی او په دوهم صورت کي اجوره نامعلومه ده .

## د منفعت معلومېدل

د خپلو لرګيو څخه په اجوره په نجار دروازې جوړول يا کور يو چا ته په کرايه ورکول د اجارې تړونونه دي .

په دغو تړونو کي د نجار مزدوری او د کور کرايه اجوره بلل کيږي او نجار چي د لرګيو څخه دروازه جوړوي او په کور کي چي هستوګنه کيږي هغه منافع بلل کيږي .

منفعت کله د مدې په ټاکلو معلوميږي او کله بيا د کار په ټاکلو معلوميږي .

## په کار د منفعت معلومول

منفعت کله د کار په ټاکلو معلوميږي مثلاً : يو څوک نجار ته لرګي ورکړي او ورته ووايي چي د دغو لرګيو څخه داسي دروازه په دونه اندازه راجوړه کړه يا خياط ته ټوکر ورکړي او هغه ته وايي چي د دې ټوکره څخه دا ډول کالي يا صدری راجوړه کړه ، دلته که څه هم مده نه ده ټاکل سوې خو د کار په ټاکلو يي منفعت معلوميږي نو خياط او نجار چي ټاکل سوي کارونه په هر څونه مده کي وکړي د خپلي ټاکل

سوي مزدورۍ مستحق ګرځي .

## په مده د منفعت معلومول

منافع کله د مدې په ټاکلو معلومیږي مثلاً : که څوک خیاط یا نجار ورځنی یا میاشتنی په معاش ودروي او په هغه د نجارۍ او د خیاطۍ کارونه کوي نو په دغه ټاکل سوې مده کي که ورځ وي او که میاشت وي چي خیاط او نجار هر څونه کار وکړي نو څومره اجوره چي ورته ټاکل سوې ده د هغه مستحق ګرځي .

توره مځکه د زراعت د پاره په اجاره ورکول ، سرای د هستوګني د پاره یا دوکان د کاروبار د پاره په کرایه ورکول هغه وخت صحیح کیږي چي هم کرایه او هم د کرایې مده مثلاً : میاشت یا کال وټاکل سي ، ځکه په مځکه باندي کښت کول ، په سرای کي اوسېدل او په دوکان کي کاروبار کول د مځکي ، سرای او د دوکان منافع دي او دا یوازي د مدې په ټاکلو معلومیږي .

که څوک سرای یا دوکان کرایه کړي او د هري میاشتي کرایه یي مثلاً : شل زره افغانۍ وټاکي خو دا معلومه نه کړي چي قرارداد د څو میاشتو د پاره دی ، دا تړون د یوې میاشتي د پاره

صحيح دی او په نورو مياشتو کي فاسد دی .

مُؤجِر کولای سي چي د اولي مياشتي تر پوره کېدلو وروسته مُسْتَأْجِر ته جواب ورکړي او کور په تخليه کړي .

که د قرارداد آخري نېټه هم وټاکي يعني د مياشتو شمېر يې هم وټاکي مثلاً : د اجاري قرارداد د درو کلنو د پاره د مياشتي په شل زره افغانيو وکړي بيا يې اجاره د درو کلنونو د پاره صحيح ده او مُؤجِر نسي کولای چي تر درو کلنونو مخته کور په خالي کړي .

په لومړي صورت کي چي د هري مياشتي د کرايې بلغ ټاکل سوی وو خو د قرارداد د پای مده يعني ټولي مياشتي نه وي ټاکلي سوي ، که د دوهمي مياشتي په سر کي مُسْتَأْجِر يو ګړی لا هم په سرای کي واوسي او دا پداسي حال کي چي د مياشتي د داخلېدو څخه وړاندي مُؤجِر د سرای د تخليه کولو طلب هم نه وي ځني کړی نو د دوهمي مياشتي اجاره يې هم صحيح او لازمېږي او مُؤجِر نسي کولای چي د دوهمي مياشتي د پوره کېدلو تر مخه يې د سرای څخه وباسي .

همدا ډول مياشت په مياشت د هري مياشتي په

سر کي چي مُسْتَأْجِر يوه ورځ يا يو ګړی هلته پاتيږي د همهغي مياشتي د پاره د اجارې تړون صحيح او لازميږي .

## کرايه کښني

که څوک حيوان يا موټر د بار وړلو د پاره کرايه کوي نو اجاره يې هغه وخت صحيح کيږي چي هم د بار مقدار معلوم کړل سي او هم د بار رسولو ځای وټاکل سي .

د اجارې کار په اشاره او د مسافي په ټاکلو هم معلوميږي مثلاً : پنډي يا ترانسپورټ والا ته وايي : دغه مال يا دا سامان پلانکي ځای ته وړم د پنډي مزدوري او د موټر کرايه هم ورسره وټاکي دا اجاره صحيح ده ، دلته که څه هم د بار وزن نامعلوم دی خو وبار ته په اشاره کولو او د واټن په بيانولو يې منفعت تعيين کيږي .

## د مُسْتَأْجَر استعمالونکی

که څوک سرای کرايه کړي خو دا معلومه نه کړي چي څوک به هستوګنه پکښي کوي بيا يې هم د اجارې تړون صحيح کيږي او مُسْتَأْجِر يعني

په کرایه نیونکی کولای سي چي خپله پدې سرای کي هستوکنه وکړي یا بل څوک په وړیا ډول پکښي واړوي یا یې بل چا ته په لږ یا ډېره کرایه په اجاره ورکړي .

که څوک دوکان کرایه کړي خو دا چي په دوکان کي څه کاروبار کوي هغه تعیین نه کړي د اجارې تړون یې صحیح کیږي او مُسْتَأْجِر په دا دوکان کي هر نوع کاروبار کولای سي ، آن تر دې چي بل ته یې مفت یا په لږ او ډېره کرایه هم ورکولای سي ، البته داسي کاروبار چي په هغه د دوکان تعمیر ته تاوان رسیږي لکه آهنګرۍ یا ژرنده نو هغه بیا ببله بیانولو څخه نسي پکښي کولای ، ځکه چي تعمیر په اوبو او د ماشیانو د درانه ږغ په لرزه تکاني او کمزوری کیږي ، خو که مُسْتَأْجِر د اجارې په تړون کي د همدې کارونو کول ورسره معلوم او ټاکلي وه نو بیا یې پکښي کولای سي .

که څوک مځکه د کښت او زراعت د پاره اجاره کوي باید د کرلو شی هم په تړون کي معلوم کړي او که معلوم یې نه کړي اجاره یې نه صحیح کیږي ، ځکه چي په شیانو کي فرق سته

ځيني شيان داسي دي چي مځکي ته تاوان رسوي او وروسته يې مځکه د تخمونو څخه نه پاکيږي او ځيني نور بيا مځکي ته تاوان نه رسوي .

که مُسْتَأْجِر مځکه پدې شرط ځني اجاره کړي چي هر شی د ده زړه وي نو هغه به په کري بيا هر شی په کرلای سي .

د زراعتي مځکي په اجاره کي مُسْتَأْجِر د لاري او اوبو دواړو حق لري که څه هم په تړون کي نه وي بيان سوي .

## د اجارې پر ځمکه آبادئ

توره مځکه د تعمير او نهال ايښوني د پاره هم اجاره کېدلای سي خو هر وخت چي د اجارې مده پوره سي مُسْتَأْجِر به خپل تعمير ويرانوي او نهالان به د مځکي څخه کاږي او د پخوا په شان هواره مځکه به مُؤجِر ته تسليموي .

که د مځکي څښتن پخپله خوښه د مُسْتَأْجِر تعمير او نهالان پر خپله مځکه پريښول بيا مځکه د ده او تعمير او نهالان يې د مُسْتَأْجِر دي او دا تر هغه مهاله چي د مځکي د څښتن خوښه وي يا دا چي د مځکي خاوند په خپله خوښه مُسْتَأْجِر ته د

تعمير او نهالانو قيمت ورکړي .

د نهالانو قيمت د شنو ونو په ارزښت نه ورکول کيږي بلکي د ده په مځکه کي د کښل سوو نهالانو چي څونه ارزښت وي هغونه پيسې به يي ورکوي يعني نهالان د بوټو په قيمت ځني رانيسي .

دغه ډول د تعمير قيمت هم د جوړ تعمير نه ورکول کيږي بلکي د ده په مځکه کي چي د نړول سوي تعمير د موادو څونه ارزښت وي هغونه پيسې به د دې جوړ تعمير په قيمت کي ورکوي .

## بار او سپرلۍ

د بار او سپرلۍ د پاره د حيوانانو او موټرانو کرايه کول هم جواز لري ، که د اجارې په تړون کي د موټر چلونکی او پر حيوان باندي د سپرلۍ کونکی په مشخص ډول و نه ټاکل سي نو مُسْتَأْجِر کولای سي چي موټر پخپله وچلوي يا يې په بل چا وچلوي ، همدا رنګه پر حيوان خپله هم سپربدلای سي او بل چا ته يې هم د سپرلۍ د پاره ورکولای سي .

که موټر او حیوان پدې شرط په کرایه ورکړي چې موټر به پلانکی چلوي یا د حیوان سپرلۍ به پلانکی کوي دلته مُسْتَأْجِر حق نه لري چې د ټاکل سوي نفر څخه پرته و بل چا ته يې د چلاو او سپرلۍ د پاره ورکړي ، ځکه چې د ټولو خلکو د موټر چلاو او د حیوان سپرلۍ یو ډول نه دي ځیني ماهر او احتیاط کاره وي او ځیني بیا بې تجربې یا بې باکه وي .

په داسي اجاره کي که د ټاکل سوي نفر څخه ماسیوا بل نفر د موټر او حیوان چلاو او سپرلۍ وکړي نو مُسْتَأْجِر يي ضامن ګرځي یعني د ټکر او بل هر ډول خرابۍ تاوان پر مُسْتَأْجِر راځي .

همدا ډول هر هغه شی چي د یوه او بل نفر په استعمال کي تفاوت ولري یعني د یوه په لاس کي تاواني او خرابيږي او د بل په لاس کي بیا نه زیانمن کیږي د هغه څخه هم که د تاکل سوي نفر څخه پرته بل کس کار اخلي نو تاوان يې پر مُسْتَأْجِر راځي .

مُسْتَأْجِر کولای سي چي جایداد او بل هر هغه شی چي د یوه او بل نفر په استعمال کي فرق نه لري د ټاکل سوي نفر څخه پرته بل چا ته د

استفادې د پاره ورکړي .

مثال : زید و بکر ته کور پدې شرط په کرایه ورکړ چي خپله به بکر پکښي اوسیږي ، دلته بکر کولای سي چي خالد یا بل کس پکښي هستوګن کړي ، که خالد په عادي ډول پکښي اوسېدی او کور ونړېدی پر بکر یې تاوان نه راځي ، ځکه چي په کور کي د یوه او بل هستوګنه بې تفاوته ده .

## د تړون مخالفت

که څوک حیوان یا موټر د بار وړولو د پاره کرایه کړي او د بار مقدار او نوع هم وټاکي نو مُسْتَأْجِر نسي کولای چي د ټاکلي مقدار څخه زیات بار پر بار کړي یا بل داسي شی پر بار کړي چي د هغه وړل تر ټاکل سوي شي تر وړلو حیوان او موټر ته زیانمن وي مثلاً : موټر د شلو خروارو غنمو د پاره په کرایه ورکړي نو مُسْتَأْجِر نسي کولای چي په هغه کي تر شل خرواره زیات بار یوسي یا په هغه کي ډبري یا بل زیان رسونکی شی بار کړي ، ځکه چي د ډبرو وړل تر غنمو موټر ته زیانمن دي ، البته د غنمو پر ځای که شل خرواره ورجي یا بوره

پکښي بار کړي نو هغه پروا نه لري ، ځکه چي د غنمو ، وريجو او بورۍ بار يو د بل څخه په وړلو کي تفاوت نه لري .

دغه ډول که حيوان تر يوه ټاکلي ځای پوري د شلو منو وړو د پاره کرايه کړي نو مُسْتَأْجِر کولای سي چي پر هغه باندي وړو ته ورته يا تر وړو لا هم بي ضرره شی پر بار کړي او هر هغه شی چي د بار وړل يې تر وړو تاواني او ضررناکه وي هغه بيا نسي پر بارولای لکه ډبره ، وسپنه او داسي نور درانه شيان .

که مُسْتَأْجِر پر حيوان يا په موټر کي تر ټاکل سوي بار څخه زيات بار بار کړي يا تر هغه بار بل تاواني او ضررناکه بار بار کړي نو د مُسْتَأْجَر يعني د کرايه کړل سوي حيوان او سپرلۍ د خرابۍ او هلاکت تاوان پر مُسْتَأْجِر يعني پر کرايه اخيستونکي باندي راځي .

مثلاً : حيوان يې د شلو منو بار وړلو د پاره کرايه کړی وي او بيا پر هغه پنځه ويشت منه بار کړي که حيوان د بار څخه ومړ او هلاک سو نو د اضافه بار تاوان يې پر مُسْتَأْجِر باندي د تعدي لکبله راځي چي په مخکني مثال کي د

حیوان د ارزښت شل فیصده کیږي ، خو که دونه بار پر بار کړي چي د داسي حیوانانو د طاقت څخه وتلی وي نو بیا به د حیوان د ټوله قیمت تاوان ورکوي .

## اجیر

اجیر هغه چاته وایي چي د بل کار په مزدورۍ کوي اجیران پر دوه ډوله دي :

(۱) اجیر خاص .

(۲) اجیر مشترک .

## اجیر خاص

اجیر خاص هغه مزدور او نوکر ته وایي چي د یوې ټاکلي مدې لکه ورځ ، میاشت او کال د پاره د یو چا سره مزدور سي .

اجیرِ خاص چي په ټاکل سوې مده کي ځان د مُسْتَأْجِر په اختیار کي ورکړي نو د ټاکل سوي مدې په پوره کېدلو د خپل اجرت او مزدورۍ مستحق ګرځي ، که څه هم مُسْتَأْجِر کار نه ځني واخلي او ټوله وخت یې همداسي په بیکارۍ پر تېر سي .

## د اجير خاص ضمان

د مُسْتَأْجِر شی د اجير خاص په لاس کي مضمون نه دی بلکي د امانت حکم لري .

د اجير خاص په لاس کي يو شی هلاک يا مات سي يا په کار کولو کي يو شی ځني مات يا هلاک سي د هغه تاوان پر اجير خاص نه راځي.

مثال : زيد بکر د خدمت د پاره اجير کړي او د بکر د لاس څخه د زيد ترموز ولويڼي مات سي يا يو لوښی يې په پرېوللو کي ځني مات سي نو د ترموز او لوښي تاوان پر بکر نه راځي ، ځکه چي بکر اجير خاص دی .

که بکر قصدا د زيد يو لوښی مات کړي نو د هغه تاوان پر بکر راځي ، ځکه اجير خاص که په قصد او تعدي د مُسْتَأْجِر شي ته زيان ورسوي نو د هغه تاوان پر راځي ، ځکه د مُسْتَأْجِر شی د اجير په لاس کي د امانت حکم لري ، هر هغه شی چي د امانت حکم ولري هغه په لاندي شيانو مضمون ګرځي .

اول : دا چي په ساتنه کي يې بې باکي او تقصير وکړي .

دوهم : دا چي په قصدي ډول يې تلف او خراب کړي .

دريم : دا چي د تړون د شرايطو څخه مخالفت پکښي وکړي .

اجير خاص ته په ټاکل سوې مده کي بېله خپل مُسْتَأْجِر څخه د بل چا مزدوري کول ناروا ده

مثال : زيد بکر د سهار څخه تر مازيګر پوري ورځنى مزدور ودراوه نو بکر ته په دغه ورځ کي د بل سړي مزدوري کول ناروا ده ، ځکه چي بکر اجير خاص يعني شخصي نوکر دى او د ټاکلي وخت خدمت يې د مُسْتَأْجِر دى .

## اجير مشترک

اجير مشترک هغه چا ته وايي چي يو ټاکلى کار په مزدوري کوي لکه د بازار عام کاسبان .

اجير مشترک کولاى سي چي د هر چا د پاره کار وکړي او مُسْتَأْجِر هغه د بل د کار څخه نسي منع کولاى ، ځکه چي اجير مشترک د خلکو د پاره ګډ کار کوي .

اجير مشترک چي ټاکل سوى کار وکړي نو بيا د اجرت او مزدوري مستحق کرځي .

خیاط ، حمال او ډاکټر که کارونه د ورځنۍ یا میاشتنۍ مزدوري په حساب کول نو دوی خاص اجیران بلل کیږي او د ټاکلي مدې په پوره کېدلو د اجرت مستحق کرځي .

که خیاط مزدوري د جوړې په حساب اخیستله او حمال مزدوري د من کټ په حساب غوښتله او ډاکټر فیس د معاینې او اپریشن په حساب اخیستی دلته بیا دوی مشترک اجیران بلل کیږي ، د ټاکل سوو کارو په انجامولو د اجرت مستحق ګرځي .

## د اجیر مشترک ضمان

ابوحنیفه رحمه الله علیه وایي : د مُسْتَأْجِر شی د اجیر مشترک په لاس مضمون نه دی یعني د امانت حکم لري ، په تلف او ضایع کېدلو یې تاوان پر اجیر مشترک نه راځي .

مثال : بکر خیاط دی که زید و بکر ته ټوکر د کالو جوړولو د پاره په مزدوري ورکړي او د بکر دوکان غله ووهي ، ټوکر ځني غلا کړي د ټوکره تاوان پر بکر نه راځي ، ځکه چي بکر اجیر مشترک دی او ټوکر یې په لاس کي د امانت حکم لري .

که د بکر د بې باکۍ او تعدي لکبله ټوکر تلف او له منځه ولاړ سي هلته يې بيا تاوان پر بکر راځي ، ځکه چي امانت په تعدي او تقصير مضمون ګرځي .

ابويوسف او محمد رحمهما الله تعالى وايي : د مُسْتَأْجِر شی د اجير مشترک په لاس کي مضمون دی يعني که د مُسْتَأْجِر شی د اجير مشترک څخه تلف يا خراب سي نو مُسْتَأْجِر ته به يي تاوان ورکوي ، که څه هم اجير مشترک په هغه کي تقصير او تعدي نه وي کړې ، البته که د مُسْتَأْجِر شی د اجير مشترک څخه په داسي طوفان يا عمومي اور کي غرق او وسوزي چي خلکو يې مخنيوی نسوای کولای بيا يې ضمان پر اجير مشترک نه راځي .

فتوا د يارانو پر قول ده يعني د اجير مشترک څخه که شی تلف او ضايع سي نو مُسْتَأْجِر ته به يې تاوان ورکوي ، ځکه په اوسنۍ زمانه کي خلکو تغيير کړی دی د خلکو د مالونو د خوندي ساتلو همدا لاره ده .

## د خاص او مشترک اجير فرق

د اجير خاص او اجير مشترک تر منځ فرق دا

دی چي اجیر خاص د وخت په پوره کېدلو د اجورې مستحق ګرځي او بل دا چي اجیر خاص د مزدورۍ په مده او وخت کي د بل چا مزدوري نسي کولای ، دغه ډول د مُسْتَأْجِر شیان د اجیر خاص په لاس کي د مزدورۍ په مده کي امانت غوندي غیر مضمون دي .

اجیر مشترک بیا د کار په پوره کولو د اجورې مستحق ګرځي خو تر څنګ یې د بل هر چا مزدوري هم کولای سي او بل دا چي د مُسْتَأْجِر شی یې په لاس کي د مُفتی به قول پر اساس مضمون دی .

که د دوبي څخه کالي د پرېوللو په مهال کي په ټکولو څیري سي نو مُسْتَأْجِر ته به یې تاوان ورکوي .

د حمال څخه که د ښویدلو لکبه شی مات سي یا یې د بار تړلو رسۍ وشکېږي او شی ځني مات سي نو د هغه تاوان به مُسْتَأْجِر ته ورکوي .

د ملاح یعني کښتۍ وان څخه که کښتۍ په راګرځولو کي ډوبه سي نو د مالو خاوندانو ته به د غرق سوو مالونو تاوان ورکوي ، البته که په

کښتۍ کي انسانان هم غرق سي نو د هغو تاوان پرملاح نه راځي .

دغه ډول که څوک د سپرلۍ څخه راولویږي د هغه تاوان هم پر کرایه کښ نه راځي .

که کښتۍ په طوفاني بادونو او طوفاني څپو غرقه سي هلته هم د مالونو تاوان پر ملاح نه راځي .

## د اجورې استحقاق

اجیر په درو شیانو د خپلي اجورې او مزدورۍ د اخیستلو مستحق ګرځي .

اول : اجیر مشترک چي ټاکل سوی کار انجام کړي او د اجیر خاص چي ټاکل سوې مده پوره سي نو د خپلو اجورو مستحق ګرځي باید ورته ورکول سي .

دوهم : اجیر که د مُسْتَأْجِر سره د اجارې عقد او تړون پدې شرط وکړي چي اجوره او مزدوري به تر کار دمخه ورکول کیږي بیا اجیر د ټاکلي کار او مدې څخه وړاندي د خپل اجرت او مزدورۍ مستحق ګرځي یعني اجوره یې باید د کار څخه مخکي ورکړله سي .

دریم : مُسْتَأْجِر که په خپله خوښه اجیر ته تر کار

وړاندي اجوره او مزدوري ورکړي نو بیا که څه هم اجیر مشترک تر اوسه کار نه وي انجام کړی یا د اجیر خاص د معاش نېټه نه وي رارسیدلې مُسْتَأْجِر یې بیرته د اخیستلو حق نه لري .

که اجیر مشترک تر پیشکي اجورې اخیستلو وروسته هغه په ټرون کي ورسپارل سوی کار انجام نه کړي نو مُسْتَأْجِر بیرته پیسه څني اخیستلای سي .

دغه ډول که اجیر خاص د ټاکل سوي مدې څخه مخته کار پرېږدي نو مُسْتَأْجِر بیرته خپلي پیسې څني اخیستلای سي .

## تفریعات

یو څوک چي کور په کرایه ونیسي مُؤجِر حق لري چي د هري ورځي په تېرېدلو د همهغي ورځي د کرایې غوښتنه څني وکړي ، خو که داجارې په تړون کي يې د کرایې د اخیستلو د پاره وخت ټاکلی وو مثلاً : هفته په هفته ، میاشت په میاشت یا یې کال په کال د کرایې اخیستلو وخت تعیین کړی وو بیا د ټاکل سوې نېټي څخه وړاندي د کرایې غوښتنه نسي کولای .

څوک چي د واده د ډوډۍ پخولو د پاره اشپز ودروي نو اشپز د ډوډۍ اچولو وروسته د اجرت اخیستلو مستحق ګرځي ، ځکه د ډوډۍ اچول هم پر اشپز باندي دي .

څوک چي خښت مال ته خښتي په ټیکه وکړي امام صاحب وایي : خښت مال هغه وخت د اجورې مستحق ګرځي چي خښتي په میدان کي ودروي .

یاران وایي : د میدان څخه د خښتو ټولول او وډل هم پر خښت مال باندي دي ، خو که نوموړو اجیرانو د اجارې لاسلیک پدې شرط کړی وو چي اجوره به يې د کار تر انجامولو دمخه

ورکول کيږي بيا د پيشکي اجورې مستحق ګرځي .

هر هغه اجير چي د هغه کار د شي په ذات کي اثر ښکاره کوي لکه دوبی او رنګمال نو هغه کولای سي چي د مُسْتَأْجِر شی د خپلي اجورې د لاس ته راوړلو تر وخته راوګرځوي .

که د اجير کار د شي په ذات کي اثر نه درلودی لکه حمال او بارکښ نو هغه د خپلي اجورې د پاره د مُسْتَأْجِر بار نسي راګرځولای .

## پر ګناه اجوره اخيستل

که څوک د ګناه د پاره اجير ودروي نو اجاره يې نه صحيح کيږي ، ځکه د اجارې تړون پر هغه شي کېدلای سي چي هغه په شريعت کي مُبَاح وي يعني شريعت يې د کولو څخه منع نه وي کړې .

که څوک غزلچي د غزلو د پاره په اجوره راولي يا مسلۍ د بدلو د پاره په اجوره راولي دا اجاره نه صحيح کيږي يعني غزلچي او مسلۍ د اجورې حق نلري .

دغه ډول که څوک د جادو يا د حرامو اشعارو د

تعليم د پاره استاد ودروي نو هغه هم د اجورې حق نلري .

## پر طاعت اجوره اخيستل

زموږ د امامانو په آند که څوک د طاعت د پاره په اجوره ودرول سي نو هغه د اجورې اخيستلو حق نلري .

دغه ډول هر کار چي د اجارې تر تړون دمخه پر چا فرض يا واجب وي نو د هغه کار د پاره يې اجيرتوب هم نه صحيح کيږي ، ځکه بېله اجارې څخه هم دا کار پر هغه واجب دی .

زموږ د مذهب وروستني علماء پر امامت ، آذان او د قرآن پر تعليم د اجورې اخيستل جايز ګڼي ، ځکه چي په نن زمانه کي که امام ، مؤذن او استاد ته تنخوا ور نه کول سي نو دا کارونه معطل پاتيږي او د دې کارونو په معطل پاته کېدلو دين ته ستر زيان رسيږي .

امام مالک او امام شافعي د قران پر تعليم د اجورې اخيستل جايز ګڼي ، ځکه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي : إن أحق ما أخذتم عليه أجراً كتاب الله . ( بخاري )

ژباړه : کوم شيان چي تاسو اجوره پر اخلی په هغو کي تر ټولو زيات د اجورې اخيستلو وړ د الله کتاب دی .

د قرانکريم د تعليم څخه ماسيوا پر نورو تعليماتو اجوره اخيستل د علماوو په اتفاق جايز دي لکه د ژبي ، ادب ، حساب ، ليک ، فقهي ، او حديثو ښوول ، همدا رنګه د مسجدنو ، پلانو او داسي نورو د خير د ځايونو پر جوړولو اجوره اخيستل هم جايز ده .

## د اجير د کار څخه مزد

پر داسي کار اِسْتِئْجَار نه صحيح کيږي چي د هغه څخه خپله اجير ګټه اخلي ، نو ځکه پر طاعت اِسْتِئْجَار نه صحيح کيږي ځکه دا د خپل ځان د پاره کار دی ، د طاعت ګټه خپله طاعت کونکي ته رسيږي او د خپل ځان د پاره چي څوک کار کوي نو پر هغه د بل څخه د اجورې اخيستلو حق نلري .

دغه ډول که څوک غنم وړه کوي او ژرندي والا ته يعني اجير ته يې د وړو څخه يو ټاکلی مقدار په اجوره کي وټاکي دا هم نه صحيح کيږي .

د غنمو په وړه کولو کي ژرندي والا ته د وړو څخه یو مقدار اجوره تاکل د قفيز طحان په نامه یادیږي او رسول اللهﷺ د قفيز طحان څخه منع کړې ده .

همدا ډول د کونجدو څخه په معلوم مقدار غوړو غوړي ایستل هم نه صحیح کیږي .

عمومي قاعده دا ده چي کوم شی چي د اجیر د کار په نتیجه کي لاس ته راځي د هغه څخه اجیر ته اجوره ورکول د اجارې تړون فاسدوي .

مالکیه او حنابله وايي : د اجیر د کار په پایله کي چي کوم شی لاس ته راځي د هماغه شي څخه که معلوم مقدار په اجوره کي وټاکل سي اجاره يې صحيح ده[٢٤] ، د همدې جملې څخه د کښتګرو دا تعامل هم دی چي د غنمو د لو یعني د ربېولو په اجوره کي غنم ورکوي .

## د کرايې د ځای ترمیم

د کرايې په مده کي که د کرايې ځای ترمیم ته اړتیا پیدا کړي لکه د بامو ګلول ، د لښتیو خلاصول ، د څاه او سلواغې اصلاح کول ، د

---

[٢٤] د قفيز طحان د حديث صحت د مالکيه او حنابله په آند ثابت نه دی .

برمې او د اوبو راکښلو ماشين او د اوبو پايپونه او د داسي نورو اړينو شيانو سمول ، دغه ډول که يو ځای يې ونړيږي د هغه ودانول څو ځای د استفادې وړ وګرځي دا ټول په مُؤجِر يعني د کور په څښتن اړه لري ، ځکه چي هغه يې مالک دی .

د کور څښتن د کور پر ترميمولو نه مجبوره کيږي ، ځکه د شي څښتن د خپل ملک په اصلاح او ترميم څوک نسي مجبور کولای ، خو که اصلاح يې نکړي نو مُسْتَأْجِر د اجارې د فسخ کولو اختيار پيدا کوي .

که مُسْتَأْجِر د دغو شيانو څخه يو شی په خپله خوښه اصلاح کړي نو د ترميم خرڅ يې د مالک څخه نسي اخيستلای .

که مُسْتَأْجِر د ځای د څښتن يا د هغه د ځای ناستي په غوښتنه يې ترميم وکړ بيا يې ټول خرڅ پر مالک باندي راځي .

## د ايجارې وپای ته رسېدل

د ايجارې ميعاد چي پای ته ورسيږي نو مُسْتَأْجِر به د کور يا دوکان کلی و مُؤجِر ته سپاري ، دغه

ډول د جاروکښنې کثافات به هم د کور څخه باسي

که څوک حیوان یا یو موټر په ښار کي د یو متعین ځای څخه کرایه کړي تر څو تر یو ټاکلي ځای پوري تګ او راتګ پر وکړي یا بار پر یوسي نو پر مُسْتَأْجِر لازمه ده چي په کوم ځای کي چي یې قبض کړی دی هم هلته یې بیرته مُؤجِر ته وسپاري .

که د مدې تر پوره کېدلو وروسته یې بیرته هغه خپل ځای ته ور نه ولي ، بلکي خپل کور یا بل ځای ته یې بوځي او هلته هلاک سي نو ضمان یې پر راځي ، ځکه د تړون تر پوره کېدلو وروسته یې بل ځای ته بیول تعدي ده .

## د فسخ عذرونه

د ایجارې تړون لازمي دی ، خو که فسخ کولو ته یې حاجت ومندل سي نو د عذر لکبله فسخ کېدلای سي .

عذر هر هغه پېښېدونکې پېښې ته وایي چي که د ایجارې تړون پر خپل حالت دوام ومومي نو تړون کونکي ته یې زیان رسیږي او بېله د ایجارې د تړون د فسخ کولو څخه په بل شي یې

ضرر نه دفع کیږي .

## د مُسْتَأْجِرِ عذر

مُسْتَأْجِرِ که مفلس سي یا د یو کسب څخه بل کسب ته واوړي یا د یوه ځای څخه بل ځای ته سفر کوي دا ټول د اجارې د فسخ کولو په عذرونو کي شمېرل کیږي ، ځکه په دا ډول حالاتو کي که د اجارې تړون فسخ نه کړل سي نو مُسْتَأْجِرِ ته یې زیان رسیږي .

مثال : زید د بکر څخه دوکان د دوو کلنو د پاره په کرایه ونیاوه ، شپږ میاشتي وروسته زید ډیوالي سو او کاروبار یې سقوط وکړ ، د همدې عذر لکبله زید د اجارې تړون فسخ کولای سي .

دغه ډول که زید د ټوکرانو په مارکیټ د بکر څخه دوکان په کرایه ونیاوه او د قرارداد تر پوره کېدلو دمخه زید د ټوکرانو کاروبار پرېښاوه او داسي کاروبار یې پیل کړ چي هغه پدې مارکیټ کي نه کېده نو دا هم د اجارې د تړون د فسخ کولو د عذرونو څخه شمېرل کیږي .

دغه ډول که زید د بکر څخه په کندهار کي کور د یوه کال د پاره په کرایه ونیاوه او څلور میاشتي

وروسته زید و کابل ته کوچ کاوه دا هم د اجارې د تړون د فسخ کولو د عذرونو څخه دی .

## د مُؤجِر عذر

که څوک کور په کرایه ورکړي او د میعاد تر پوره کېدلو دمخه دونه پور پر باندي سي چي ببله د دا کور د قیمت څخه یې په بل شي پور نسوای ادا کولای نو دا هم د کور د مالک یعني د مُؤجِر د پاره عذر دی چي د اجارې تړون په فسخ کړي څو وکولای سي کور خرڅ کړي .

دغه ډول که څوک سرای رانیسي بیا یې بل ته په کرایه ورکړي او وروسته په کور کي داسي عیب ورته معلوم سي چي لکبله یې سودا فسخ کولای سي نو دا هم د اجارې د فسخ کولو د عذرونو څخه شمېرل کیږي .

د حمال او کرایه کښ دا ډول ناروغۍ چي بار وړل ورته ضرر رسوي د ابویوسف رحمة الله علیه په آند په عذر کي شمېرل کیږي .

امام محمد رحمة الله علیه وایي : د کرایه کښ ناروغۍ عذر نه دی ، ځکه چي بل کس د اوښانو یعني سپرلۍ سره لیږلای سي .

# مُزَارَعَة

مُزَارَعَة ته په پښتو کي کښتګري وايي .

د مزارعي تعريف: مځکه د کښت د پاره د حاصل په يوه برخه ورکول مُزَارَعَة بلل کيږي .

مُزَارَعَة د مُخَابَرة او مُحَاقَله په نامه هم ياديږي[۲۵]

اصطلاحات :

مُزَارِع : مزارع کښتګر ته وايي دغه ډول مزارع دعامل په نامه هم ياديږي .

زَرع : زرع کښت ته وايي .

صاحب الارض : صاحب الارض د مځکي مالک او څښتن ته وايي .

مځکه د حاصل په دريمه يا څلورمه په کښتګري ورکول د ابوحنيفه رحمة الله عليه او زفر رحمة الله عليه په آند جواز نه لري[۲۶] .

مُزَارَعَة د ابو يوسف او امام محمد او نورو فقهاوو په آند جائز ده .

---

[۲۵] المزارعة شرعا : عقد على الزارع ببعض الخارج

[۲۶] ابوحنيفه او زفر د رافع بن خديج په روايت استدلال کوي : قَال رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : مَنْ كَانَتْ لَهُ أَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا أَوْ فَلْيُزْرِعْهَا أَخَاهُ،وَلاَ يُكَارِيهَا بِثُلُثٍ وَلاَ بِرُبُعٍ وَلاَ بِطَعَامٍ مُسَمًّى (مسلم )

فتوا هم د يارانو پر قول ده ځکه چي د مزارعې ټرون ته خلک اړتيا لري او همدا يې تعامل دی .

## د مزارعې رکن

مُزَارَعَة هم د نورو ټرونو په شان په ايجاب او قبول مُنْعَقِد کيږي ځکه چي رکن يې دی .

د مزارعې ټرون په ابتداء کي اجاره او په پای کي شراکت ګرځي ، ځکه که تخم د مځکي پر خاوند باندي وي نو په ابتداء کي مزارع يعني کښتګر مُسْتَأْجِر او په پای کي شريک ګرځي او که تخم پر مزارع باندي وو نو مځکه په شروع کي مُسْتَأْجَر ده يعني اجاره سوې ده خو په حاصل کي بيرته د مځکي خاوند او کښتګر يو د بل شريکان ګرځي .

## د کښت حاصلات

په کښتګرۍ کي بايد د کښت د حاصلاتو وېش د مځکي د ښتن او کښتګر تر منځ په ټرون کي ټاکل سوی وي .

حاصل به د کښتګر او د مځکي د خاوند تر منځ په مُشَاع ډول مشترک وي او د هر يوه ونډه به د فيصدۍ له مخي لکه نيمی ، دريمه يا ځلورمه

معلومه وي .

که یوه ته معلوم مقدار ونډه وټاکل سي او د هغه څخه اضافه د هغه بل د پاره وټاکل سي یا د مځکي د یوې معلومي برخي حاصل د یوه د پاره او د بلي برخي دا د بل د پاره وټاکل سي نو معامله یې تر منځ فاسدیږي .

مثال : زید بکر ته مځکه د غنمو د پاره په کښتګرۍ ورکړه ، پدې ډول چي د حاصل یو خروار غنم به زید ته ورکوي او تر خروار اضافه هر څونه چي وي هغه به د بکر ونډه وي نو دا کښتګري یې فاسده ده .

دغه ډول که زید بکر ته مځکه په کښتګرۍ پدې ډول ورکړه ، چي د مځکي د یوې معلومي برخي حاصل یې زید او پاته یې د بکر دی دلته هم تړون فاسدیږي .

دغه رنګه دا هم نه صحیح کیږي چي پروړ یې مثلا د یوه او غنم یې د بل وي .

په کښتګرۍ کي به مځکه د کښتګر په اختیار کي ورکول کیږي ، که د مځکي کار د مالک پر غاړه هم واچول سي نو تړون یې نه صحیح

کیږي .

## د کښتګرۍ حالات

د ملګرو په آند کښتګرۍ څلور حالات لري ، په درو حالاتو کي یې تړون صحیح کیږي او په یوه حالت کي یې تړون باطلیږي .

لومړی : که مځکه او تخم د یوه وي او کار او حیوان یا د زراعت وسایط پر بل وي نو تړون یې صحیح دی ، ځکه پدې حالت کي د تخم او د مځکي څښتن د کښتګر استخدام کونکی ګڼل کیږي او د کښتګر حیوان یا تراکتور د هغه د کار په آله کي شمېرل کیږي .

دوهم : که مځکه د یوه وي او کار ، تخم او حیوان د بل وي نو تړون یې تر منځ صحیح دی ځکه دلته بیا کښتګر د مځکي په یو مقدار حاصل د مځکي اجاره کونکی ګڼل کیږي .

دریم : که مځکه ، تخم ، او حیوان د یوه وي ، کار پر بل وي نو دا تړون هم صحیح دی ، خو دلته بیا د مځکي څښتن دا ډول ګڼل کیږي چي کښتګر یې د مځکي په یو مقدار حاصل اجیر کړی دی .

څلورم : که مځکه او حیوان د یوه وي او تخم او کار پر بل وي نو دا تړون یې فاسد دی ، ځکه که دا تړون د مځکي اجاره وګڼل سي نو د ځمکي پر خاوند حیوان یا تراکتور لازمول تړون فاسدوي او که تړون د کښتګر اجاره یعني استخدامول و ګڼل سي نو پر اجیر باندي تخم لازمول تړون فاسدوي .

## د فاسد تړون حکم

که د کښتګرۍ تړون فاسد سي حاصل یې ټول د تخم والا کیږي .

که تخم د مځکي د خاوند وو کښتګر ته به اجر مثل یعني د هغه د کار په پرتله اجوره ورکوي او که تخم د کښتګر وو نو کښتګر به د مځکي مالک ته د مځکي کرایه ورکوي .

## باغواني

باغواني ته په عربي مُسَاقَاة وایي .

د مُسَاقَاة تعریف : وني او باغ په بزګرۍ بزګر ته د خړوبولو او پالني د پاره پدې شرط ورکول چي حاصل به یې تر منځ مشترک وي مُسَاقَاة بلل کیږي .

باغواني هم د کښتګرۍ په شان د ابوحنيفه او زفر په آند جايز نده[۲۷]، البته د ابويوسف ، امام محمد ، امام مالک ، امام شافعي او امام احمد په آند مُسَاقَاة يعني باغ په باغواني ورکول جايز دی ځکه رسول الله ﷺ د خيبر مځکي او باغونه د خيبر يهودو ته په سم نيمی حاصل په بزګرۍ ورکړي وه او بل دا چي خلک اړتيا ورته لري ، مځکي مو ولوستل چي د کښتګرۍ او باغوانۍ په هکله فتوا د ملګرو پر وينا ده .

## مُغَارَسَة

مُغَارَسَة د نهالګيو ايښودلو ته وايي يعني دا چي څوک بل ته سپېره ځمکه تر يو ټاکلي ميعاد پوري ورکړي ، څو هغه نهالګي پر ولګوي او څه مهال چي ونې يې پر حاصل راسي نو باغ خپل منځ کي وويشي ، مثلا نيم يې مالک ته پاته سي او نيم يې بزګر ته په اجوره کي ورکړي .

مُغَارَسَة زموږ د امامانو په آند او هم د نورو بې شمېرو فقهاوو په آند جايز نه ده ، البته مالکيه يې په ځيني شرطونو جايز ګڼي .

[۲۷] عَنْ نَافِعٍ قَالَ ذَهَبْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ إِلَى رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ حَتَّى أَتَاهُ بِالْبَلَاطِ فَأَخْبَرَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ . دا حديث د ابوحنيفه رحمه الله عليه د پاره دليل دی .

# حَجر

څوک چي د يو شي مالک وي نو هغه پدې شي کي د تصرف حق لري او بل څوک يې په شي کي بې اجازې تصرف نسي کولای ، ځکه دی يې مالک او څښتن دی .

خو کله پر يو چا بنديز لګول کيږي او پخپل شي او ملکيت کي د تصرف څخه منع کيږي ، و دغه بنديز ته حَجر وايي .

هغه څوک چي پر هغه بنديز لګول کيږي او پخپل مال او ملکيت کي د تصرف څخه منع کيږي هغه ته مَحْجُورعَلَيْهِ وايي .

د تصرفاتو بنديز يا د مَحْجُورعَلَيْهِ د مصلحت او ګټي په غرض لګول کيږي يا د نورو د مصلحت او ګټي په غرض لګول کيږي مثلاً : پر ليوني باندي د تصرفاتو بنديز د ليوني د ګټي په غرض لګول کيږي ، تر څو مال يې د ضايع کېدلو څخه وساتل سي .

که رَاهِن د مُرْتَهِن بې اجازې رهن خرڅ کړي سودا يې د مُرْتَهِن پر اجازه موقوفه کيږي او دا هم يو ډول بنديز دی چي پر رَاهِن لګول کيږي ،

رَاهِن که څه هم د مرهون څښتن دی بیا یې هم د خرڅلاو څخه منع دی .

پر رَاهِن چي د رهن د خرڅولو بنديز لګول کيږي دا د مُرْتَهِن د ګټي او مصلحت په غرض لګول کيږي ، څو د مُرْتَهِن حق ضايع نسي .

## د حَجر اسباب

بنديز د کوچينوالي ، ليونتوب او غلامی لکبله لګول کيږي او دغو درو شيانو ته د حجر اسباب وايي .

## د بلوغ نښي او عمر

کوچنی نابالغه ته وايي ، هلک هغه وخت په بالغانو يعني غټانو کي شمېرل کيږي چي احتلام يا انزال ورته پيښ سي يا خپله ښځه څني حامله سي ، که دا نه وه نو بيا چي عمر يې پوره اتلس کاله سي .

نجلۍ هغه وخت په بالغانو کي شمېرل کيږي چي حيض يا احتلام ورته پيښ سي يا يې اولاد په نس سي ، که دا نه وه نو بيا چي عمر يې پوره اولس کاله سي .

ابویوسف او امام محمد وايي : که پر هلک او نجلۍ د بلوغ نښې ښکاره نسي نو چي عمر يې پوره پنځلس کاله سي هغوی بالغان ګڼل کيږي .

هلک او نجلۍ چي بلوغ ته نژدې سي نو هلک ته مُرَاهِق او نجلۍ ته مُرَاهِقَة وايي .

د مراهق او د مراهقي د بلوغ پېژندنه که ګرانه سي هلته بيا د دوی خپله وينا د بلوغ په هکله منل کيږي ، که دوی ځانونه بالغان بلل نو د غټانو په جمع کي شمېرل کيږي .

## مُمَيِّز او نا مُمَيِّز

ماشومان پر دوه ډوله دي ، يو شمېر يې هغه کم عمره ماشومان دي چي په هيڅ نه پوهيږي ، هغوی ته غير مُمَيِّز کوچنيان وايي او بل هغه ماشون دي چي په يو څه پوهيږي ، هغوی ته بيا مُمَيِّزکوچنيان وايي .

مثلا : که يو کوچنی دوکاندار ته پيسې ورکړي او دوکاندار يې په بدل کي شی ورکړي او کوچنی شی ځيني واخلي او بيا ژاړي خپلي پسې هم بيرته غواړي نو دا کوچنی غير مُمَيِّز دی ،

ځکه چي په سودا هیڅ نه پوهیږي .

د غیر مُمَیِّزکوچنی سودا او نور معاملات نه صحیح کیږي ، تر داسي بریده چي د ولي په اجازه لاهم نه صحیح کیږي .

داسي کوچنی چي هغه د دوکاندار څخه د شي د رانیولو وروسته خپلي پیسې بیرته نه غواړي هغه ته مُمَیِّز وایي ، ځکه هغه پدې پوهیږي چي مَبِیعَه د پیسو په بدل کي لاس ته راوړل کیږي .

## د مُمَیِّز تړونونه

د مُمَیِّزکوچني سودا او نور تړونونه پر درې ډوله دي .

لومړی : یو یې هغه تړونونه دي چي په هغه کي د کوچني سراسر ګټه او فایده وي نو دغه ډول تړونونه یې د ولي بې اجازې هم صحیح کیږي لکه خیرات وصیت او د سوغات قبلول .

دوهم : بل یې هغسي تړونونه دي چي د کوچني محض په تاوان وي نو هغه یې د ولي په اجازه لا هم نه صحیح کیږي ، لکه خپلي ښځي ته طلاق ورکول یا خپل مال بل ته په خیرات یا سوغات کي ورکول ، خیرات که څه هم د خیر

کار دی خو په دنیوي لحاظ يې مال د لاس څخه په وځي نو ځکه يې پر خيرات بنديز لګول کيږي

دريم : بل يې هغه تړونونه دي چي په هغه کي د ګټي او تاوان دواړو احتمال وي دا ډول تړونونه يې د ولي پر اجازه موقوفه کيږي .

## د وليانو ترتيب

ولي هغه چاته وايي چي شرعا د بل په مال کي د تصرف واک ورسپارل سوی وي او تصرف يې د بل پر اجازه هم موقوفه نه وي .

د کوچني ولي خپل پلار دی ، خو پدې شرط چي خپله ليونی او مَحْجُور عَلَيْهِ نه وي .

که پلار يې نه درلودی بيا يې په مالي تصرفاتو کي هغه څوک ولي او سرپرست بلل کيږي چي پلار يې وصي ټاکلی وي ، که د پلار وصي يې بل وصي وټاکي هغه يې هم ولي بلل کيږي .

که کوچني پلار نه درلودی او نه يې پلار وصي ټاکلی وو نو د هغه ولي بيا پلرنی نيکه يعني د پلار پلار دی ، که نيکه يې هم نه درلودی بيا يې د نيکه لخوا ټاکل سوی وصي يا د نيکه د وصي وصي يې ولي بلل کيږي .

که پلار ، نیکه او د هغوی وصیان نه وه نو بیا يې حاکم وروسته يې قاضي بیا يې د قاضي وصي ولي بلل کیږي .

د ولیانو پورتنی ترتیب د مالي تصرفاتو په هکله دی ، ځکه چي د نکاح او واده په هکله د ولیانو ترتیب بېل دی ، لکه څنګه چي مو د فقه المبتدي په دوهم ټوک کي ولوستل .

د پورته کسانو څخه پرته نور کسان لکه ورور ، اکا ، مور او د مور وصي د کوچني او لیوني د مال شرعا سرپرستي نسي کولای .

## د ولي تصرف

پر ولي باندي لازمه ده چي د مَحْجُورعَلَيْهِ په مال کي د هغه په فایده تصرف وکړي .

د مَحْجُورعَلَيْهِ په مال کي د ولي هغه تصرفات نه صحیح کیږي چي په هغه کي د مَحْجُورعَلَيْهِ تاوان او ضرر وي ، ځکه نو ولي د کوچني مال بل ته په پور ، سوغات او خیرات کي نسي ورکولای او نه يې ښځي ته طلاق ورکولای سي ځکه چي پدې کي د مَحْجُورعَلَيْهِ تاوان دی .

ولي د کوچني د پاره د بل وصیت ، خیرات او

تحفه قبلولای سي ، ځکه پدې کي د کوچني سراسر ګټه او فايده ده .

## د ولي سودا

ولي د کوچني مال د بازار په نرخ يا تر هغه په زيات قيمت خرڅولای سي .

دغه ډول ولي کوچني ته يو شی د بازار په نرخ يا تر هغه ارزانه رانيولای سي .

که ولي يو شی په غبن يسير يعني تر خپل نرخ دونه ګران رانيسي چي په عام ډول خلک پکښي تېر وځي هغه هم صحيح کيږي ، خو په غبن فاحش يعني تر خپل ارزښت يې ډېر ګران نسي ورته رانيولای .

ولي د کوچني مال په سفر کي د ځان سره وړلای سي او هم يې بل ته په مضاربت يا شراکت ورکولای سي ، دغه ډول د رانيولو او خرڅولو د پاره يې بل څوک وکَيْل هم ټاکلای سي .

## د ولي اجاره

ولي خپل تر لاس لاندي کوچنی د بل سره په دونه مزدورۍ اجير کولای سي چي ده غوندي کسان هغوني مزدوري اخلي او يا ترهغوی لا هم

زياته مزدوري ورته وټاکي ، خو په ډېره لږه مزدورۍ يي يعني په غبن فاحش يي نسي مزدور کولاى .

ولي د کوچني شى بل ته په کرايه ورکولاى سي او د بل شى بيا ده ته په کرايه اخيستلاى سي ، ځکه چي دا ټول تصرفات د تجارت سره تړلي دي او څوک چي د تجارت اختيار ولري نو هغه د تجارت سره د اړوند ټولو شيانو اختيارات هم پيدا کوي .

## د ولي نفقه

که ولي غني او بډا وو نو د يتيم د مال څخه به هيڅ هم نه خوري او که فقير وو بيا کولاى سي چي د يتيم د مال د سرپرستۍ لکبله په جايز طريقه بېله اسراف څخه څه شى ځني وخوري .

## د ولي اجازه

د ولي اجازه لکه څنګه چي تر تړون وړاندي يا وروسته په څرګنده وينا صحيح کيږي ، دغه ډول په دلالت او اشاره يې هم اجازه صحيح کيږي ، نو ځکه مُمَيِّزکوچنيان چي خپل ورځني خوراکي شيان لکه بسکوټ ، پاپړ او داسي رانيسي هلته

که څه هم د ولي څرنګه اجازه نه وي بيا يې هم سودا صحيح کيږي ، ځکه کوچني ته پيسې د همدې شيانو د رانيولو د پاره ورکول کيږي .

## د کوچني طلاق

د نابالغه کوچني طلاق نه واقع کيږي ، کوچنی که خپلې ښځې ته خپله يا د وکَيْل په ذريعه طلاق ورکړي نو طلاق يې نه صحيح کيږي ، دغه ډول د کوچني ولي او سرپرست هم د کوچني و ښځې ته طلاق نسي ورکولای .

## د کوچني اقرار

که څوک پخپله خوښه اقرار وکړي او د بل حق پر ځان ومني نو اقرار يې پر هغه حجت ګرځي او د بل حق يې پر ذمه په ثابتيږي او تر اقرار وروسته يې انکار يا پښيماني نه منل کيږي ، ځکه سړی پخپل اقرار نيول کيږي .

د کوچني اقرار ته اعتبار نه ورکول کيږي ، که کوچنی په خپله خوله اقرار وکړي چي د پلانکي پر ما دونه پيسې پور باندي دی نو د هغه پور پر ده نه ثابيتيږي .

هغه کوچنی چي په سودا پوهيږي او د ولي له

خوا د کاروبار اجازه ورکول سوې وي د هغه مالي اقرار د اعتبار وړ دی یعني که د بل په مالي حق اقرار وکړي هغه يې پر ذمه ثابتيږي .

## د کوچني کارونه

کوچني که څه هم پخپله وينا پړ او ګرم نه بلل کيږي يعني اقرار او د ولي بې اجازې تړونونو ته يې اعتبار نه ورکول کيږي ، خو د خپلو افعالو او کارونو په جزا نيول کيږي ، نو ځکه که د چا شی مات کړي تاوان به يې ورکوي .

## ليونی

ليونی هغه چا ته وايي چي عقل نه لري او وهل او ټکول کوي .

ليونيان پر دوه ډوله دي يو هغه ليونی دی چي تل ليونی وي او بل هغه دی چي کله ليونی او کله بيا په عقل او هوښ کي راځي .

دا ډول ليونی د عقلمندۍ په حالت کي د عاقلانو حکم لري ، لمونځ ، زکات ، روژه او حج باندي فرضيږي ، طلاق ، معاملات او نور تړونونه يې صحيح کيږي ، خو چي څه مهال د ليونتوب دوره پر راسي بيا د ليونيانو حکم لري حجر او

بندیز پر لګول کیږي .

لیونی د غیر مُمَیِّز کوچني حکم لري ، نه عبادات لکه لمونځ ، زکات ، روژه او حج باندي لازم دي او نه يې هيڅ نوع تصرف صحيح کيږي .

د ليوني ويناوو او تړونو ته که څه هم يې ولي اجازه ورکړي وي بيا هم اعتبار نه ورکول کيږي نو ځکه نه يې طلاق هم نه واقع کيږي .

د ليوني د ځاني او مالي کارونو د سمبالولو د پاره چي په شريعت کوم کس ټاکل سوی دی هغه د ليوني د ځاني او مالي تصرف دنده په غاړه لري ، و دا کس ته ولي وايي او د ولي تصرفات به ټوله د ليوني په ګټه وي .

ليونی هم د کوچني په شان د خپل فعل ذمه واره دی ، که د بل شی مات يا خراب کړي نو د هغه تاوان ځني اخيستل کيږي .

## مَعتُوه

معتوه هغه چا ته وايي چي د عقل د خرابۍ لکبله سم نه پوهيږي ، خبري يې ګډي وډي وي او کارونه يې فاسد او ناسم وي ، معتوه ته په پښتو کي باوله هم ويلای سو .

هغه معتوه چي باوله توب يې ډېر زيات وي هغه د ليوني او غير مُمَيِّز کوچني حکم لري ، هيڅ نوع تصرف او وينا ته يې اعتبار نه ورکول کيږي .

هغه معتوه چي باوله توب يې لږ وي يعني نيم حاله باوله وي هغه بيا د مُمَيِّز کوچني حکم لري يعني يو مخ د ګټي او فايدې تصرفات يې لکه د بل ښخه خيرات او تحفه قبلول د ولي بې اجازې صحيح او معتبر دي او داسي تصرفات يې چي هغه يې محض په تاوان او ضرر وي د ولي په اجازه لا هم نه صحيح کيږي لکه خپل مال و بل ته په تحفه او سوغات کي ورکول يا خپلي ښځي ته طلاق ورکول .

د نيم حاله باوله داسي تصرفات چي په هغه کي کېدلای سي چي ګټمن يا تاواني دي وي د ولي پر اجازه موقوفه کيږي لکه د يو شي رانيول ، ځکه که ارزانه يې رانيولی وو په سودا کي ګټمن دی او که ګران يي رانيولی وو بيا تاواني دی نو د نيم حاله باوله دا ډول تصرفات د ولي پر اجازه موقوفه کيږي .

## سَفِيه

سَفِيه هغه چا ته وايي چي په مال کي اسراف کوي او مالونه بې ځايه په داسي لارو چارو کي مصرفوي چي نه شريعت ته د منلو وړ وي او نه يې عقل مني .

داسي هم ويلای سو چي سفيه هغه چا ته وايي چي عقل لري خو د عقل په غوښتنه عمل نه کوي بلکي د هغه خلاف مالونه مصرفوي .

## د سَفِيه بنديز

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه وايي : پر عاقل ، بالغ او حر انسان باندي د پور ، غفلت او سَفَه يعني ناعقلمندۍ لکبله حجر او بنديز نه لګول کيږي ، ليکن که کوچنی بالغ سو خو بيا هم د خپل مال په اصلاح او ګټه نه پوهېدی نو هغه ته دي خپل مالونه تر پنځه ويشت کلنۍ پوري نه تسليمږي او د هغه ولي دي يې د مال سرپرستي کوي ، خو د دې سره که هغه خپله کوم تصرف پکښي وکړ تصرف يې نافذ او صحيح ګڼل کيږي او تر پنځه ويشت کلنۍ وروسته دي مال ور تسليم سي ، که

څه هم د خپل مال په ګټه او اصلاح نه پوهيږي .

دغه کس که تر پنځه ويشت کلنۍ دمخه د خپل مال په اصلاح او ګټه وپوهيږي بيا د هماغه وخت څخه يې مالونه ورسپارل کيږي .

ابويوسف او محمد وايي : پر سَفِيه باندي د هغه د مال د ساتني په سبب حجر لګول کيږي .

پر کوم کس چي بنديز ولګول سي هغه ته مَحْجُورعَلَيْهِ وايي ، د مَحْجُورعَلَيْهِ سَفِيه هغه تصرفات چي فسخ کېدلای سي لکه رانيول او خرڅول هغه يې د قِيَم يعني سرپرست پر اجازه موقوفه کيږي .

د مَحْجُورعَلَيْهِ سَفِيه هغه تصرفات چي هغه فسخ کېدلای نسي لکه نکاح او طلاق هغه يې صحيح کيږي .

سَفِيه که په داسي جرم اقرار وکړي چي لکبله يې حد او قصاص پر واجبيږي نو اقرار يې د ځان په حق کي منل کيږي .

دغه ډول د سَفِيه په مال کي زکات فرضيږي او د خپل اولاد ، ښځي او ذوی الارحام نفقه هم باندي واجبيږي ، البته قِيَم يې د مال څخه د ښځي او

اولاد نفقه او زکات ادا کوي .

## مُغَفَل

مُغَفَل ناخبره او بیده انسان ته وايي چي د بې تجربه ګۍ او ساده ګۍ لکبله د ګټي په سودا نه پوهیږي او تل په سودا کي تېر ایستل کیږي .

د ملګرو په آند پر مُغَفَل هم د هغه د مال د ساتني لکبله بندیز لګول کیږي .

د یادوني وړ ده چي پر سَفِیه او مُغَفَل باندي د امام محمد رحمة الله علیه په آند د نښو په ښکاره کېدلو بندیز لګول کیږي او د ابویوسف رحمة الله علیه په آند پر سَفِیه او مُغَفَل باندي د بندیز لګېدل یا د بندیز پورته کېدل د قاضي په حکم کېدلای سي او همدا د ابویوسف قول راجح دی .

دغه ډول د ملګرو په آند پر مدیون د داین د پور د ساتني په سبب بندیز لګول کیږي ، مَدیُون هغه چا ته وايي چي د بل پور پر باندي وي ، دَاین بیا هغه چاته وايي چي پر بل یې پور باندي وي .

د سفیه ، مُغَفَل او مدیون د حجر او بندیز په هکله فتوا د یارانو پر قول ده ، البته پر دوی باندي بندیز د قاضي په حکم لګول کیږي .

پر کوچني ، ليوني او معتوه باندي بېله د قاضي د حکم څخه هم بنديز لګول کيږي .

## نااهل کسان

پر ناپوه طبيب ، بې باک مُفتِي او مُفلِس کرايه کښ باندي هم دعامه خلکو د ګټي په سبب حجر او بنديز لګول کيږي .

ناپوه طبيب يا ناپوه ډاکټر هغه چاته وايي چي د ډاکټرۍ او طبابت اهليت ونه لري مثلاً :مريضانو ته مُهلِکه او وژونکي دواوي ورکوي ، که کله دوا د حساسيت يا کوم بل سبب لکبله پر مريض بد تاثير وکړي نو هغه يې مخنيوی نسي کولای .

بې باک مُفتِي هغه چا ته وايي چي د خپله ځانه څخه فتواوي ورکوي ، د حلال په حرامولو او د حرام په حلالولو هيڅ باک نه کوي .

مُفلِس کرايه کښ هغه چاته وايي چي ترانسپورټي امکانات يعني نقليه وسايط او پيسې نه لري ، خو د دې سره د خلکو او مالونو د حمل او نقل قرار داد د خلکو سره کوي او څه مهال چي د کوچ او انتقال نبټه پر ورسيږي نو ځان پټوي او کومي پيسې چي د وړاندي يې د خلکو څخه اخيستي

وي هغه پخپل کار کي پر کار اچوي .

په نن زمانه کي چي د حاجیانو د بیولو او راوستلو کوم خصوصي شرکتونه دي دا هم د کرایه کښانو په حکم کي راتللای سي .

ناپوه طبیب ، بې باک مُفتِي او مفلس کرایه کښ ځکه د ډاکټرۍ ، افتاء او کرایه کښي څخه منع کیږي تر څو عامه خلک یې د بدني ، دیني او مالي تاوانو څخه وژغورل سي .

## د مَدیُون بندیز

امام ابوحنیفه رحمة الله علیه وایي : پر مفلس پوروړي باندي حجر نه لګول کیږي او نه یې مال په جبر خرڅیږي بلکي د قاضي د خوا به امر ورته کیږي چي د خلکو پورونه ادا کړي .

که دی پخپله خپل جایداد او مالونه خرڅ کړي تر څو د پوروړو پورونه په ادا کړي خو ښه او که داسي و نه کړي نو بیا دي تر هغه وخته بندي کیږي تر څو چي د خلکو پورونه ادا کوي یا په جیل کي مري ، ځکه څوک چي پیسي لري او غني وي او د بل حق د معیاد تر پوره کېدلو

وروسته لا هم نه ادا کوي هغه ظالم دی او د ظالم سزا بند دی .

لیکن که هیڅ په لاس کي و نه لري او لاس تنګي يې ثابته سي بیا د پیسو تر پیدا کولو پوري مهلت ورکول کیږي .

یاران وايي : پر مَدیُون باندي که پور يې د شتمنۍ سره برابر یا زیات وو ، د پوروړو په غوښتنه د قاضي په حکم بندیز لګول کیږي او تر بندیز وروسته د هر هغه مالي تصرف څخه منع کیږي چي پوروړو يې په زیانمن کیږي ، نو ځکه نفلي خیراتونه ، مالي راکړه ورکړه نسي کولای ، البته د خپل ځان ، ښځي ، اولادونو او ذوی الارحام د نفقې خرڅ کولای سي ، ځکه د هر انسان خپلي اصلي اړتیاوي د پوروړو تر حق مخته دي .

پلار ، نیکه ، مور، انا ، بالغان زامن ، لمسیان ، وړونه خوېندي او د هغوی اولادونه ، ماما ، خاله ، اکا ، عمه ټول په ذوي الارحام کي راځي که په دوی کي یو څوک محتاج وي ، نه د خپلي نفقې د پاره شی په لاس کي ولري او نه د کار او خوارۍ توان ولري نو د ضرورت په اندازه نفقه

يې پر سرې لازمېږي .

همدا ډول که مديون پخپله خوښه خپل مالونه او جايداد د پوروړو په پور کي نه خرڅول نو حاکم يې جايداد او مالونه خرڅولاى سي تر څو د پوروړو تر منځ يې د فيصدي له مخي وويشي .

که مديون تر حجر وروسته د بل په پور اقرار وکړي نو اقرار يې د بنديز تر پورته کېدلو وروسته نافذيږي يعني اول يې د شتمنۍ څخه د مخکنيو پوروړو پورونه ادا کيږي او تر هغو وروسته يې د هغه چا پور ادا کيږي چي مديون يې د بنديز په مهال په پور اقرار کړى دى .

## مُفلِس

مفلس ديوالي ته وايي ، د مفلس مال که نامعلوم وو او پوروړو يې د قاضي څخه د بندي کولو غوښتنه کول او ده ويل چي زه مال نه لرم ، نو قاضي دي يې دوې ، درې مياشتي يا څونه چي يې لازم وبولي بندي کړي او د مال پوښتنه دي ځني کوي .

که د بند سره يې بيا هم مال ښکاره نه سو يا يې د مال پر نه درلودلو شاهدان تېر کړل نو د بند

ځخه دي خوشي او ايله سي او د ده او د پوروړو تر منځ دي خنډ هم نه جوړيږي ، دغه رنګه پوروړي به يې هم تل نه په پسې کيږي او نه به يې د کاروبار او سفر ځخه منع کوي .

که د نفقې ځخه ځه زياته پيسه وګټي هغه دي پوروړي ځني اخلي او خپل منځ کي دي د پيسو پر سر سره ويشي .

ياران وايي : که حاکم د مُفلس د ډيواليتوب پرېکړه وکړي يعني هغه مُفلس وبولي نو بيا دي قاضي پوروړي تر هغه مهاله ځني منع کوي تر ځو چي پيسې پيدا کوي او يا دا چي پوروړي يې شاهدان تېر کړي چي ده اوس پيسې پيدا کړي دي .

د فقه المبتدي دريم ټوک معاملات پر همدې ځای پای ته رسيږي ورپسې يې ان شاء الله ځلورم ټوک دی ، په ځلورم ټوک کي د قضا او ميراث احکام او مسايل بيانيږي .

# پای

د فقه المبتدي د دريم ټوک تبيض د ۱۳۹۰ کال د سنبلې د مياشتي پر دوهمه نېټه ، د چهار شنبې په ورځ ، چي د ۱٤۳۲ کال د روژې د مياشتي د څلور ويشتمي نېټې سره سمون خوري د الله په توفيق پای ته ورسېد .

و آخر دعونا ان الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام علي سيدنا محمد و آله وصحبه اجمعين .

## د تعليم الاسلام ويب پاڼي لخوا پر ليکه کيږي:

www.taleemulislam.net

# فقه المبتدي

فقه المبتـدي په پـښتو ژبه
د فقهي مسائلو د زده کړې
لپاره په څـــلورو جلدونو
کې ترتیب سوی تدریسي
کتاب دی .
لومړی ټوک : عبادات يې په
دریمه ټولــګۍ کـــې ،
دوهم ټوک : نــکاح يې په
څلورمه ټولګــــۍ کـــې ،
دریم ټوک : معاملات يې په
پنــځمه ټولــګۍ کې
او
څلورم ټوک : قضا او میراث
يې په شپږمه ټولګۍ
کې تدریسیږي.

www.taleemulislam.net










